ناول

# له درد سره مینه

لیکواله : دسکوت هینداره

نشر کونکی : خواجه زی

ناول : له درد سره مینه

ليکواله : دسکوت هینداره

نشر کونکي : خواجه زی

د ليکوالی پيل زما اول ناول له درد سره مينه

پيل 2025/ 7/5

پای 2025/11/10

[ زما خبرې ]

**اَلسَلامُ عَلَيْكُم وَرَحْمَةُ اَللهِ وَبَرَكاتُهُ،**

**په دی هیله چی روغ جوړ او صحتمنده اوسی او د عافیت جامې مو پر تن وې،**

**په لومړۍ قدم کې د خپل ربَّ ډیر شکرونه ادا کوم چې بلاخیره وتوانیدم خپل لومړۍ ناول پوره او نشر ته ورسوم، اوبیا ډیره مننه کوم له قدرمند خواجه زی صاحب نه چې زما د ناول د نشر کول یی په غاړه واخیستل،**

**همچنان مننه کوم له آغلې هوتک څخه چې ماته یی د نشر کولو لار پیدا کړه او له آغلې هڅاند څخه هم ډیره مننه کوم چې زما د ناول لپاره یی زحمت وویسته او عکس یی راته ډیزاین کړ.**

**«له درد سره مینه» یو احساساتي او ژور ادبي ناول دی، چې د یوې ساده، خو زړورې نجلۍ د ژوند واقعات، دردونه، قربانۍ او نه ویيل شوي احساسات بیانوي. دا کیسه یوازې د یوه انسان ژوند نه دی، بلکې د هغو زرګونو نجونو د زړه غږ دی، چې د ژوند له ډېرو تریخیو سره مخ دي، خو لا هم چوپ پاتې دي.**

**په دې ناول کې به د مینې ښکلا، د جدایۍ درد، د ټولنیزو فشارونو بڼه، او د امید څرکونه سره ووینئ. دلته عشق یوازې یو احساس نه دی، بلکې یو امتحان دی. درد یوازې یوه کیسه نه ده، بلکې یوه چیغه ده چې د سکوت تر شا پټه ده.**

**همداراز، پکې د وفادارۍ ژور مفهوم، د صبر عظمت، او د غرور تلونکی اغېز انځور شوی دی. دا اثر دا پیغام لري، چې انسان باید د ژوند په پرېکړو کې صبر ولري، عجله ونه کړي او د غرور قرباني نه شي.**

**زه، د سکوت هینداره، دا ناول د خپلو ریښتینو احساساتو پر بنسټ لیکلی دی. نه**

**د شهرت لپاره، بلکې ځکه چې د ادب، ليکوالي او شاعرۍ سره مې له ماشومتوبه ژوره مينه درلوده. دا مينه وه چې زه يې هڅولې يم،ترڅو خپل قلم ايسار نکړم، که څه هم ما ادبيات رسمي نه دي لوستي او ښايي زما ليکنه د ادبي معيار له پلوه نيمګړتياوې ولري.**

**درنو لوستونکو دا کوم ناول چې ستاسو په لاس کې دی دا ناول زما لپاره ډېر يو اړين او با ارزښته ناول دی تاسو به فکر کوی زه ځانښودنه کوم، خو نه زه داسې نه کوم ځکه راته مهم دی چی دا ناول ما په داسې حال کی ليکلې چې زما سره هيڅ تشويق نه وو، نه د کورنۍ لخوا او نه هم د کوم بل چا لخوا د کورنۍ ستونزو او مخالفت سره سره بيا هم زه توانيدم چی لومړۍ ناول می پوره او نشر کړم.**

**دا ليکنه زما لپاره يوازې يو ادبي اثر نه دی، بلکې زما د زړه ټوټه ده. هيله لرم چې دا ناول ستاسو له زړونو سره وغږيږي، او تاسو پکې د ژوند نوې زاويې، احساسات او پيغامونه ومومئ**

**په درنښت،**
**دسکوت هينداره**
**(د ناول ليکواله)**

《 بِسْمِ اللَّـهِ الرَّحْمَـٰنِ الرَّحِيمِ 》

......پيل .......

ځينې کيسې يوازې د مينې نه وي.....
ځينې کيسې د سترګو له اوښکو، د زړه له زخمو،

او د چوپ پاتې خو ژوندي احساساتو نه جوړې وي.
دا کیسه د هغو زړونو ده چې مینه یې وکړه،
خو بدل یې درد، انتظار، او چوپتیا وه...
هلته چې فرید د تقدیر ترخه پیاله وڅښله،
او آیت د زړه مینه د قربانۍ پر اور وسوزوله.
خو ژوند تل یو شان نه پاتې کېږي...
ځینې مینې، که هر څو هم وځورېږي،
بیا هم د تقدیر له کوڅو تېرېږي،
او بالاخره یو بل ته رسیږي.
فرید او آیت، چې د درد له لارې تېر شوي وو،
بیا سره ولیدل...
او دا ځل، نه درد غالب شو، نه فاصله...
یوازې مینه پاتې شوه، یوه ژوره، رښتینې او پاکه مینه.
دا د مینې هغه پاڼه ده،
چې هر لیک یې له درد، خوښۍ، او امید سره ولیکل شو...

...... آیت .......

زمونږ کلی یو ډیر ښکلې کلی وو شنه پټی ښکلې رنګارنګ ګلان غواګانې ګودر خُلاصه خلک به په زراعت او مال داری مصروف ول او خپل ژوند به یې تیرا وو زه به هره ورځ سهار لخوا ګودر ته تلم سهار به یوازې تلم او مازدیګر به می ښکلې ځان سینګار کاوه او د ملګرو سره به تلم د کلی ټولو انجونو به همداسې کول ژوند په ډیره خوشحالې او خوښې سره روان وو زه د یو غریبی کورنې نه وم خوو ژوند مو ډیر په سکون تیریده ښکلې هوا وه او ژوند به مو په سکون تیراوه

مور : هله لورې پاځه د سهار لمونځ وکړه هله لورې پاځه

آیت : اه موری لا وخته دی پریږده چې ویده شم وروسته راته غږ وکړه ډیر خوب راځی!!!!

مور : نه لورې پاځه لمونځ وکه وګوره قضا کیږې بیا خو دکور کارونه هن ستا په سر دې او پلار سره به پښتو ته هم ځې

آیت : څه !!!!! پلار می ومنله چی زه ورسره کار وکړم سمه ده لمونځ همدا اوس کوم

مرجان : هو لورې وی منله خو تر هغه وخته چې ورور دې راځې چې ورور دې راشی نو بیا به یې هغه کوی

آیت: سمه ده مورې...... مورې! ته خو پوهیږې چې ځکه می پلار ته وویل چې کار درسره کوم پلار جان مې ډیر ضعیفه شوی

مور : هوو لور جانې پلار دی ناروغه دی او ته ډیره میړنی لور یی چې له خپل پلار سره کارکوی

پاځیدم او لمونځ مې وکړ او بیا لګیا شوم او جار ( انګړ ) می چارو کړ د سهار چای می دم کړ دستارخان می هوار کړ او دچای په ځښلو باندې لګیا شوو
پلار: آیت لورې ما ته نه پرښودلې چې له ما سره کار وکړی اوس هم وایم ته ماسره پټو ته مه ځه زه په یواځې ځان کار کولې شم
آیت : نه پلاره زه له تاسره کار کوم ګوره پلار جانه د کلی ټولو خلکو سره زامن کار کوی او بیا احمد ورور خوو هم نشته پاکستان کې دی بېچاره په درس کې مصروفه دی نو زه به له تا سره کار کوم چې ډیر ستړی نشې

پلار : نه لور خلک به څه وایې چې پیغله لور یی په پټو کې کار کوی

آیت :دخلکو پروا مه کوه چې څه وایی او څه نه وایی چې ویل می کار کوم نو کوم یی

پلار : ولا څه ووایم لورې سمه ده خوو تر هغه وخته چی احمد راځې

آیت : سمده پلار جان زه اوس د ګودر نه اوبه راوړم بیا به لاړ شوو

دستارخان مې ټول کړ بیا لاړم ګودر ته اوبه می راوړلې او دکور ځینې کارونه مې خلاص کړل او بیا له خپل پلار سره پټو ته لاړم ډیرر کار مو وکړ ډیره ستړې شوی وم او لمر هم ډیر تیز وو له ستړیا او تندې می سوتونې وچ شوو ساه مې لنډه لنډه کیده څکه لومړۍ ځل مې وو چې په پټو کې کار کوم نو غوښتل مې چې پلار ته ووایم چې زه نور کار نشم کولې چی مخ می ور تاو کړ نو پلار مې په ناروغه ځان لیګا او کار یې کاوه د پلار په لیدو مې ډیر طاقت پیدا شوو او په کار لیګا شوم بیا د هغه بل ځل په شان ستړې نه شوم ځکه هر ځل به چی ستړې شوم پلار ته به مې کتل او د پلار په لیدو می طاقت ډیریده په دې وخت کې د حمیرا خوسر چی زما د پلار ملګری وو راغې حمیرا به هر مازدیګر ګودر ته راتلله ما پیژاندله....

هاشم : السلام علیکم ګل آغا څنګه چل دی

پلار : وعلیکم السلام هاشمه ستړې مشی وروره څنګه یی

هاشم : الحمدالله ښه یم وروره ته څنګه یی

پلار : زه هم ښه یم دالله پاک رحم دی ستاسو خیر غواړو او دا راته ووایه چې څنګه مونږ دریاد شوو

هاشم : مننه ولا زوی مې فرید له پوهنتون نه فارغه
شوو او کلی ته را روان دی او هغه وریره مې نه وه
هغه مې ورته په نوم کړې وه په ماشومتوب کې چې راشې د خیره ګوژده به یی
وکړو

پلار : مبارک شه وروره خو دا په ماشومتوب کې د یو بل په نوم کول ښه کار نه دې وروسته ډیر ستونزې جوړوې

هاشم: نه ولې به ستونزې جوړوې زه په خپل زوی باور لرم

پلار : مقصد بله ورځ درته مشکل جوړ نشې

هاشم : نه جوړیږي وروره په ما هم تادې ده لږ کار لرم او تا به هم له کار نه وباسم

پلار : راځه زما سره چای وڅښه خوشحاله به شم

هاشم : خیروسې وروره او دا انجلې څوک ده ومې نه پیژانده

پلار مې وخندل او وویل

پلار : دا مې لور ده راته یې ویل چې زه درسره کار کوم ته ستړې کیږې

هاشم : ماشاءالله ډیره میړنې لور لرې له سلو زامنو درته ښه ده

بیا یې ماته را وکتل او وی ویل

هاشم : آفرین لورې ډیره بختوره یې چې د پلار دعا اخلې آفرین

آیت : مننه کاکا جان

هاشم : الله حافظ وروره بیا دګوڅدنې کې را غوارم چې ضرور راشې

پلار : ضرور إن شاء الله

هاشم: الله په امان

پلار : په خیر لاړ شې

هاشم کاکا روان شوو او مامې پلار ته وویل

آیت :  پلاره هماغه هلک ښایې چی د یوسف لور یی ورته په نامه کړی

پلار : هو لورې هماغه هلک ښایې ډیر ښکلې هلک دی او ماشاءالله دطب له پوهنځی نه هم فارغه شوو اوس را راون دی او ګوژدن ورته کوې

آیت : ښه پلاره اوحمیرا هم ښایسته انجلې ده ګودر ته راځې ما لیدلې

پلار : هو لورې ښه به وې خو زه دی ته خفه یم که چیرې هلک په بله انجلی مین وی
یا مین شې دوی به
څه کوې په ماشومتوب کې د یوبل په نوم کول ښه کار نه دې

آیت : مونږ یې سه کوو خپل کار یی دی څه سر ورباندی خوګوې او هلک به ولې بله انجلې خوښه وی خه پوهیږې چې یوه انجلې ورته په نامه ناسته ده داسې انسانان زه فکر نه کوم که میئن شې

پلار مې  وخندل او وی ویل

پلار :  خبره دی سمه ده خوو مینه دې ته نه ګورې چې زه ګوژدن شوی یم وادہ شوې یم غریب یم مالداره یم مینه هیځ شې ته نه ګورې او مئین د هیچا خبره نه آورې یوازې خپله آورې.

آیت:  یعنې مینه دومره خود غرضه وې او دومره لیونې وې

پلار :  نه لورې مینه خود غرضه نه وې انسان مجبوره کوې چې خود غرضه شې ښه ته دا خبرې  اوس پریږده او ګوره چې مازیګر شوو هله ته کور ته لاړه شه

په دی وخت کې یې د مازدیګر آذان وکړ او پلار مې جومات ته لاړ ما هم د پېتو سامان را تول کړ او د کور په لور روانه شوم

کوته چې ورسیدم نو کالې مې بدل کړ اودس او لمونځ مې وکړ اومورته می وویل

آیت : موری زه ځم ګودر ته څه ته خو اړتیا نه لرې

مور : نه لورې په خیر لاړه شې

زه هم لاړم سترګې مې نرې تورې کړی مخ او لاس
ونه می غوړ کړل او د ګودر په لور روانه شوم ځکه ټولې پیغلې وو او هر چا به
کوښښ کاوه چې ښکلې ښکاره شې

له کور نه ووتلم له لږ مزل وروسته مې مروا ولیده سلام مې پرې واچاوه .

آیت : سلام مروا خورې څنګه یی

مروا : وعلیکم سلام ښه یم ته څنګه یی

آیت: زه هم ښه یم خیروسې

مروا : آیت خبره یې چې د حمیرا ګوژدن را راوان دی
وایی چې راشې ګوژدن به ورته کوې

آیت : خبره یم په ټول کلی همدا خبرې روانې دی

مروا : هوو آیت خورې حمیرا ډیره بختوره ده چې
خاوند یی ډاکتر دی او ډیر ښکلې هم دی

آیت : تا لیدلې دی؟

مروا : هوو څو کاله مخکې فرید  زمونږ ګاوندی وو هغه بل کور کې چې وو بیا یې خپل کور جوړ کړ او له دی ځای نه یې ګډه وکړه

آیت : خه څه دا خبرې پریږده او دا راته ووایه چې نور انجونې چیرته دې

مروا : واې هغوی به ګودر ته رسیدلې هم وی او مونږ دلته کیسې کوو راځه چې ځو

مروا زما ډیره ښه او زما نږدې ملګرې وه ډیره ښه او اخلاقې انجلې وه تل به یې له ټولو انجونو سره ښه رویه کوله خلاصه د ګودر لاره مو ونیوله مونږ
چې کله ګودر ته ورسیدو نو سهیلا وویل

سهیلا  : هله ښایسته انجلې هم راغله او وه ښایستې دا دومره ناوخته مو ولې کړل

آیت : د مروا سره په کیسو شوم

سهیلا:  خبرې استی انجونو د حمیرا ګوژدن را راوان دی چې راشې د حمیرا ګوژدن ده

آیت :  هوو خبرې یو په کلی کی همدا  یوه خبره  چلیږې .

څه ساعت وروسته  حمیرا راغله  ښه ښایسته
ځان یې سینګار کړې وو ډیره خوشحاله ښکاریده چې سهیلا ورته وویل

سهیلا : وه انجلې دا څنګه مسکې مسکې کیږې خیریت خوو دې

ماته یی سترګک وواهه

حمیرا  : نه هسې تاسو ته داسې ښکارې

په دی وخت کې مروا پرې غږ کړ

مروا : خود به خوشحاله وې جانان یی را روان دی دا خوشحاله نشې مو څوک خوشحاله شې

مونږ ټولو په لوړ آواز وخندل چې بیا حمیرا وویل
حمیرا : داسې کومه خبره نه ده

که څه هم حمیرا ډیره مغروره وه خو د نورو ورځو
په ځیر یې په هر خبره جنګ نه کاوه کنې سهیلا به لا څه نه وه ویلې چې حمیرا به ورسره په جنګ شوه حمیرا دومره مغروره وه چې خبرې به دی ورسره کولې ځواب به یې نه درکاوه او د نورو انجونو پر خلاف ژر ژر به یی منګی ډکاوه او ژر به تلله ..
نن یې په آرامه آرامه منګی ډکاوه منګی یې ډک شوو نو روانه شوه له مونږ سره یې نور مجلس ونه که کله چی روانه شوه زمونږ د ټولو آواز پورته شو

--اووووو

مروا : انجلې خوو وشرمیده

بس د پیغلو مجلس وو د کلی انجونې وې ډیر خوند یی کاوه ټولو په خوشحالې منګي ډکه ول چې ما کله نظر په وفا ولږیده نو ډیر بد بد یې راته کتل
ځکه څو ورځې مخکې د وفا کورنۍ زما د غوښتلو لپاره راغلې وو او مونږ ورته انکار کړې وو له هغې ورځې وروسته د وفا چلند هم زما سره بدل شوو
وفا په همدې بد بد کتو کې ماته وویل

وفا : آیت کمه مرګه خو به درپسې نه وی راغلې

آیت : دوه درې مرګې راغلې وی خو زما پلار ورته انکار وکړ

وفا : خو ورکړې به یی وی څه درباندې کوی

ماته هم غصه را غله او ورته می وویل

آیت : پلار مې ویل چې دا ستا لایقه نه دی او زه هم د پلار یوه لور یم غوارې په ډېر ښه ځای کې مې ورکړی

ددی خبرې سره انجلې غلې شوه او بیاتر آخره بیا غلې  وه شازیه وویل

شازیه : انجونو دعا کوی چې ما د ابراهیم کاکا زوی ته ور نه کړې ولا چې ډېر بدرنګه دی

مورږ تولو په لوړ آواز وخندل  شازیه په غصه شوه او وی ویل

شازیه : ولی خاندې هاا الله دی تاسو تولو ته بدرنګ بدرنګ میړونه درکړې

بیا زمونږ د خندا آواز پورته شوو
شازیه ډیره له زړه پاکه او ساده انجلی وه تل به یې مونږ خندولو

په دی وخت کې هوسی راغله د نورو ورځو پر خلاف ډیره ناوخته راغله هوسی ډیره خوش طبیعت جلې وه د حمیرا ایندرور راته هوسی راغله په تولو یی سلام واچاوه

هوسی : السلام علیکم خویندو څنګه استی نن راباندې ډېر ناوخته شوو خبرې به استې چې ورور می را روان دی

آیت : وعلیکم السلام خبر یو ګرانې اوس دی منګۍ ژر ژر ډک کړه وګوره اوس به ماښام شې
هوسی :  په سترګو

سهیلا هوسی ته وویل

سهیلا  : دا بد اخلاقه دی ورندار کیږې خوشحاله یی

مروا : دا نو څنګه پوښتنه ده سهیلا داسې پوښتنې له چا مه کوه

هوسی : نه نه کومه خبره نه مروا جانې ښه پوښتنه یی وکړه

ولا سهیلا سه ووایم ډیره خفه یم حتا مور مې هم خفه ده حمیرا ډیره بده ژبه لرې څنګه به ورسره وخت تیره وو

سهیلا : الله دی په تاسو رحم وکړې ډیره بده ژبه لری په ورور بیچاره می دی زړه سوځی څنګه ښکلې هلک او څنکه ښځه یی ده

هوسی : بس الله دی رحم وکړې چی یو دوه شپې مو ورسره تیرې شې دا دی زما منګی هم ډک شوو او ډیر نا وخته دې

آیت : هو ولا ماښام نشې راباندې ځې چی ځو .

مونږ تولی د خپلو کورنو په لور روانې شوو

کور ته چې ورسیدم نوو پلار مې نه وه سودا پسې تللې وو او مور مې ډوډی پخوله سلام پرې واچاوه

آیت : السلام علیکم موری زه راغلم

مور : وعلیکم السلام لورې په خیر راغلی

لاړم منګی مې په خپل ځای کیښوده او لوپټه له سر نه لرې کړه
اولاړم کوټې ته چې مور مې د ډوډی پخولو نه اوزکاره شوې وه زه هم ورسره کیناستم
مور : آیت نن دی ترور راغلې وه ستا د
غوښتلو لپاره د فرهاد لپاره دی غواړې څنګه خوښه دی ده

آیت : پلار مې څه ویل

مور :  پلار دی هم فرهاد خوښ شو ویل یی ښکلې هلک دی او محصل هم دی لور راتلونکې به دی روښانه شې څنګه دی خوښه ده

آیت :  مورې ماته وخت راکړه زه به فکر وکړم بیا یی درته وایم

فرهاد ښه هلک وو ښکلی هم وو ډیر با آدبه وو
شپې مې زر رقمه سوچونه وهل خوب نه راته هم دې فکرونو کې وم چې فرهاد قبول کړم کنه او نه پوهیدم چې د دُنیا تر ټولو بده پریکړه کوم که ښه نه پوهیدم په دوو لاو کې بنده وم

........فرید .........

له ډیرو درسونو او زحمتونو له ډیر شوګیرو وروسته  بریالی شوم چی خپل موخې ته ورسیږم او الحمدالله د دطب له پوهنځۍ نه په اول نمبر کامیابه شوم
او پریکړه می وکړه چی کلې ته لاړ شم او له څو کلونو ورسته خپله کورنۍ ووینم پلار ته مې زنګ وواهه او روته مې وویل چې زه کلی ته درځم او د خپلې بریا په هکله مې هم ورته وویل پلار مې ډیر خوشحاله شوو
خوشحاله وم چې کلی ته ځم خوو خفه په دی وم چې له حمیرا سره به ګوژده کوم ډیر خفه وم چې داسې انجلې زما ژوند ته راځې خو مجبوره وم ځکه حمیرا له ماشومتوب نه زما په نوم وه او زه هم تر اوسه په چا مئین شوی نه وم لاړم خپل اتاق ته خپل سامان مې راټول کړ او ویده شوم چی سبا سفر لرم.

........حمیرا..........

له ګودر نه به هر ورځ وخته کورته را تلم د هغی کلی انجونو مجلس می نه خوښیده ځکه تولې راته هسې غریبې غریبې ښکاریدې او له غریبو خلکو سره خبرې کول مې نه خوښیدل ځکه زه له هغوی نه ډیره پورته وم فرید ډاکتر وو نو دوی راته ډیرې ښکته ښکاریدې په دوی کی یوه انجلې وه چی نوم یی آیت وو ډیره ښکلی وه همیش مې ما غوښتل د کلی ښکلی انجلی اوسم خو نه کیدم ځکه زمونږ په کلی کې آیت تر ټولو ښکلې وه اوس می ګوژده وه او ما باید ډیر کوښښ کړی وی چی له ټولو ښکلی شم حتا د آیت نه خو امکان یی نه درلوده

.........فرهاد ...........

مور مې راته زنګ وواهه

مور: السلام علیکم زویه څنګه یی درسونه دې څنګه ده

فرهاد : وعلیکم السلام مورګی ښه یم شکر درسونه می خلاص شول اوس رخصت راکوې او څه وخت
وروسته درځم کلی له خیره

مور : الله خدایه زر واری شکر چی زوی مې کامیابه شوی زویه ته چې راشې نو ګوژده به درته کوو

فرهاد : څه مورې ګوژده! راته کوی داخو سمه ده خو څوک راته کوی

مور : زویه هغه د مرجان ترور لور دی نه آیت هغه مې درته اوغوښتله

له خوشحالی مې ژبه بنده شوه ځکه آیت ډیره زیاته ښکلې وه له مخکی پرې مئین وم له پخوا نه مې خوښه وه

مور : هيلو زويه لکچې آيت دی نه ده خوښه

فرهاد : نه نه نه مورې ډيره مې خوښه ده له پخوا پرې مئين وم خو.......خووو.....هغه........

مور : څه دغه دغه کوی له ما نه ولې پټه کړې وه هاااا زه به ډيره خفه شوې وم ؟

فرهاد : نه داسې نه ده مورې تاسو ته مې نشوه ويلې چې مئين پرې يم ويريدم چې انکار ونه کړې

مور: نه زويه ولې به مې انکار کاوه مور او پلار تل د اولاد د خوښې پرته نه بل هيڅ شی هم ارزښت نه لری

فرهاد : مننه خوږې مورې

مور : قربان مې له بچی شم اوس ويده شه نا وخته دی الله په امان

فرهاد : دالله په امان

له ډير خوشحالی خوب نه راته لاړم او دوه رکعته شکرانه لمونځ مې وکړ هههه ډيره بل رنګ حالات کې وم له خوشحالی نه په جامو کی نه ځايدم
هغه خبره ريښتيا ده چی ريښتنې مينې منزل ته رسيږې او له ځان سره مې وعده وکړه چې خپله آيت به زه هيڅ کله نه خفه کوم

.......آيت ........

له ډيرو سوجونو وروسته مې پريکړه وکړه چې فرهاد قبول کړم خوو نه پوهيدم چی د ژوند تر ټولو غلط پريکړه مې کړې که ښه په ياد می نه دی چې څخ ږخن ويده شوې يم

لیکواله : د سکوت هینداره

.......فرید ........

له خوب نه راویښ شوم د سهارچای مې وڅښه او بیا لاړم حمام مې وکړ او له هغې وروسته بیا لاړم تر څو ټیکټ واخلم لاړم کمپنې ته د لسو بجو ټیکټ یې راکړ او زه هم لاړم اتاق ته نرځو ځینې کارونه خلاص کړم ځکه تک ته لا یو ساعت پاتې وو لومړی لاړم له ملګرو سره می خدای په امانې وکړه ځکه تقریباً له شپږو کالو ورسره آشان وم او دی شپږو کالو کې مې داسې ملګری پیدا کړل لکه ورور ما ورورنه درلود خو ملګری دی ژوندی وې هیځکله می هم د ورور کمې محسوس نه کړ ډیره راته سخته وه چې خدای په آمانې سره واخولو خلاصه له خدای په آمانی وروسته مې ځینې سامان وو چې باید خپل څښتن ته مې سپارلې واې خلاصه لس بجې شوې خپل بکسونه مې را واخیستل

او روان شوم لاره ډیره اوږده وه د کندهار لاره وه ډیره وه نوو ما هم په موبیل کې ځان مصروف کړ تر خوو وخت لږ ژر تیر شی له ډیر مزل وروسته کندهار را ورسیده له موټر نه ښکته شوم چې ګورم یو بوډا ناست دی او سوال ټوله وی زه هم لاړم یو څه پسې مې ورکړې واقعاً زړه مې ډیر سخت درد وکړ مجبورې هم ډیره سخته ده چې په همدې کې مې حمیرا په یاد شوه نو ځان سره می وویل ته هم مجبوره یی له تاسره به څه کیږې فریده ! د کلی لاره می ونیوله له لږ مدار وروسته زمونږ کلی راورسیده...

.......حمیرا...........

وااای نن فرید را راوان وو څومره چې مې له وسی کیده ځان می ښکلی کړ .. ښکلې جامې چې نوې مې جوړې کړی وی نن ګودر ته هم نه تلم ځکه چې زما فرید را روان وو ما فکر کاوه چې فرید سره مینه لرم

خلاصه په ځان مې ښه خواری وکړه

...... آیت.........

له خوب نه راجیګه شوم او د کور کارونه نه ورسته مې چای دم کړ سر می ډیر درد کاوه ځکه د شپې مې ډیر سوچونه کړې وو ددی وجه وه  که بله وجه نه پوهیږم دسترخان می هوار کړ او د ناشتې په خوړلو لیګا شوو چې پلار می راته  وویل

پلار : آیت لورې غواړم یو څه درته ووایم

آیت : هااا پلاره څه مو ویل

پلار :  ګوره لورې هره انجلی یوه ورځ نه یو ورځ واده کوی او خپل ژوند جوړه وی ته خپله هم هوښیاره انجلې یی ترور دی راغلې وه  ته یی د فرهاد لپاره غوښتلې زما خوو خوښه ده فرهاد ډیرر ښه هلک دی ستا څنګه خوښه ده کنه

آیت : ولا زه څه ووایم څنګه چې تاسو مناسبه ګڼې
نه پوهیدم چې دا پریکړه اوس ښه ده که بده بس نو ومې کړله

پلار : آفرین لورې زه پوهیدم چی انکار نه کوی فرهاد ډیر با آدبه او ښه هلک دی او ماشاالله تعلیم یافته هم دی یو کال یی پاتې دی د زده کړو یو کال وروسته به انجینر وی إن شاء الله

مور : إن شاء الله

ما می پلار ته وویل

آیت : پلاره زه اوبه راوړم بیا به لاړ شو پټو ته

پلار : سمه ده لورې لاړه شه

د تل په ځیر مې کارونه خلاص کړل او دپلار سره پېښو ته روانه شوم

...... فرهاد ......

شکر خدایه هیځکله هم دومره په خوشحالی له خوب نه نه وم راویښ شوی خو نن ډیر خوشحاله وم چې بل آخره زما جانان زما شوو خلاصه په خوشحالې خوشحالې د ملګرو خواته لاړم

فرهاد : السلام علیکم ملګرو

سیاوش : وعلیکم السلام وه هلکه فرهاده دا څنګه خوشحاله یی

نه می شوو کولې خپله خوشحالې پټه کړم بې اختیاره می په شونډو مسکا راتله

فرهاد: زما ګوژده ده له جانان سره ښکلی جانان سره زما د زړه جانان سره !

سیاوش : وائ هلکه دا جانان دی له کومه که او دا له مونږ نه دی ولې پټه کړې وه اوس پوهه شوم چی هغه شعرونه دی چاته لیکل

لږ مسکې شوم او ومی ویل

فرهاد : د زړه مینه خلک پټه کوی پوهه شوی

سیاوش : خه دا خبری پریږده او په دی خوشحالې کې مونږ ته شرینې را کوب هله! شابه شرینې

عمر : بلکل دی صحیح وویل نن به دا پېټ عاشق تباه کوو
مامی خپل جیوبونه کلک ونیول او ومی ویل

فرهاد :  رحم وکړی ملګرو لږ د ملګرتیا لیاظ خوو وکړی

سیاوش : تا به د ملګرتیا لیاظ کړی وو او مخکې به دی دا هر څه ویلی وو پېټ عاشقه !!!!

فرهاد : خدایا خیر کړی

په ویلو مې منډه کړه خوو هغو ډیر تیز ول وینولم او هوټل ته یی کش کړم پوره د 5000 زره روپو خوراک یی وکړ او بیرته د اتاق په لور روان شوم او لکه می چې جیب ته لاس کړ شل افغانی پاتې ومې خندل
او له ځان سره می وویل بیا به خرچه غوښتل وی
ډیر خندونکې حالت وو سیاوش او عمر زما ډیر ښه ملګری وو تل به یی راسره ټوګې ټکالې کولې ...

.......فرید ........

کلی ته ورسیدم تقرباً مازدیګر وو کلی مې له ډیرو کلو نو وروسته ولیده ډیر ښکلی شوی وو د کلی له لیدو تیر شوم او د کور لاره مې ونیوله د ګل آغا  کاکا سره مخ شوم
ګل آغا : ستړی مشې فریده  زویه ښه راغلاست کلی ته
راغاړی ووت ماهم غاړه ورکړه او ومی ویل

فرید:  خیروسې کاکا جانه ستاسو دعا سره لاړم او ستاسو دعاګانو سره راغلم

ګل آغا: اللّه دی تل آباده او خوشحاله لره زویه کامیابه اوسې

فرید : مننه کاکا جانه

په یوی انجلۍ می سترګې ولیږدې چې مخ یی ټول پټ کړی او یوازې یی سترګې ښکاربدی ډیرې ښکلیې غټیې سترګې یی درلودې چې اوږده ګڼه باڼه ترې را تاو وو ددی انجلۍ د سترګو په لیدو مې زړه درزا ډیره شوه نه پوهیږم ولې بل رنګه احساس مې کاوه او فکرمې کاوه چې کنګس شوم  او یو فکر مې په سر کې غږیده چې فریده مئین پرې  شوي او دا د مینې لومړۍ سترګو جنګ دی او مئین شوي خو نه زه باید مئین نه شم ځکه حمیرا راته په تمه ده داسې احساس می کله هم نه وو کړی ما ښکلې انجونې ډیرې په پوهنتون کې  لیدلې وی خوو د هغو ښایست مې زړه ته  نه وو پریوتلې خو ددی انجلۍ یوازې سترګو په نظر ددی ښایست زما زړه ته پریوت او زړه درزا می ډیره شوه؟ ځان ته حیران شوم
زه له په همدی کشمکش کی وم چی ګل آغا کاکا را باندې غږ وکړ په غږ یی د خپل خیالونو نړۍ نه راووتم او په ځان شوم له ګل آغا کاکا نه می رخصت واخیست او روان شوم د کور په طرف د هغې انجلۍ په یاد راوړلو مسکې کیدم او دا بیت می خولې ته راغلې

له غټو سترګو دې قربان شم~
چې اړوی له ما یوسې غمونه

بیا می نه له ځان سره وویل

نه! نه.. نه نه!! فریده! هوښیار شه حمیرا تاته په نامه ناسته ده نه زه څوک په ټپو کې نشم یادولې  نه شم ویلې.. نه پوهیږم چې لاره څنګه خلاصه شوه کور دروازه مې وټکوله ....

......آیت........

لاړو پېتو ته تر مازديګره هلته وو  کار مو خلاص شوو او د کور لاره مو ونيوله په لاره روان وو چې يو ښکلی ډير ښکلی ځوان زمونږ خواته رانږدې  شوو او زما پلار ورسره ستړی مشې وکړل داچې زما پلار ورته وويل چی فريده زويه په خير راغلیې!  نو پوهه شوم چی د حميرا خاوند دی خوو ولې د فريد په ليدو می بل ډول احساس وکړ او له ځان سره می وويل چی ما بايد فرهاد نه وی قبول کړی او انکار می کړی وای خو ولې زه د فريد په ليدو داسې شوم  په مايی څه ښکلی چې دی ښکلی دی وی خو ولی ما غوښتل  يوازې فريد ته وګورم نور  هيڅاته هم نه بل رنګه مې په سترګو ښه ولګيده خوو ولې په همدې سوچونو کې وم  چې فريد ته می پام شو هغې هم ماته کتل د دواړو سترګی سره جنګ شوی کله چې ما ور وکتل نظر يی رانه واخيسته هغه لاړه او زه په خيالونو نړی، کې ډوبه شوم چې فريد وی او زه يم يو باغ وی او له يو بل سره خبرې کوو هغه راته وايی چی مينه درسره لرم زه هم يوه ژروه ساه اخلم او وايم چی زه هم......... چې پلار می را باندې غږ کړ

ګل آغا :  آيت لورې ولې ولاړه يی راځه چی ځو

آيت  :  څه ........څه .... دی.....دی.... ويل پلاره

ګل آغا : آيت ته ښه يی لورې ولې داسې بندې خبرې کوی لکچې نن کار ډيره ستړې کړی يی

آيت :هغه.........پلا......پلاراااااا......هغه....زه........ښه...ښه ....يم راځه چی....چی....ځو ..

ګل آغا : لورې څه شوی هاااا ښه يی

داسی وم لکه چی په هوش راغلی اوسم نه پوهيدم ولې خو د فريد له ليدو وروسته

می ژبه بنده بنده کیده  خو ولې؟ سترګې می له اوښکو ډکې شوی خوو ولې؟ بې اختیاره او بې  دلیله خفه وم

پلار : لورې  ولې ژړاې هاا ښه یی د پلار ګرانې  کوم ځای خو به دی نه خوښیږی

آیت :  پلاره زه ښه یم بس لږ ستونې مې درد کوی ځکه

پلار  : ښه لورې راځه

د کور په لور روان شوو نه پوهیدم چې لاره څنګه خلاصه شوو بیخې پوهه نه شوم ټول لار می فرید سترګو سترګو ته کیده خو ولې؟ هاا کور ته ورسیدو  ګورم چې ترور می راغلې ده د فرهاد مور او ما هم ورسره ستړی مشې وکړل

آیت : ستړی مشې ترور جانې

شاه بی بی  :  خیروسی زما خوږې لورې راغلې

آیت :  هو راغلم څنګه یی کور کې خیریت وو

شاه بی بی : خه یم شکر ټول ښه وو سلامونه درته کول

آیت :  وعلیکم السلام

شاه بی بی :وروره نن ورځ دی وعده راکړې وه چې راځم به او آیت لور به زما زوی ته راکوی

پلار : هو خورې إن شاء الله

پلار می یوه جوړه تسپې له جیب نه را وویستلې او تروری ته یی ور کړی او وی ویل

پلار : ما می خپله د ګل پشان لور ستا فرهاد ته درکړه

شاه بی بی : ما هم ستا لور خپل زوی ته قبوله کړه خیروسی آباده اوسې ژوندی اوسې او وروره په ما دی غټ احسان وکړ

کله می چې پلار تسپې له جیبه را ویستلې ځان سره می ویل نه نه نه نه پلاره خیردې دی ته مې مه ورکوه کاش کاش می په چغو چغو ویلې شوای خو پښتو وه او پښتنی همیش غلې وی او ما خپله په ځان وکړل کاش نن پټو ته نه تلم کاش یا فرید پرون راغلی وی اوووووووف خدایاااااا دا څنګه ژوند شوو

شاه بی بی : زه به لارم شم کور ته چې زیری یوسم

پلار : دجمعی په ورځ به سم دسمال درکړو مشران
راواستوه او خپل او خپلوان هم راوله درسره

شاه بی بی: نه نه وروره داسې به نه کوی دا یو جوړه تسپې دی راکړلې بس!!!!!!!
دی

پلار: نه زمونږ هم آرمان دی همدا یوه لور مې ده

ترور می ډیر وویل چی مه یی راکوه ځکه زمونږ له حاله خبره وه خوو پلار می اخیر پرې ومنله چې د سمال به ورکوی ترور لاړه او زه ناسته وم حیرانه مجبوره نه پوهیدم ولی د فرید د لیدو داسې شوم لاړم ګودر ته خوند یی نه وه ټولو راته ویل چې ولې داسې غلې یم خو ما ژر ژر منګۍ ډک کړ او راغلم کورته ګودر هم خوند نه راکاوه په لویه دنیا کې می زړه تنګ وو د زړه په زور می کارونه خلاص کړ او لاړم کوټې ته..

.....فرید .....

دروازه زما خور هوسی خلاصه کړه او چیغه یی کړه هله موری لالا جان راغی مور مې راغله زه یی په دواړو مخونو ښکل کړم غیږ کې یی ونیولم بیا می پلار راغی په

تندی یی ښکل کړم خو زه بې دلیله خفه وم هغه انجلۍ می بار بار ذهن ته راتله او زه یی خوشحالې ته یی نه پریښودم ټولو راسره سترې مشې وکړل خو څنګه پوهه نشوم چې چا چا راسره سترې مشې کړی حمیرا راغله ښکلې شوی وه خوو نه هغې انجلۍ په شان چې حمیرا ته می کتل اوبیا می هغه انجلی ذهن ته راتله بیخې بل رقم کیدم حمیرا زما څنګ ته راغله

حمیرا : په خیر راغلی څنګه یی

فرید : هوو راغلم او ښه یم شکر ته وایه څنګه یی

حمیرا : ښه یم فرید سترې به یی

هممم ټوله سترېیا می د هغې انجلۍ سترګو رانه واخستله او له ځان سره می وویل چی کاش می هغه د ژوند ملګرې وای ولې خدایا څه به شوی وای ..... حمیرا را باندی غږ کړ

حمیرا : په کومو سوجونو کې یی زه درته خبرې کوم او ته همداسې غلې یی

فرید : نه هغه لاره ډیره وه سترې یم

ددی په ویل له حمیرا نه لرې شوم او هغې کوټې ته چی سرې پکې وو ننوتلم نه می غوښتل چې حمیرا وګورم مجلس ګرم وو خو ماته یی خوند نه را کاوه او هغه د ښکلو سترګو والا انجلی مې ذهن ته راته لږ وخت هلته کیناستم بیا بهر راووتلم غوښتل می ګوټې ته لاړم شم چې حمیرا راباندې بوووو وکړ
هیڅ عکس العمل مې ونه ښوده چی حمیرا کړل راته

حمیرا : وه نه ډار شوی

څه می ونه ویل او ترې روان شوم او کوټې ته لاړم نه پوهیدم ولی خووو په ځمکه کیناستم او په زنګون می سر کیښوده او ژړا ته می شروع وکړه ما کله هم داسې نه

وو ژړلې خو نن مې په خپل مجبوريت ته وژړل په خپل نصيب مې و ژړل چې ولې
ولې به مې حميرا په نوم وه هاااا نن به مې کولې شول هغې ښکلې سترګو والا
انجلې سره واده وکړم هيڅوک هم داسې بد نصيب به نه وو لکه زه !!! ما په عمر
کې هم داسې ژړا نه وه کړې ښه مې په ياد دې چې ماما مړ وو او دا ماما مې ډيره
راباندې خو ومې نه ژړل خو په زړه ښه خفه وم خو ژړل مې نه ماته به هر چا ويل
چې زړه دې سخت دې خو نن مې وژړل آخر ځل لپاره مې چې ژړلې هير دې رانه په
هر حال په خپل ځای پريوتم او ډير ساعت وروسته خوب په خپله غيږ نيولې وم

.......حميرا .......

فريد راغې او نه پوهيدم ولې داسې وو ډير خفه ښکاريده داسې وو لکه په زوره چې
زما سره خبرې کوی ولې داسې دی څه پرې شوی خبرو خوند نه ور کاوه بس خدای
ماته راکړه اوس مې بايد جنګ جوړ کړی
د شپې ناوخته دی او لاړم چې ويده شم هسې مې دد فريد لپاره په ځان دومره
خوارې وکړه فريد حتا يو ځل هم را ونه کتل کم عقل فريد ځان ته سه فکر کوی
هااا د داسې چلند بدله به ترې ضرور اخلم دا ځان څه ګڼی هاااا
لاړم ويده شوم کله چې سهار شووو نو لاړم د فريد دوی کور ته د فريد مور ناسته
وه لاړم په خوا کی يی کيناستم

حميرا : څه به تر لاسه کړې هاا مکارې ښځې چې فريد زما پر ضد لمسوې

زهرا : څه لوری دا ته څه وايې ما هيڅوک ستا پر ضد نه دی لمسولې

حميرا : هاااا مکارې زهرا دد خوږې خولې تر شاه دی غټ مار پټ کړی مګم زه دی
نه پيژنم

زهرا : خبرو ته دی پام کوه ډيره حوصله مې درته وکړه

حمیرا : ته ما ته داسې  خبرې  کوی ته ځوک د دوو پورو ښځی

هوسی راغله او  وی ویل

هوسی : اه حمیرا داڅنګه خبرې مور سره کوی دا دی سه حال جوړ کړی په شین سهار

حمیرا : تا ته یی څه هاااا په تایی څه !!!!!! ته ما ته راښایې چی څنګه خبرې وکړم

هوسی : ګوره حمیرا زه تا ته هیڅ نه در ښایم خوو ته زما مور ته داسې خبرې کوی زه یی شم زغملی

حمیرا :  ښااااا ته زما خبرې شم زغملی چې مور ته دی کوم دی مکارې مور ته دی

هوسی : بس کړه شرم وکړه د مشرانو سره خلک داسې خبرې  کوی ؟

حمیرا : هو کوی زه یی کوم او ښه کوم

په همدې وخت کی فرید را ووت او له ویرې مې اوږې وپری لدلې ډیر غصه ښکاریده  ...

.....فرهاد .....

مور ته می زنګ وواهه چی پیسې می ختمې دی مور می زنګ نه جیکاوه له څو زنګونو ورسته یی جیګ کړ

فرهاد : السلاعلیکم مورې څنګه یی

مور : دومره ښه یم چی څه ووایم زویه زما زویه قربان دی شم ویره لرم چې له ډیرې خوشحالې مړه نشم

فرهاد :  الله دی نه کوی مورې دا ښنګه خبرې کوی
خوو دا د خوشحالی خبره څه ده هاا!

مور: وه زویه آیت یی راکړه

فرهاد : څه !!!!!!!!!!!!!څ.........څ.......څ.....ښنګه .....او.......او......څه..... څه وخت
عجیبه وه ژبه می له خوشحالې او هیجان نه بنده شوه

مور : هههههههه زویه دا په تا څه وشول

فرهاد : مورې قربان دی شم وه مور دا ښنګه  ښه خبر ووو

مور : مور دی درنه ځار شه زویه څه ته دی زنګ وهلی وو

فرهاد :  وی مورې هیر رانه نشی هغه مورې زما پیسی خلاصې شوی دی

مور: ما خوو دا دوه ورځې مخکې در ولیږلې تا ویل درځمما هم لږې در ولیږلې خو تا دومره ژر خلاصې کړې زویه  ؟

فرهاد : مورې مامی ملګرو ته وویل چې زما ګوژده ده بس راته یی ویل شرینی راکړه ما بس لږه ورکوله چی هوټل ته یی کش کړم 5000 زره افغانی رانه لاړی

مور:هههههههههه سمه ده پلار ته به دی ووایم الله حافظ

فرهاد : الله حافظ

بس زه وم او خوشحالې وه ځان می د نړۍ تر ټولو بختور انسان ګڼه ځکه زه خپلی مینه ته رسیدلی وم

......فريد ......

دجنګ او چغو په غږ له خوب نه راويښ هسې هم شپه ډيره سخته راباندې تيره شوی وه اوس هم چغې وی او  غوبل زمونږ کور کې وو  له ګوټی نه بهر راووتم ګورم چی حميرا زما د مور او هوسی سره په جنګ ده حميرا زما مور ته مکاره وويل نور می ورته عصاب ختم شول او ورته می وويل

فريد :  څه څه دی وويل يو ځل بيا ووايه

حميرا : ما هغه ...........ما خوو........

دا وار می غږ لوړ شووو

فريد : بس!!!!!!!!!! بس کړه مکاره خو ته يی لږ لږ هم شرم نه لری ها!!

حميرا : ما .......څه .....څ... کړی

فريد : وايم بس کړه  خبرې دی ته نه شرميږې چې نه دی ګوزده شوی نه دی واده شوی او زما د مور او خور سره جنګ کوی ووځه او لاړه شه خپل کور ته

حميرا لاړه او هوسی په ژړا ما ته وويل

هوسی : خيردی لالا ورشه او پخلا يی کړه کنی بل جنګ به جوړ کړی

فريد : پريږده  يی ز خورې چی څه کوی و دی کی

لاړم خپلی ګوټې ته که چيرې د ښمنې نه جوړيده نو همدا اوس به می پريښې وه  او بيخې می ورسره واده نه کاوه

بيا د چغو او جنګ غږونه می تر غوږ شوو چې فريده احمقه را ووځه!

چې کله ور ووتم نو ګورم چې د حمیرا پلار او ورور دی
الیاس راغلی او زه یی له ګریوانه ونیولم او می ویل

الیاس : په کوم حق دی حمیرا له کوره ووستله هاااا ولې هغې خوارکې څه کړی وو .......

.....آیت.........

څومره سخته شپه راباندې تیره شوه هیڅ خوب می و نه کړ فرید می ټوله شپه مخی مخی ته کیده خو ولې هاااا ولې نه پوهیدم چې په ما څه وشول لاړم کارونه می خلاص کړ چای ته می زړه نه کیده مور او پلار ته می ور وړ کور کارونه می د زړه په زور خلاص کړل زه به هره ورځ لس بجی ګودر ته تلم او اوس 9 بجی وی لاړم ګوټه کی یوازې کیناستم تر سو لس بجې شی نن می کور کې ډیر زړه تنګ وو ...

........فرید .......

فرید : الیاسه په خبره ځان پوهه کړه او بیا داسې لاسونه اچوه

یوسف (زما تره او د حمیرا پلار) : په څه ځان پوهه کړی احمقه زمونږ لور دی له موره وشړله او بیا وایی ځان پوهه کړو هااا

فرید : کاکا جانه خبره واوره بیا که می مړ کی هم مړ می کړه

یوسف : زه د ستا بې غیرته انسان.......
په دی وخت کی می پلار له بهر نه کور ته راغې او وی ویل

پلار : څه خبره ده ولی مو هلک له ګریوانه نیولې هااا

الیاس : دی بې غیرته حمیرا له کور شړلې ده

پلار : څه !!!!!! ریښتیا وایی

یوسف : ولی مونږ تاته دروغجن ښکارو هااا دا زوی به دی اصلاح کړی دا چی له کابله راغلې فکر کوم لوچک شوی دی ددی خپله دپښتونو رواج له یاده وتلې ده

پلار : صبر زما زوی داسې کار نه کوی ځکه دا زما زوی دی حتماً یو دلیل لری

الیاس : د څه دلیل هسې بې دلیله یی شړلې لوچک شوی ځکه زه درته وایم

پلار: ته چپ شه الیاسه !!فریده زویه ولې دی حمیرا شړلی هاا زویه څه یی کړی وو

فرید : الحمدالله پلاره جانه چی یو چا له مانه پوښتنه وکړه

پلار : وایه بچی

ټوله کیسه می ورته وکړه له الف نه تر یا پورې

فرید : داسې کیسه وه او ورته می وویل چې خپل کور ته لاړه شه او بس پلارجانه

یوسف : خو له اوله به دی ویلې وو خلک به څه وایی له یوشپی راغلې هلک سره په جنګ شوی

فرید : تاسو کله زما خبره اوریده

الیاس : ښنه کوه فریداااااا

فرید : الله دی وښه ملامته نه یی وروره

یوسف : زویه ښنه کوه زه به حمیرا پوهه کړم چی بیا داسې ونه کړی ...

دوارو غاړې راکړې او روان شول
زه هم حیرانه او خفه وم زما راتلونکې مې ښځه داسې ده په کور کې مې زړه تنګ شوو بهر ووتلم او لاړم د ګودر د ونو لاندې کیناسم زما په مخکی له دی نه چې کابل ته لاړم سم عادت می وو چی د فکر آرامولو او دری ویلو لپاره د ګودر د ونو لاندې کیناستم سترګې به مې پټې کړې او تر سوو آرامه شم او ډیر خوند به مې ترې اخسیت هم به می ذهن ارامه کیده اوس هم همداسې وو

.......آیت ........

لس بجې شولې او روانه شوم د ګودر په لور روانه شوم ګودر ته ورسیدم د منګۍ په ډکه ولو پوخته وم چې سترګې می پورته کړې فرید وو بیا می هغه حسن ولید بیا می هغه ځوانی ولیده کاش کاش ساعت ودریږی او زه همداسې
فرید ته وګورم بیا می د زړه درزا ډیره شوه بیا می ځان لیونی که او فرید په لیدو شوم منګۍ را نه هیر وو چی فرید سترګی خلاصی کړې او ماته یی راوکتل ورختا شوم بې اختیاره لړزې ونیولم او په همدې وخت ډاریک پوهه شوم چې مئینه پرې شوم هې هې مئینه شوم خو ځله می وویل چی نه داسی مه کوه آیت خوو فایده به یی نه کوله زه بدبخته مئینه شوم هغه هم په داسې انسان چی د بل په نوم دی او زه هم د بل په نوم خدایا دا څه وشول
نه پوهیدم خوو فرید ته به می چې کله پام شوو هغی هم ماته کتل
لړزه می ورو ورو زیاتیده شوه او ورختا کیدلم .....

....... حمیرا ........

لاړم کور ته او غوبل می جوړ کړ ژړا می پیل کړه
حمیرا : ،وه خلکو د کوره یی وویستلم وی نه می واده شوی نه ګوژده داسې حال می دی وه پلاره
پلار او ورور می را ووتل

پلار : څه شوی چی داسې چغې وهی !

حمیرا : زه چغې ونه وهم نو څوک چغې ووهی فرید له کور وشړلم

الیاس : څه دی کړی وو ؟

حمیرا : څه می هم  نه دی کړی  !

الیاس : پلاره دومره بې عزتې یی کړی او ته دلته ولاړ یی راځه

هغو لاړل د لږ ساعت وروسته چغې او غوبل جوړ شوو دا چې د فرید او زمونږ کورونه څنک په څنک ول نو غږ مې آوریدلې شوو په هر صورت او له ډیر وخت وروسته آرامتیا شوه ورور او پلار می بیرته کور ته راغلل پلار می راغې او ډیر غصه وو راته یی وویل

پلار : کم عقلې بې وجدانې ته نه شرمیږې چې له اوس نه جنګونه کوی او دوه ورونو کورنی  په جنګ اچوې هااا

حمیرا : پلاره .......هغه............ز....زه.......

پلار : بس کړه احمقې ستا له لاسه به یوه ورځ قاتل کیږم

پلار می لاړ او الیاس وویل

الیاس : کم عقلې دا نو د کولو کار دی چې تا وکړ
که بیا دی داسې کوم کار وکړ بیا ونه وایی چې خبره نه یم پوهه شوی

ډیره وریدلې وم خو ښه وو چی پلار می راباندې لاس او چت نه کړ شکر الله بچ کړم

فرید.........

سترګې می پټ وی چې د کوم شی د ډکیدو غږ می تر غوږ شو ګودر وو نو خامخا به کومه انجلۍ یا ښځه  وه اوبه به یی وړلې تر ډیر می سترګې پټی وی چې سترګې می خلاصې کړی هماغه انجلی وه چې زما خوبونه یی ورک کړی وو نه پوهیږم خوو یوازې می غوښتل یوازې همدا انجلی اوګورم مخکې مې یوازې ددی سترګی لیدلی وی او اوس می ددی ټوله څهره ولیده

ډیره زیاته ښکلی وه ددی داښایست زما زړه ته پریوته
ډیره بې اندازه ښکلې وه
او جالبه دا وه چی هغې هم ماته کتل کله به چی ما ورکتل هغی به خپلی ښکلې سترګېب بلې خواته واړولې او مخ یی پټ کړ څکه پښتنه وه او پښتنی کله مخ لوڅ پریږدی غوښتل می چې ساعت ودریږی او زه یوازې دی ته اوګورم بس په دی وخت کی می داسې احساس وکړ  چې مینه می ورسره پیدا شوه زما په زړه یواځنیې انجلې چې ښه لکیده بس فکر می کاوه چی مئین شوم په دی وخت کی ښکلې انجلې ودریده چې منګی یی چیکاوه راولویده فکر کوم ما نظره کړه

منګی هم مات شوو او د ښکلې انجلې د اخ غږ پورته
ما ورمنډه کړه ګورم چی لاس یی وینې شوی ......
ههههه څومره ه جالبه کنه او څومره خوندوره صحنه وه دګودر مستو اوبو زمونږ دمینې شاهیدی ورکوله ماته خو داسې معلومیدل چی د دواړو زړونه سره بدل شول هغې ماته زړه راکه ما هغې ته ډیره له مینی ډکه فضا وه ګودر غاړه شنی ونی زه مجنون هغه می لیلا یا زه فرهاد هغه می شیرین یا زه آدم خان او هغه می درخانې زما د لیلا لاس وینی شوی وو زما ښکلې لیلا ډیره راته جالبه وه ما کله هم داسې احساس نه وو کړی او حتا فکر می هم نه وو کړی چی زه دی هم یوه ورځ په یو چا مئین شم څکه ما ټول عمر په دی کې تیر کړی وو چی حمیرا دی په نوم دی حمیرا دی ناموس دی حمیرا دی عزت دی له ماشومتوب نه می یواځې همدا زده کړی وو ما که هم فکر نه وو کړی چې په یو دوو ورځو کی دی مئین شم په هرحال ..

له ځای نه می پورته کړه او په یوی وچی ډبری می کینوله او چې لاس می یی وکتو زخمی شوی وو او

وینه ترې روانه وه ما ورته وویل

فرید : ډیر درد کوی

ښکلی انجلی : هوو درد کوی

ههه جالبه ده زما ددی انجلۍ نوم نه وو زده نوو کله به می چې یاده وله نو ویل به می چی ښکلې انجلۍ
په هر حال

ددی لاس می په خپل دستمال وتاړه او وینه یی ودریده خوو زما په نظر چی درد یی ورته کاوه
ومی ویل

فرید : ښکلې انجلۍ راځه

ښکلی انجلی : څه !

فرید : هغ.....هغه........ه..هغه. نه ما ویل چی ښه شوی

ښکلی انجلی : هوو ښه یم خو منګی می مات شوو

فرید : پروا نه کوی چی مات شوو شکر چی ستا لاس یا پښه نه ده ماته شوی

اووووووووو زما خدایا ! دا ما څه وویل ښکلې انجلۍ ! شکر چې وای نه اوریدل کنی ښه صحی به یی رټلې وای بس د الله مهربانی ده
ښکلی انجلی ودریده چی ما وویل

فرید : کینه کینه چې لږ وضیعت دی ښه شی بیا لاړه شه

ښکلی انجلی : زه ښه یم خو سمه ده

دا دومره نه وه زخمې شوی خو ما غوښتل چی زما په څنګ کې اوسې او زه ورته ښه ډیر ورته وګورم لږ وخت ووت ورته می وویل

فرید : ستا نوم څه دی ؟

ښکلې انجلی : څه پرې کوی هاااااااا؟

فرید : څه نه خوو غوارم پوهه شم کوم غلط مطلب مه اخله هیله کوم

ښکلی انجلی : آیت

له ځان سره می وویل ماشاللّه د خپلی څهرې په شان ښکلې نوم WOW

فرید: ډیر ښکلې نوم زما نوم فرید دی د هاشم زوی یم او دطب له پوهن..........

لا می خبرې نه.وی پوره شوی هغې وی ویل

آیت : پیژنم دی د حمیرا ګوژدن یی او ستا پلار زما د پلار ملګری دی

فرید : ښاااا ما ویل کیدایشې نه می پیژنې څه ښه شوو چی ما پیژنې او حمیرا زما ګوژدن نه ده تر اوسه پوهه شوی بیا راته ونه وایی چی د حمیرا ګوژدن یم

آیت : ولی هغه ستا ګوژدن نه ده ټول کلی خبر دی چی هغه ستا په نوم ده ؟

فرید : نه یوازې په نوم می ده که زما په لاس کی وای هیڅ وخت می ورسره واده نه کاوه

آیت : څه وخت وروسته خوو دی ګوژده کیږې کنه او بله داچې ولې ستا حمیرا نه ده خوښه ده!!!!!

فرید : بدبختانه هوو دا یو تریخ حقیقت دی خوو څه وکړم د پښتنو سپیره رواج دی کومه چې دی خوښه وی رسیدلې ورته نشې او حمیرا ته یی نه پیژنې !

آیت : بس څه به وکړو او آیا ستاسو کومه څوک خوښه ده

کله چې آیت دا پوښتنه وکړه نو یو ځل می وویل چې ورته ووایم جی نه خوو دایی ښه وخت وو چی د زړه خبره می ورته کړی وای په ځان مې آیت الکرسي چف کړه زړه نا زړه وم

آیت : تاته وایم وبښې ډاکتر صاحب چیرته ورک شوی

فرید: چیرته نه هسې

آیت : زما و پوښتنې ځواب !

مخ می مکمل آیت ته وړاوه او ومی ویل

فرید : نن درته هرڅه وایم

آیت : ماته ! ؟

فرید: هوو تا ته ځکه تا پورې اړه لری

آیت : څنګه زما پورې اړه ولری مګم تاسو ما پیژنې ؟

فرید : نه پوره تا پورې اړه لری

آیت : ښه نووو !

سل زرونه مې سره یو کړل سترګې می پټې کړی او ومی ویل

فرید : له کومې ورځ  می چې لیدلې یی خوبونه می ورک شوی هغه ورځ چې ته می ولیدلی ستا مخ پټ وو ستا سترګو په ما اثر وکړو ستا لیدو صرف ستا د سترګو په لیدو لیوني شوم او پوهیږې ما په عمر کې هم نه دی ژړلې خوو ستا لپاره می وژړل په خدای چې ومی ژړل

د آیت سترګې هم له اوښکو ډکې شوی او په ژړغړنی غږ یی وی ویل

آیت  : نو بیا!!!!!!!!!

زما سترګې هم  له اوښکو ډکې وی سترګې می چې پټې کړی اوښکې می په مخ لاری جوړې کړی او په نیولې غږ می وویل

فرید : آیت زه ..........زه.........زه.........هغه.......زه
بیا می ژړا واخیستلم

آیت : زه څه ها!!!!! زه څا!!!!!!!!!!

فرید : زه له تا سره مینه لرم آیت دربانديِ مئین یم آیت درپسې لیونی یم آیت ب  له تا مړ یم ستا په خیالونو ویده او ستا په خیالونو را ویښیږم څه وکړم نور می دا خبره نه شوه ایساره ولي  زه له تاسره ډیره مینه لرم آیت !

آیت ته می وکتل ډیره حیرانه وه څه یی نه ویل له سترګو یی اوښکې رابهیدلې وویردلم چې په کوم بل چا مئینه نه یی و می ویل

فرید : آیت ولې ؟  ولې څه نه وایی آیت ته زما خوښه وی خو که ته ماته غصه هم وی ووایه خو هیله کوم داسې  چپ مه پاتې  کیږه  ....

.......آیت..........

فرید راته  لاس وتاړه څو ځلی می وویل چی ځم خوو ویل یی مه ځه لږ وضعیت دی ښه شې بیا لاړه شه
د خدای مهربانې وه زما هم زړه نه کیده چې لاړه شم یوازې می غوښتل له فرید سره اوسم نه پوهیږدم چې د جانان سره اوسیدل څومره خوند کوی که څه هم پوهیدم چی فرید زه نه یم خوښه خوو بیا هم اوسیدل ورسره ډیر خوند را کاوه کاش چې ساعت ولاړ وای او ما فرید ته کتلې او هو نه پوهیدم ولې یی زما سره خبرې کولې ځان سره می وویل چی شاید یی خوښه اوسم خو نه بیا می له ځان سره می وویل چی نه ته چیرته او فرید چیرته
له څه خبرو ورسته یی راته وویل چې یوه خبره درته کوم ما ورته وویل چې ولې ماته وویل تا پورې اړې لری کله یی چې دا خبره و کړه چې آیت درسره مینه لرم بل رنګه احساس می وکړ فکر می کاوه چی یو ښه خوب ګورم خو نه  ریښتیا وو له سترګو مې اوښکو روانې وی حیرانه وم ما فکر کاوه زما مینه یو طرفه ده
خووو اوس درد دوه طرفه شوو مخکې به د ځان لپاره ځوریدم او اوس د فرید لپاره هم څومره بدبخته یوو یو بل سره مینه هم کوو ښه پوهیږو چی نه رسیږو خوو بیا هم مینه کوو دومره لیونی مینه می د یو بل سره کوله د مینې درد ډیر سخت وی خو بیا هم له درد سره مینه لرو زمونږ مینه ریښتنې مینه مو کوله خو نه رسیدو خو جالبه داده چی بیا هم مینه
فرید وویل

فرید :  ولې  څه نه وایی

په ژړغونې غږ می ورته وویل

آیت : ولې.هااا ولې دی راته وویل او دا درد دی نور هم ډیر کړ ولې؟؟

فرید وویل داسې ښکاریده چې غږ یی لړزیګژ وی ویل

فرید : ته له کوم.بل چا سره مینه لری؟کنه ؟

آیت : کاش کاش می له بل چاسره مینه درلوده خو له تا سره که څه پوهیدم چی یو بل ته نه رسیږو خو بیا هم مینه

فرید : ته له چا سره مینه نه کوی

آیت : کاشکې می نه کوله فریده زه هم له تاسره ډیره زیاته مینه لرم کله می چې ته ولیدلې کوم څه راباندې وشول خوب کې ته په ویښه ته کار کولو په وخت کې ته هر وخت کې زما په زړه او ذهن کې وی لمونځ په وخت کې ته

فرید په خوشحالې وویل

فرید : ریښتیا ! ته .......ته هم له ما سره ......خدایا شکر

آیت : خوو فریده یوه خبره ده.

فرید : وایه

آیت : هغه زه د...بل .......

فرید : ته څه ! ؟

آیت : هغه یوه ګوژدنه کړی انجلې یم فریده !
زه او ته ډیر بد بخته یوو څه وکړو نصیب به مو همداسې وی فریده زه او ته به هیڅ

کله هم یو بل ته ونه رسیږو......

.......فرید .......

کله چې  آیت وویل چې هغه هم راسره مینه لری بې اندازه خوشحاله شوم نه پوهیدم چې څه وکړم بیخې ډیر خوش وم
خوووووووو
کله یی چې وویل چې زه ګوژده شوی یم فکر می کاوه چې د زړه وینې می وچې شولې درد می احساس کړ زه او هغه یوبل ته نشو رسیدلې دا می نه شوه زغملې
آیت وویل چی زه او ته یو بل ته نه شوو رسیدلې
د آیت له سترګو اوښکې روانې وی ما د هغی مخ په خپلو لاسونو کی ونیوه  او ومی ویل
فرید : داسې څوک نه ناهیلې کیږی الله مهربانه دی

آیت : فریده !

فرید :  وایه

آیت : آیا ته به زما شی ؟

فرید : الله ډیر مهربانه دی إن شاء الله هر څه به ښه شې

آیت خپلې اوښکې پاکې کړی او وی ویل

آیت : سمه ده زه به لاړم شم ګوره دولس بجی شوی وی

فرید : ښه سمه ده راځه زه دی رسوم

آیت : نه زه به خپله ځم ځوک په پوهه شې هسې به بد نام شوو

فرید : ښه سمه ده

آیت خدای په امانی واخیسته او روانه شوه چې ما پرې غږ کړ

فرید : آیت !

آیت : هاا

فرید : مینه درسره لرم

آیت مسکې شوه او روانه شوه زه هم لاړم کور ته

.......حمیرا .......

لاړم چې د فرید له مور او فرید نه ښنه وغواړم ما هیڅکله نه غوښته خوو پلار می مجبوره کړم
لاړم فرید دوی کره فرید نه وو ډیر انتظار می ورته وکړه خوو نه راته د خواښې نه می ښنه وغوښته خوو فرید ته می ډیر انتظار وکړ خوو رانغی نا هیلی لاړم خپل کور ته..آخر په ما یی څه چې نشته نه به وی خو مجبوره وم چې بل وخت راشم ښښې لپاره ...

.....فرهاد .....

مور می راته پیسې را لیږلی وی لاړم چې هغه له بانک نه را واخلم پیسې می را واخیستلی او لاړم
او بیا پوهنتون ته لاړم نن درس ته یو استاد هم نه وو راغلې نن د پوهنتون خوند نه وو رخصت شوو

او لاړم خپل اتاق ته لاړم سباته یی مونږ د لوی اختر ته یی رخصت راکوه او زه هم ډیر خوشحاله وم یوه یوه ورځ شمارله چی څه وخت به رخصت را کوی او اوس خو ګوژده به کوم شپه شوه لمونځ می وکړو او ویده شوم سهار چې له خوب نه راجیک شوم ځان می تیار کړ او لاړم پو هنتون ته بیا هم استادان نه وو راغلې
پوهنتون کی می زړه ډیر تنګ وو ځکه درس نه وو
د رخصتي ټیم ته لس دقیقی پاتې وی چې مونږ ټول یی تالار ته وبللو او مدیر صاحب وویل

مدیر : ګرانی محصلینو دا چې د لوی اختر ته هم لږې ورځې پاتې دی تاسو به هم دا خوشحالي له خپلو ګورنیو سره ولمانځې نو مونږ تاسو ته لس ورځی رخصتې در کوو........ وسلام

دایی وویل او لاړه زه هم لاړم او تاق ته خپل سامان مې ټول کړ او لاړم د ملګرو خواته او خدای په آمانی می واخیسته بیا لاړم چی د سبا لپاره ټیکټ واخلم او لاړم شم کلی ته تر مازدیګر می خپل کارونه را خلاص کړ او بیا لاړم اتاق ته موبیل می جک کړ په هغی کی هم خوند نه وو د مازیګر آذان یی وکړ او لاړم جومات ته چې لمونځ ادا کړم لمونځ می کړ لږ هخوا دی خوا شوم چې ماښام شوو د ماښام لمونځ می هم وکړ او بیا لاړم هوټل ته ډوډی می هم هتله وخوړه او بیا بیرته لاړم خپل اتاق ته نه پوهیږم وخت نه تیریده غوښتل می ژر سبا شی لاړ شم کلی ته مور ته می زنګ وکړ چی سبا درځم ډیره خوشحاله شوه او د خیر دعا ګانی یی راته کولې ...

.........آیت........

له ګودر نه کور ته ستنه شوم د غرمې دیګ می وکړ د کار کالې می واغوستل چې پلار سره پټو ته لاړه شم

پلار می وویل

پلار: لور پېږو ته نه ځو

آیت : ولی پلاره

پلار : نن جمعه ده او ستا ترور ته می ویلې وو چې دستمال در کوو ځکه

ډیره خفه وم ځکه زما ژوند جهنم کیده او بل می دا فکر وو چی فرید به څنګه هیروم یا هغه ته به څه وایم

آیت : له یاده می وتلی وو

پلار : ته هم سنیګار وکه چې ښځې به هم راځی او ګورې به دی

آیت : په سترګو پلاره

پلار می بهر لاړه او زه هم ګوتې ته لاړم ژړا راتله په خوله می لاسونه کلک کی چې چغی رانه ونه وځې په خوله می لاسونه ایښی وو ژړا چې می خومره زور اخیسته هما غومره می لاسونه په خوله باندې کلک ول الله دی ټول له داسې حالت نه وساتې ډیر می وضیعت خراب وو هی د مینی زور وو کنه لکه لیونی له ځان سره می خبری شروع کړی
زه به فرید ته نه رسیږم زه به د فرید نه کیږم ولې ولې خدایا دا کوم رقم ما امتحان کوی دا زما مینه زما مینه ولې داسې نیمګړې پاتی شوه لا شروع نه وه چې ختمه شوه ولې ولې هاااا خدایه ما کومه ګناه کړی چې ما ته داسې عذاب راکوی ژړا می نوره هم ډیره شوه چغې می له خولې وتلی خپله خوله می کلکه و نیوله دومره می کلک کړه چی زما په خوله کی و وینې خوند احساس کړ
ناڅابه مې دا ټپه خولې ته راغله

د پښتنو سپیره رواج دی
جانان یی یوی دوی یی بل ته ورکوینه

غوښتل می چې چغې ووهم خو پښتنې پیغلې خو ګونګې وی کنه دا اوف داځنګه حالت دی  ورو ورو می زړه هم په را تنکیدو شو فکر می کاوه چی زړه می چاودیږې سرمی داسې درد کاوه چې مات شوی وی سر می په دواړو لاسونو ونیوه او زړه می نو هم درد کاوه هی د مینه او جدایې له درده مو خدای وساته
داځنګه حالت دی یاالله وامې خله کنه څه ته ګوری زما په ژوند کې نور سه پاتې دی وه مرګه راشه او بې غمه می کړه یا الله  لاسونه می لپه کړی وو او خپل مرګ می غوښته څوک په ځوانې له ژونده ستړی کیږی
خو دا مینه انسان ستړې کوی هغه مینه چی وی خوو ته ورته رسیدې ښه خو بیا هم مینه کوی
پلار می ریښتیا ویل مینه انسان محبوره کوی چی خود غرضه شې زه  په خپل بد حال ناسته وم چې مور می غږ کړ

مور : آیت چیرته یی

ژر می خپلې اوښکې پاکې کړی

آیت: دادی مورې درغلم

لاړم د مور خواته می کله چې لاړم مور می

حیران حیران کتل راته ومی ویل

آیت : څه وایی مورې

مور : لورې دا سترګې دی ولی داسی سرې
ژړلې دي دی

آیت : نه مورې ویده وم

مرجان : ته خفه یی ووایه که کوم چا درته څه ویلې
آیت : نه مورې ولې به خفه یم ویده یم

په زړه کې می ووېل چې داسې خفګان دی چې د زړه وینه می وچوې مورې ته څه خبره یی له مانه

مور : ښه ښه لورې دا خبری پریږده لاړه شه هغه د مرسل دوی کره ځان سم سینګار کړه چې ښځې هم راځی او تا ګورې

آیت : سمه ده مورې

هی سینګار ته د چا زړه کیده په نه زړه لاړم خپله لو پټه مې را واخیسته او لاړم مرسل دوی کره چې زمونږ د کلی آرایشګره وه

.......فرید .......

لاړم کورته چی مور می راته ووېل

مور : حمیرا راغلې وه

فرید : بیا یی څه کول هاااا په کومو سترګو راغلې وه

مور : آرامه اوسه زویه ښښنه لپاره راغلې وه

فرید : له تانه یی وغوښتله که تا ښښلې وی ما هم ښښلې

مور :  ما وښښله راغلې وه ښنګه می ورته ویلې وای چې نه دی ښښم

فرید : سمه ده چې بیا راغله وښښم یی سمه ده

مور : خه زویه

نن ورځ خوشحاله وونکی وه ځکه چې له آیت له خولې می د مینې اظهار اوریدلې وو هیڅ باور می نه کیده چې آیت دی هم له ماسره مینه کوی بیخې بل رنګه خوشحاله وم لاړم د غرمه لمونځ می وکړ او لاړم د ملګرو سره پتو ته چی تازه د کلی هوا واخلو تر مازدیګره پاتې شوو لمونځ می په جومات کې وکړ او بیا لاړم کورته پلار می هم کور کې وو پلار می د خپلو وختونو کیسې کولی ډیر په غور سره ورته ټولو غوږ نیولې وو

پلار می ماته وویل

پلار: راغلې زویه

فرید : هو راغلم پلاره

پلار : زویه هغه ګل آغا نه دی پیژنې یی

فرید : هوو پلاره د احمد پلار ګل آغا ښایی

پلاره: هو د هغه د لور دستمال دی ماښام ته مونږ یی هم غوښتې یوو

هی هی داخبره نه د ټوپک ډز په شان وه آیت آیت د بل چا شوه تل او تل لپاره بیا می ویل چې خیر دی ته هم د چاپه نام یی هغه که د بل چا نه وه شوی بیا هم زما نه کیده ستونې می راډک شووو خو په سختې می ځان کانټرول کړ چی پلار می وویل

پلار : تاته وایم زویه ځی ته

فرید : نه پلاره زړه می نه کیږی

پلار : ګل آغا زما ډیر ښه ملګری دی او فرهاد خو هم ستا ملګری دی بیا ولی نه ځی

فرید : سه ! فرهاد حسن زوی ؟

پلار: هوو زویه

بس دا حالت ډیر سخت وو یو زما مینه بل زما د ورور په شان ملګری ته یی ورکړی وه نه می غوښتل د آیت دستمال بل چاته وکړی اوس خو هر څه شوی وو او زه هم مجبوره وم چې لاړ شم

........آیت ........

لاړم د مرسل کور ته ورسیدم دروازه می ټک
ټک کړه ۀو دقیقې وروسته دروازه خلاصه شوه او مرسل را سره ستړی مشې وکړ ورته می وویل

آیت : نن زما دستمال دی مور می راولیږلم چې ته راته میکاپ وکړی

مرسل : څه تا خوو مونږ خبرې هم نه کړو خو خیر راځه

آیت : ولا زما خواښې ویل خبره پټه کړی

مرسل : ښه ټوکې می کولې خه اوس ووایه جاته یی ورکړی یی

آیت : د ترور زوی فرهاد ته

مرسل : وای ماشالله ستا خاوند خو ډیر ښایسته او لایقه ځوان دی مبارک دی وی الله دی بخت درکړی ډیره خوش قسمته یی ....

ومی ویل

آیت : مننه ګرانې

له ځان سره مې وویل خاورې نیک بخته چاسره چې مینه کوم په خوب کې هم نه شم ورته رسیدلې مرسل وویل

مرسل : کومو سوجونو کې لاړې راځه دننه کنه

آیت : خه دادی درغلم

د مرسل شاته روانه شوم د هغوی خواته روانه شوم په یوه ګوټه کې یې کینولم او راته یې وویل

مرسل : ته دلته کینه زه د آرایش سامان راوړم

آیت : سمه ده

لاړه او د پنځو دقیقو وروسته بیرته راغله او زما په سنګارولو یې پیل وکړ په یو ساعت کې مې د مخ آرایش خلاص شوو نه پوهیدم داساعتونه ولې دومره ژر ژر تیریدل هغه خبره ریښتیا ده چې کله غواړې وخت تیر بیخې نه تیریږې خو که غواړې وخت تیر نشی بیا هغه ډیر ژر ژر تیریږې زه هم همداسې وم غوښتل مې وخت ودریږې او تیر نشې له دوو ساعتونو وروسته آرایش مې مکمل شوو چې مرسل راته وویل

مرسل : ماشاالله واې زما خدایا دا څنګه ښکلې شوی د نظره مه شې الله دی له بد نظره وساته واې نظره دی نه کړم صبر زه لږ سپلنې راوړم او دود کوم یې درته صبر زه اوس راځم

آیت: نه نه ولې داسې د سه نظر ما به سوک نظره کړی

خو مرسل زما غږ نه آوریده او لاړه چې ماته دود وکړې کاش یې زما بخت ته هم له اوله نه دود چې داسې خرابه نه واې او له چا سره مې چې مینه درلوده هماغه زما واې.......

دود یی کړې وای چې زما بخت د نظره شوی نه وای زه زه په د حسن او ښایست باندې څه وکړم چې بخت می بد رنګه دی یاالله ته خپله خه پوهیږی یاالله رحم وکړه یا ربه
ډیر می ځان ټنګ کړ چې  د مرسل  مخکې
اوښکې تویې نه کړم ځان می ټینګ کړ او ژړا می په ستونې تیره کړه
له څو شیبو وروسته مرسل راغله او ما ته یی سپلنې دود کړل او راته یی وویل

مرسل : الله دی له بد نظره وساته

آیت : مننه ګرانې

له ځان سره می وویل چې بخت می نظره شوی په شکل او صورت څه وکړم ومی ویل

آیت : زه به لاړه شم چې ناوخته نشې

له خپل ځای نه ولاړه شوم او خپل سادر مظې پوره مخ پټ کړ له مرسل می خدای په آمانې وکړه او د کور لاره می ونیوله کور ته ورسیدم او سلام می واچاوه

آیت : السلام علیکم مور راغلمه زه

مور : وعلیکم السلام لور په خیر راغلې

آیت : هو مورې راغلم

مور : ته صبر چې وګورم چې څنګه یی جوړه کړی یی

مور می چی زه ولیدم نو سترګې یی برګې برګې شوی وی ویل

مور : وایيی زما خدای ماشاءالله  ماشاءالله لور له بدو سترګو دی خدای وساته وه لور خلکو سترګې وړې لاړه شه لاړه دا میکپ دی پاک که او مرسل ته لاړه شه چې بل

درته وکړی وی وی لور به مړه کړې

آیت : مورې آرامه شه آرامه دا څه حال دی جوړ کړی زما به کوم ځاې نظره شې او بله داچی مرسل راته سپلنې دود کړل

مور می د سپلنې د نوم په آوریدو خوشحاله شوه او وی ویل

مور: ښه ښه زړه می ډاډه شووو

آیت : اوس خوشحاله شوی

مور : هو زما ماشاءالله ښکلې لورې

ددی په ویلو دروازه ټک ټک شوه چې مورې می ماته وویل

مور: لورې مخ دی پټ کړه او دروازې ته ورشه زه لږ کار لرمه

آیت : سمه ده مورې

لاړم دروازه مې خلاص کړه ومې کتل چې فرید دی

آیت :اووو زما خدایه دا دلته څه کوی

فرید په طعنه سره وویل

فرید : .ماشاءالله ګورم چې ډیره خوشحاله یی خیر ستا پلار سره مې کار وو

آیت : هو خوشحاله یم ډیره هم خوشحاله یم خیر دې فرید ته خو راته داسې مه وایه خیر!!!!!!!!!!!!!! دی

فرید چی زما ژړغونې غږ واوریده وویل

فرید : هغ.....هغه .... زما ...زما ... دا مطلب نه ووو ته مه خفه کیږې هیله کوم
گرانی

آیت : فریده !

فرید : ووایه

آیت : زه ....زه به بې له تا ځنگه ژوند کوم فریده یو سه وکړه هیله کوم زما زړه
چاودیگې

فرید : زه به ځنگه او ځه وکړم زه خو خپله هم په ځنځیرونو تړل شوې یم آیت دا
ولې مونږ سره داسې کیږې آیت زه به ځه کوم ته به ځه کوې آخیر مونږ به کوو

آیت : هیله کوم ته مه مایوسه کیږه او دا تا ما ته ښودلې وو

فرید : ځنگه به انسان نه مایوسه کیږې چې د سترگو په وړاندې یی جانان د بل چا
کیږې هاااااا
ما په ژړا ډک غږ وویل

آیت : ځه به کوو وه فریده بچ می کړه خیر
دی

فرید : زه ...زه ستا ژړا نه شم لیدلې هیله کوم مه ژاړه

آیت : اوس خوو مې ژړا وظیفه شوه زه به په سرو سترگو ژړیږم ته ....ته یو ځه
وکړه فرید ! هیله کوم یوه سه وکړه ....یوسه وکړه خیردې

ژړا مې زرو واخیسته چې فرید زه په خپله غیږ کې ونیولم او وی ویل

فرید : بس ...بس.. نوره ژړا بس زه څه کوم سمه ده ګرانی خوو ما سره به ژمنه کوې چې نوره به نه ژاړې خاااااا

آیت : نه ژاړم ژمنه ده زما فریده

فرید : او زه به ترهغو په کرار کینه نم چی ترڅو می خپله کړې نه یی زما آیت ته یوازې او یوازې زما حق یی

په دی وخت کې می مور غږ کړ چی وی ویل

مور : څوک دی لورې

آیت : هااا مورې څوک نشته یو ساعت کیږې ولاړه یم

مور : چا سره دی خبرې کولې لورې غږ دی راته

آیت : ملګرې می وه مروا هغه په لاره تیریده یو دوه خبرې یی راسره وکړې او مبارکې یی راکړه

مور : خاا ما ویل څوک ووو

آیت : هو مورې زړه دی جمیې څوک نه ووو

مور : خه ته هم لمر ته مه دریږه چی آرایش دی خراب نه شې

آیت : ښه دا دی لاړم مورې

په تلوار کوټې ته ننوتلم او له ځان سره می وویل
بس الله خبر وو چې په زړه می څه تیر شول فکر مې کاوه لکچې مینه مې رسواه شوه خوو دالله مهربانی وه وای که مور می پوهه شوی وه یوه دقیقه یی هم صبر نه کاوه او زما پلار او احمد ورور ته ویل بس د الله رحم وه او که یی ویلې وو څه به

کیدل او هو آخیر خو به هم خبریږي خو اوس باید صبر وکړم فرید راسره ژمنه کړی وه زړه مې د نورو ورځو په پرتله ډېر آرامه وو

.......فرید .........

په کور کې مې طاقت نه کیده او زړه مې ډوپیده طاقت می ونه شوو او له کوره نه بهر ووتم ګورم چې د کوځی په آخیر می یوه انجلۍ را روانه ده روان وم ډیره توجه مې ورته ونه کړه هغه انجلۍ د ګل آغا یعنې د آیت کور نه ننوتله اول می فکر وکړ بل څوک ده بیا می ذهن ته راغې چې نن خو د آیت دستمال ده او د سینګار تون نه به راغلې وی ځکه د جمشید کور همدې خواته دی که څه هم ډیر خفه وم چې نن د آیت او فرهاد ګوژده ده نو ډیر خفه شوم خوو ځان ته می تسلیت ورکاوه چی څه الله به خیر کې په هم دی کې می په یاد شول چی آیت رانه لاړه نوو خپل لاس می پر تندې وواهه او له ځان سره می وویل احمقه فریده باید تا مخکې سوچ کړې ویل حدقل یو دوه خبرې خو به می شوی وې ورسره
روان وم په هم دی سوچونو کې چې له ځان سره مې وویل ورشه کورته او دیدن یی وکړه بیا می وویل نه که پلار یی را ووځی نو نوځه ورته به ووایم که کوم کار مو وې چې زه یی وکړم هو ښه سوچ دی لاړم ومی ویل فریده څه ورشه توکل په الله لاړم د آیت ته
دروازه می ټک ټک کړه په دی هیله چې آیت دروازه خلاصه کړې زما خوشبختې ووایم که سه ورته ووایم
آیت دروازه خلاصه کړه ومې کتل چې سینګار او ډیره ښکلې شوی هم وه که څه هم د هغې مخ پټ وو خوو سترګې یی ښکاریدې اول ځل می چې آیت لیدلې وه هم په همدې سترګو یی مئین شوی وم نو نن هم همدا سترګې ښکاریدې بس ډیر زور یې راکړه او آیت ته می وویل

فرید : ډیره خوشحاله یې

ددی خبرې په کولو سره آیت په ژړا شوه ډیر یی وژړل چې زه یی خپلې کړی خبرې باندې ډیر پښمانه شوم او ځان ته می وویل فریده رزیله دا نوو خبره وه چی تا وکړه احمقه وګوره  خپله آیت دې په ژړا کړه
هغی ډیر ژړل او ما بار بار تسلیت ورکاوه خوو نه قراره کیده او ژړل  غیږه کې می ونیوله او ومی ویل چې تر څو مې خپله کړی نه یی په کراره به کینه نم نو لږ څه آرامه شوه او وی ویل

آیت : ریښتیا وایی

فرید: ژمنه ده د فرید ژمنه

آیت لا بله خبره کوله چی مور یی نارې کړی آیت هم په تلوار ور بند کړ او کورته ننوتله زه هم د کور په طرف روان شوم خوو آیت ته په اندیښنه کی وم چی کوم ستونزه ورته جوړه نشې .......

........فرهاد .........

د خوب نه پاسیدم او ټیټک می د غرمې دوه بجې وې نوو باځیدم سهار چای می وخښه او لږ ځان می اخوا دیخوا کړ  کارونه مې خلاص کړل دوه بجې شوی او روان شوم د کندهار په طرف نن زما دستمال وو ډیر خوشحاله وم په دومره اوږدې لارې بیخې پوهه شوی نه یم .....

*  *  *

له سو ساعته مزل وروسته بلاخیره کلی ته راورسیدم یو کال بعد راغلی وم ډیر بدلون راغلی وو له کلی نه د کور په طرف  روان ما چې کله حرکت کړې وو د غرمې دوه بجې وی او اوس تقریباً  د ماښام لمونځ قضا وخت وو او جالبه دا ده چې زه بیخې په لاره پوه شوی نه یم له خوشحالې څخه

له مزل وروسته کور ته ورسیدم  د سندرو غږونه راتلل  دروازه  مې وټکوله له لنډ انتظار وروسته مور مې دروازه خلاص کړه او وی ویل

مور : الله شکر بچی مې راغی

په غیږ کې یی ونیولم او سو سو ځلې یی په دواړو مخونو ښکل کړم له مور نه وروسته می  پلار او خونیدو هم را سره ستړی مشی وکړل او لاړو کوټې ته لا ناست نه وم چی خور می دایره راوخیسته او زما مور ته یی ورکړه او زما مور هم شروع وکړه او سندرې یی ویلې د زوی خوشحالي وه ټول خوشحاله وو زه هم خوشحاله وم خو نه پوهیږم ولی زړه می یو رقم نا قراره وو یو ډول اندیښنه می په زړه کی وه د سندرو ویلو وروسته می خور راته ډوډۍ راوړله ډیره خوندوره وه تر ډیره کورنۍ سره ناست وم او کوم دستمال چې آیت دوی مونږ ته را کړی وو هم ومی لیده تر یوولسو بجو مې له کورنۍ سره مجلس وکړ او بیا می له مور نه اجازه واخیسته او خپلې ګوټی ته لاړم ډیر ستړې وم او نه پوهیږم ولی زړه می یو ډول نا قرار او خفه وو کله چې راتلم ډیر خوشحاله وم خو اوس نه پوهیدم ولې خفه وم په همدې سوچونو کې خوب له ځان سره وړی وم ......

......حمیرا .......

په دی ورځو کې فرید بیخې ورک وو  له هغې ورځې نه چې جنجال شوی وو بیا مې په سترګو هم نه وو لیدلې کور ته به چې ورغلم کور کې به نه وو مور به یی ویل چې نشته او سهار چی ووځې شپې ناوخته کور ته راځې زړه کی می ویره پیدا شوه داسې نه چې کوم چا بل  باندی مئین شوی وی خو بیا می ځان ته ډاډ ورکاوه چې زما په شان ښکلې انجلې خو نشته خو یو دم می آیت ذهن ته راغله  چې په هغې خو به نه وی مئین ځکه آیت له ما نه هم ښکلې په همدې سوچونو کی وم چې کوچنۍ خور مې راته غږ کړ

لیلا :  مور وایی چې راشه ډوډۍ وخوره

حمیرا :  ښه دا دی درغلم

لاړم چې ډوډی وخورم ډوډۍ په خوړلو لګیا وو چې پلار می وویل نن د ګل آغا د لور دستمال وو ددی خبرې په آوریدو سره لکه څوک چی درته په زخم ملحم کیږدې داسې را باندې دا خبره ولیګده  ځکه آیت نوره ګوژدنه شوی انجلې شوه او که فرید وغواړې هم پرې نشې مئین کیداي زړه مې آرامه شوو
مور می وویل

مور : چا ته یی ورکړه ډیره ښکلې انجلې وه ما خو ویل چې الیاس ته به یی وکړو

پلار : هو ولا دا انجلې زما هم خوښه وه ډیره خوش اخلاقه او میړنې انجلې ده ټوله ورځ له  پلار سره پټو کی کار کوی بس څه به وکړو کنی ما هم الیاس ته په نظر کې نیولی وه

مور : څه خیر نصیب به یی شوی وو چاته یی ورکړه دا دی ونه ویل

پلار : فرهاد ته

د فرهاد د نوم په آوریدو سره می بل رنګه احساس وکړ او دا نوم راباندی نه پوهیږم وای خو ډیر ښه ولګیده

مور می وویل

مور : شاه بی بی زوی ته ؟

پلار : هو هماغه خپل د ترور زوی ته یی ورکړه

مور : خاا‌ا فرهاد هم ماشاالله ښه ښایسته هلک دی یو کال یی پاتې دی انجینر کیږې هم

ډوډۍ مې وخوړه او په تلوار مې دسترخوان ټول
کړ لوښې مې ومینځل او لمونځ مې وکړ او لاړم چې ویده شم خو خوب چیرته راته
په دې فکرونو کې وم چې فرید لکچې زما نه یې زړه تور شوی ډیر سوچونه مې
وکړل چې ولې داسې شوی د فرید د راتک پنځلس ورځې ووتې او ما په دې دومره
وخت کې هماغه یو ځلې لیدلې وو نه پوهیږم ځو بجې به وې چې خوب وړې وم ...

.......آیت .......

څه ساعت ناسته وم ګوتې کې چې د ښځو غږونه شول مور مې ماته وویل هله لور
ځان لږ سم که چې راغلل زه هم مجبوره وم څه مې کړې وای خو زړه مې ډاډه وو
ځکه فرید راته وعده راکړې وه
په خپل ځای سمه کیناستم او خپل مخ مې پټ کړ ځکه دا زمونږ رواج وو ځو ښځې
راننوتې او زما مخ یې ښکاره کړ د ټولو د ماشاالله او نام خدا غږونه شول چې په ما
یې ګلان او چاکلیټ وشیندل او شال یې زما په سر واچاوه دا شال ډیر درونډ وو
چې زما سر یې بیخې په درد کړ ځکه ډیر د غمیو کار پکې شوی وو
او بیا یې څه روپۍ زما په لاس کې کیښودلې او د ځو سندرو وروسته لاړې او زه
هم په خپل ځای کیناستم او شال مې له سره نه لرې کړل
او له سترګو نه مې اوښکې روانې شوې او له ځان سره مې وویل که په ریښتیا هم
زه د فرهاد ښځه شم او فرید ما همداسې پریږدي بیا !؟نه نه نه!! فرید داسې نه شې
کولې نه د لیونیانو په شان مې له ځان سره خبرې کولې او ژړل مې اخیر مې خپل
ځان ته ډاډ وکړ او ومې ویل نه زما فرید ماته داسې دوکه نشې راکولی هغه هم له ما
سره مینه کوی خو حمیرا حمیرا به څنګه کوی هغه به دې ته هیځکله هم اجازه ور
نه کړې چې فرید زما شې بیا مې ژړا ته شروع وکړه نن مې بیخې حالت له سهار نه
خراب وو دومره مې وژړل چې بې هوشه شوی وم سترګې مې چې خلاصې کړې
دمور په غیږ کې وم او ژړل یې راته او پلار مې هم یو خوا غلې او خفه ناست وو کله
یې چې زما په هوش راتلو ته پام شوی وی ویل

پلار: لور ښه یی څه دربانډې شوی زما لورې

آیت : هو ښه یم پلار جانه نن له سهار نه مې څه نه وو  خوړلې  فشار می ټیټ وو
ځکه داسې شوم نوره ښه یم

پلار : لورې په ځان ډیر پام کوه اوس خو د بل د کور آمانت یی

او یی زما مورته ور وکتل او وی و یل

پلاز :  او ښځې دی ولې څه نه دی خوړلې
مور می په ژړغونې  غږ وویل

مور : یو وار نه سل ځله مې ورته وویل یو څه وخوره  خو دا کله زما آوری د نه
خوراک وجه به دومره نه وی زما لور د نظره شوه  آیت لورې ما درته وویل چې
آرایش دی پاک کړ چی نظره نه شی ودی لیدل  .. ودی لیدل چې نظره شو خبرا دار
که بیا لاړی هغې مرسل کره خپل ځان خپله سینګار کوه نن بی هوشه شوی بله ورځ
به در باندی بل څه وشې

زه یی له لاس نه وینولم او وی ویل

مور : راځه چې سپلنې درته دود کړم او ډوډی هم وخوره

کاش زما دا حالت په سپلنې او ډوډۍ باندې ښه کیدای شوای زه ....زه څه بل رنګه
حالت کې خدای پاک راکیره کړې وم یو خوا مینه بل خوا زما ګوژدن کیدل بل خوا د
کورنۍ عزت بل خوا د فرید د بل په نوم وو نه پوهیدم څه وکړم چاته و ژاړم
مور مې لاس نیولی آشپز خانی ته بوتلم او سپلنې یی راته دود کړې د سپلنې دود
زما حلق ته راغلې او ټوخې واخیستلم زما ټوخیدو سره سم مور می وویل

مور : وه دی لیدل چې څومره د نظره شوی یی

په بی حوصلکۍ می ورته وویل

آیت : مور بس هم که نور دود دی کړل صحیح شو کنه

مرجان : سمه ده دا دی لورې لرې کوم یی

مور می راته ډوډۍ واچوله ډوډۍ می خو مړۍ په زوره وخوړله او مور می لاس نیولې خپلی کوټې ته بوتلم ځای یی راته هوار کړی وو هلته یی کینولم اووی ویل

مور : سورتونه په ځان ووایه اوویده شه که کوم سه ته دی ضرورت وو غږ که راته هو ګوره چی له ځای نه پورته نشې

دا خبره یی وکړه او ګورپ یی بند کړ

زه بیا په پخوانې سوچونو کی شوم چې فرید به می ذهن ته راغی نو ژړا به راتله همدا سوچونه به می کول سه وکړم ځنګه به کیږی بس زما ژوند شوی وو فرید فرید به ځنګه وی ...فرید به سه کوی ..فرید به خو خفه نه وی فرید هم زما په شان مئین دی هغه خو به ماپسې نه ژړا فرید به ما غواړی کنه
بس ژوند سوچ خبری هر څه می شوی وو فرید زما هم یو نوم په خوله وو فرید .....فرید .....فرید...فرید
همدا سوجونه می کول او ژړل می په ژړا ژړا می ویده شوی وم

......فرید .....

کورته راغلم جامې می بدلې کړی او لاړم مور سره می کیناستم مور می راته وویل

مور : زویه حمیرا هره ورځ راځې او ستا پوښتنه کوی ګوره پنځلس ورځی وشوی اوتا یو ځل هو حمیرا نه ده لیدلې ځویه ګناه لری هغه انجلې هره ورځ راځی ستا پوښتنه کوی او بیرته ځې

فرید : همممممم ورته وایه چې مصروفه دی

مور : نو ته کله مصروفه یی ټول ورځ هسې بهر له ملګرو سره تیروې

فرید : بس نو زه څه وکړم چې نه یم هغه راځې زه نو څه خبر یم چې کوم وخت کی راځې

مور : نو ته ورشه

فرید : هیڅکله هم نه !

دا خبره می وکړه او په تلوار له کوره ووتلم
ریښتیا هم له کومې ورځې نه چې راغلې وم هغه ورځ چې جنجال وشو هغه ورځ چې می حمیرا لیدلې وه بیا می نه وه لیدلې زړه می نه غوښتل او هسې هم ما له آیت سره واده کاوه که په هر قیمت وی حتا که زما د ژوند په قیمت خو ډیر سر می پرې خوږ نه کړ
خلاصه ماښام شوو او د آیت دستمال ته یی مونږ ته یی هم بلنه را کړی وه خوو ما نه غو ښتل چې لاړ شم خو پلار می راته ویلي وو چې لاړ شه نو ورسره لاړم
کله یی چې د آیت دستمال وړه ډیر زور یی را کړ خو ځان ته می ډاډ ورکاوه چی آیت زما ده دوی دا کارونه فضول دی خلاصه دستمال ختم شوو او مونږ نهه بجې بیرته راغلم کور ته سره می درد کاوه هوسی ته می وویل چې سر درد ګولې را کړه ګولی یی راکړه ګولی می وخوړلی او لاړم کوټی ته لاړم څملاستم او چت ته می کتل زړه درد بیا شروع شو بیا می له ځان سره ویل
هی ! فریده که آیت ستا نشی نوو؟

که آیت د خپل پلار لپاره له تانه په شاه شی نوو ؟!
دی فکرونو لیونی کولم لاړم د خوب ګولی می را واخستلې او دوه می وخوړلې له لږ ساعت وروسته په ځان نه وم پوهه شوی او خوب په خپل غیږ کی نیولی وم ........

......... آیت ..........

آیت : داسې ستړی له خوب نه پاسیدم چې ته به وایی چې د دنیا ټول کارونه ما کړي دی لاړم مخ او لاسونه می ومینځل او د مور کوټې ته می لاړم مور می ناسته وه می یی پاکولې ..

ومی ویل

آیت : مورې څنګه په دا شین سهار می پاکوی او ولې نن وخته راجیکه شوی یی هره ورځ خو وخته نه راجیګدلې

مور : د څه شئ د وخته لورې د سهار لس بجې دی ته د شپې ناروغه وی ځکه ناوخته راجیګه شوی زه درغلم کوټې ته و می کتلې چې ویده یی زړه می ونه شو چې راجیګه دی کړم ستا پلاره ته می ناشته جوړه کړه هغه لاړه پټو ته ..

مور می دا خبری وکړم او ما ورته حیریت او خلاصو.سترګو غوږ نیولی وو ومی ویل

آیت : مور پلار می لاړه واې دی ماته غږ ونه کړ او راوښیه دی نه کړم سو ورځې کیږې پلار می یواځې ځی

مور : خیردې لورې ته ناروغه یی ارام وکړه د کور کارونو فکر مه کوه زه یی کوم

آیت : نه مورې زه ښه یم اوس ځم ګودر ته چې اوبه را وړمه چې بیخې نشته دی

مور : هیڅ ضرورت نشته قراره کینه بیا چیرته راونه غوځیږې

آیت : مورې زه ښه یم او زه به ګودر ته ځم اوبه نشته سو ورځې وشولې نه د سهار له خوانه ځم اونه هم د مازدیګر له خوانه خلک به هسې خبرې کوی چې آیت کبرجنه شوه چې د فرهاد ښځه شوه .

مور : ښه ځه لاړه شه خو په ځان پام کوه

آیت : په سترګو مورې

د فرهاد ښځه  نوم می چې واخیسته ځان راته یو ډول ښکاره شو الله دی نه کوی چی زه دی د فرهاد ښځه شم زه به یوازې او یوازې فرید سره واده کوم نور هیچا سره هم نه !

خپل لویه لوپټه می په سر باندې واچوله او منګی٘ می را واخیسته زما اوبه راوړل نه زما موخه د کور نه ووتلم

........فرید ........

له خوب نه پاسیدلم  سر می له درد له چاودیده ډیر درد یی کاوه چای می زړه ته نه کیده سو شیبې ناست وم له ځان سره می سوچونه کول چې ساعت ته می وکتل لسو بجوته پنځه دقیقی لا پاتې وی نو له ځان سره می وویل نن به آیت راشې کنه په دوو لارو کې بند وم لاړ شم که لاړ نه شم له ډیرو سوچونو وروسته دی موخې ته ورسیدم چې توګل په الله ان شاالله رابه شې چې ساعت ته می وکتل له لسوو نه پنځلس دقیقې تیرې وی وای زما خدایه یعنی پنځلس دقیقی ما سوجونه کول ځه نه به ځم آیت به تللې وی  بیا می وویل که هغه زما انتظار کوی نو بیا زه فریده ولاړیږه! او روان شه د آیت لیدو روان شوم د ګودر په لور باندې ډیر می ناوخته کړی وه زړه می د دی ویرې نه لړزیده چې آیت تللې نه وی او دیدن می ونه شی او زه به ورځ خنګه تیره ومه  یعنی ورځ به راباندې خنګه تیریږی ځکه زه عدت شوی وم چې کله به می دیدن وشو ټوله ورځ به راباندې ښه تیریده او که چیرې به ونه شو نو بیخې به ورځ نه تیریده او مجبوره به وم چی د ورځې هم دوه یا دری و خوب ګولې

وخورم  خلاصه ګودر نه نيژدې  وم چې آيت مى له لرى څخه وليده چى ورختا او نا قرار ولاړه ده يعنې هغې هم زما انتظار کاوه خو جالبه دا ده چى هغى ژړل هم خو ولې شايد د تيرى ورځې چې ګوژدې يى شوى وه  ..

......فرهاد .......

سهار وخته له خوب نه پاسيدم تقريباً  اوه بجى به وى مور مى ويښه وه باقى ټول ويده ول لاړم د مور په غيږه کى مى سره کيښوده او ومى ويل

فرهاد : زما مور څنګه سوچونو کې ډوبه ده هاااااا

مور : قربان زويه هيڅ سوچونه نه کوم هسې انديښنه مه کوه او دا ته څنګه دوخته له خوب نه پاسيدلى يى هاااا پرون ستړى ستومانه راغلې يى لاړه شه ويده شه هله شاباش

فرهاد : ما ويل چې خوږى مور سره لږ کينم او په غيږه کې يى سر کيږدم او په سکون شم

مور : ځه ولاړ شه دا سکون نه تښتې او کله چې دى خوب پوره شې بيا زما خواته راځه ژر لاړ شه سم صحې ويده شه زه په دى باندې خواشحاله کيږم  زويه !

فرهاد : مورې په خداى چې خوب نور نه راځې ګوټه کې مى زړه تنک شو.

په زوره يى کوټى ته وليږلم زړه مى تنک شوو لاړم موبيل مى را واخيسته او يو ناول ويل مى پيل کړل تر سو ساعت مى لږ تير شى زړه مى تنګ وو  ځان مى اخوا دى لس بجى شولې له کور نه بهر لاړم يو نظر مى وکړل چې ګودر نه بر ګودر نه انجونې را روانى او مى ويل آيت کور خو کوض کودر پلو دى نو آيت به هم ګودر ته راغلې وى لاړم د ګودر په لور ............

روان وم که سه هم لاره ډیره وه خو  مجبوره وم چې لاړه شم تر سو خپل جانان وګورم روان وم چې نیژدې ورغلم نو غړونه می واریده داسې ښکاریده چې یو هلک او نجلی  خبرې کوی جالبه وه غړونه راته ډیر آشنا ښکاریدل  وسوسه می شوه چې څوک به وی چې ومی کتل .........

........آیت......

ګودر ته ورسیدم  منګۍ می ډک کړ ما فکر کاوه چې فرید به راغلې وی خو نه یو ځل می ویل چې لاړه شم نه راځې بیا می ومی ویل چی نه لږ انتظار  به وکړم له ډیر انتظار وروسته رانغې وسوسه می شوه له ځان سره می وویل

آیت !
فرید به نه راځې ځکه زه اوس د بل شوم شوم ستونی می ډک شو او ژړا راغله نه پوهیږم ولې که چیرته زه فرید پریښودم  نو زه  ....   زه به څنګه ژوند کوم
آیا ......آیا ....فرید زه پریښودم

زه به اوس چاته ژوند کوم زه
فرید.......فرید ....له مانه په شاه شوووو خوو ولی.........
دی خبرو سره می ژړا زور واخیسته
چې سترګې می پورته کړی مخامخ منظرې زما د هیلو دنیا بیرته را ژوندې کړه  ومی کتل چې فرید دی او ورختا زما خواته را  روان دی
دومره .....دومره خوشحاله شوم چی لکه د جنت زیری رابندې شوی وی
فرید ماته را ورسیده  او وی ویل

فرید : څه شوی آیت ولی .....ولی ژاړې ته

دی خبرې سره می ژړا نور هم زور واخیسته
فرید می لاسونه په خپلو لاسونو کی ونیول او وی ویل

فرید : قربان دی شمه فرید دی له تا زار او قربان شی سه شوی زما ژونده زما ساه سه شوی زما آیت
په بنده بنده ژبه می وویل

آیت : هغ....هغه ......م....ماستا ډیر انتظار وکړ ...ما ....ما....فکر کاوه چې تا زه پریښودلم

فرید : اه زما لیونۍ اه ته په ما دومره هم باور نه لری هاااازه چې تا پریږدم نو ځان وژنم سه آیا څوک خپل ژوند پریږدي هاا آیت زه چې تا یوه ورځ ونه ګورم ورځ راباندې نه تیریږی او ته وایی چی زه دی پریږدمه

آیت : زه په تا پوره پوره باور لرم ځکه تر اوسه درته ولاړه وم چې ته راشې خوو هسې شیطان راته دا سوچ را واچاوه

فرید : او هو تا خو له ما سره وعده کړی وه چې نوره به نه ژاړم

آیت : کله چې فکر کوم چې ته به رانه بیلیږې رانه ماتیږی د صبر قسمونه زه په ځان نه پوهیږم

فرید زما اوښکې په خپل لاس پاکې کړی او کوم ویښته زما په مخ وه هغه یی زما د غوږ شاته یی کړل او وی ویل

فرید : د سترګو په ښایست دې ورته حد کړی دې خدایه
حیران حیران ولاړ یمه نن بیا د یار تصویر ته

ددی بیت په ویلو سره یی مسکا پر شونډو راغله چی د فرید ښایست او جذابیت یی سو چنده کړ ومی ویل

آیت : له سختو خاموشیو می پناه درته راوړی
ځانګړی مینوال دی یم لالیه او غریبه

فرید : واه واه ته خو شاعره هم یی

آیت : هو نو زه تاته کمه انجلی ښکارم

فرید : نه نه خدای دی نه کوی چې ته راته کومه کمه انجلې ښکاره شی

په دی وخت کی کوم چا په چغې سره وویل

ـ آیت !!!!!!!!

چې مخ می ور واړوه فرهاد وو نه نه خدایا ... کاش کاش چې خوب وی نه.... نه... کاش
وی ویل

فرهاد : ته دلته څه کوی هاااا ؟

دا وار یی چغه کړه او وی ویل

فرهاد: ته له فرید سره څه کوی هاااااااااا او .......او ..... .فریده ....ته ته دلته له دی سره څه کوی ته خو زما ....خوږ یار وی . .. ولی ولی هاااااا

فرید وویل

فرید : آرامه شه وروره پریږده چې وضاح......

لا یی خبره نه وه پوره چی فرهاد فرید واخته منډه کړه او د فرید پر وهلوو یی چی کله می پام شوو چې فرید .....مخ په وینو شوی دی نور می زغم خلاص شووو او فرهاد می له متې نه ونیوله او پورې می واهه او تقریباً چغه غږ باندی می وویل

آیت : بس کړه !!!!!!!!!!!!! بس دی .......بس دی ....خدای ...ته وکوره نور یی مه وهه زړه می ورسره ورانیږی ........بس!!!!!!!!!!!!!!!!!!!!!!

بغیر له دی چې فرهاد ته توجوه ورکړم د فرید خواته لاړم

په ځمکه ناست یی او له پوزې یی وینه راتله خپل سادر می ورته ونیوه او ورته می وویل

آیت : لاسونه دی ماته شه زما جانان دی کوم حال ته ورساوه

فرهاد زه له لاس نه ونیولم او خپل ځان خواته یی کش کړم او یوه کلکه سپیړه یی ووهلم دومره کلک وه چې په ځمکه ولویدم او سر می کنکس شو فرید چې ولیدل چې زه یی ووهلم نو راچیک شو او فرهاد یی څو کلک ...کلک سوکان په مخ وواهه او وی ویل

فرید : زه دی ډیر ووهلم خو ما څه ونه ویل خو آیت د آیت وهل او بی عزتې نه شم زغملې پوهه شوی رزیله آخر وار دی وې

فرهاد : په تا یی څه ها! زما خپله ښځه ده په تا یی س...

لا یی خبرې خلاصی شوی نه وی چی بل سوک یی په خوله یی وواهه او وی ویل

فرید : اوس دربنایم چې زه یی سه کیږم

فرید فرهاد له ګریوان نه ونیوه دومره یی وواهه چې بی ما فکر ګاوه چې مړ شوو ژر پاسیدم او می له لاس نه ونیوه او ومی ویل

آیت : بس دی قربان دیشمه بس کړه اوس به یی مړ کړی

فرید : پریږده چی ور وښایم چی زما مینی ته سپک تل سه معنا لری

آیت : نه نه بس کړه هسې یی په وینو لاسونه مه لړه

........فرید ........

د آیت په خبره می د فرهاد د وهولو نه لاس واخیسته او آیت ته می وکتل او ومی ویل

فرید : کوم ځای خو به دی نه وی خوږ کړی دی بی شرفه

آیت : نه زه ښه یم خو ته ....

.

آیت په ژړا شوه او په بنده بنده ژبه یی وویل

آیت : زما له لاسه ته داسې په وینو کی لت پت شوی ومی ښه هیله کوم

فرید : نچ  دا سره می له تا قربان زه چا لپاره ژوند کوم هاااا او له خپلو نه څوک مننه نکوی او نه ترې ښه غواړې

فرهاد ته می وکتل زما ډیر نیژدی ملګری وو نه می غوښتل چې داسې حالت ته یی ورسوم خو کله یی چې  په آیت لاس پورته کړ ددی حال لیدل د زغم ووتل
فرهاد خواته لاړم او ورته می وویل

فرید : یاره نه می غوښتل داسی دی ووهم خو د آیت د وهل او د هغی بی عزتې کول زه نشم زغملې زه ورسره ډیره مینه لرم چې په آیت دی څوک لاس پورته کړی

فرهاد ودریده او وی ویل

فرهاد : ښاااااا نو ته وخته مجنون او هغه دی لیلا شوی دی هاااااا اوس زما خبرې ته هم ښه غوږ شه  زما نوم به هم فرهاد نه وی که آیت ستا شوه پوهه شوی راځه آیت له ما سره

آیت زما مېټ ونیوه چې وی وویل

فرید : مه ویریږه زه درسره یم

.....حمیرا ......

په کور کې می زړه ډیر زړه تنګ شوی وو. مور می راته ناری کړی
مور : حمیرا !

حمیرا : سه دی مورې

مور : هله لورې د ګودر نه او به راوړه چی یخې اوبه نه لرو لورې اوبه لمر تودی کړی دی

ځل لپاره د سهار له خواه ګودر ته تک لپاره خوشحاله شوم ځکه زړه می بې حده تنګ وو ومی ویل سمه ده
لارم لو پټه می په سر کړه او دګودر په لور روانه شوم ګودر له لری نه ښکاریده چی دوه هلکان او یوه انجلې وه چې انجلې د یوه هلک لاس ونیوه غوښتل می چې پوهه شم چی څوک دی آخیر کله چې نیژدې شوم ګورم یو فرید او بل آیت بل هلک ته می ونه کتل او زه په خپلو غمونو کی شوم هغه ویره می چی درلوده ریښتیا شوه فکر می هم نشو کولې چې آیت دی زما لپاره داسې غم هم شی ور نیژدی شوم او کله یی چې نظر پر ما ولږیده نو په تلوار یی د فرید لاس پریښوده فرید ماته راوکتل او بیرته یی نظر له ما واخیسته لکه زه دی هیڅ څوک نه یم او اصلا مانه پیژنې ورنیژدی شوم او ومی ویل

حمیرا : دا څه روان دی فرید !

هیڅ جواب یی رانه کړ او هغه بل کس چې نه می پیژانده وی ویل

هلک : نور به څه روان وی لیلا او مجنون کیسه روانه ده نور څه

ددی هلک غږ بی حده خوږ راباندی ولږیده  غوښتل می چې جواب ور کړم چې
سترګې می ور واړولې  د هغه مخ د هغه تورې سترګې او وریځی د هغه شکل او
صورت زما ژبه بنده کړه زړه درزا می بې حده زیاته شوه ډیر ډیر ښکلې وو لوړ قد
سپین پوست لاسونو می لړزه واخیسته زړه داسې درزیده چې ما فکر کاوه چی اوس
به ودریږی سترګې ترې نه شوای اړولې .........
زه لا خپل ذهن کی  د دی هلک شکل اوصورت په تعریفونو بوخته وم چې راباندی
یی غږ کړ ..

فرهاد : تاته وایم  ته څوک یی او د فرید څه کیږی
تازه خپل حال ته راغلم وی ومی ویل

حمیرا : هغ....هغ.هغه زه ..زه یی د تره لور یم

البته ومی نه ویل چی په نوم یی هم یم
وی ویل

فرهاد : اهاا نو ته د یوسف لور یی فرید خو کوم بل تره نه لری او ته به هماغه انجلې
یی چې سو ورځې بعد به ورسره ګوژده کوی کنه ؟

سر می ورته د  هو په بڼه وخوځاوه
بیا یی په حیرانتیا سره وویل

فرهاد : یعنې ته اوس هیڅ خفه نه یی چې ګوژدن دی له بل چا سره مینه کوی او تا
ته لا درګوری هم نه

یو نظر می فرید ته ور واچاوه  چې ډیر غمجن وو بیرته می فرهاد ته وکتل او ومی
ویل

حمیرا : ښه کوی اصلاً په تاسو یی څه هاا! تاسو څوک استی دوی له یو بل سره مینه کوی او په دی خبره یی زه همدا شیبه خبره شوم او ولی به خفه کیږم هاا!
فرهاد په حیرت ویځی پورته کړی چې ما دوام ورکړ
نن خبره شوم او ښه هم خبره شوم دوی له یو بل سره مینه کوی یو بل سره دی واده وکړی خو افسوس چې آیت ګوژدن شوی کنه نو زه به دلته نه وم ولاړه او تاسره به می خبرې نه کولې ددوی نکاح به می تړلې وه پوهه شوی

فرهاد وخندل چی په خندا کی سو برابره نور هم خایسته ښکاریده په خندا یی وی ویل

فرهاد: که په یو انجلې که دوه مئین وی نو بیا ته چاته انصاف ورکوی هغه وخت ته ما هم ملامته نه کښې کنه ؟!

په حیرانتیا می ورته وویل

حمیرا : یعنی څه ؟!!
وی ویل

فرهاد : زه فرهاد یم د آیت د ترور روی او د آیت خاوند او هم پرې مئین یم له ځانه هم ډیر

د مئین یم یی په کلک وویل

زړه می ټک وکه داسې شو لکه مات چې شی او زه یی غږ واورم ما ټولې خبرې ځکه وکړی چې زه یو
دوه انسانان خوشحاله کړم چی الله ما خوشحاله کړی خووووووو ..ولی تل زه ولی تل زه درد وینم

هااااااا په ناهیلې او غمجن غږ سره می وویل

حمیرا : خااا وبښه نه وم پوهه شوی

ددی په ویلو سره د کور په طرف روانه شوم دومره ..دومره خفه او پریشانه شوم چی له سترګو نه می ډیره موده بس اوښکې روانې شوی حیرانه ومه ځان ته چې ولې زه ژاړم آیا زه هغه حمیرا نه وم چی د چا په مرګ به می هم نه ژړل زه هغه نه وم چې د غرور نه به په آسمانونو کی کرځیدم او نن د هغه چا لپاره ژاړم او اوښکې تویوم چ، زما هیځ هم نه کیږی خو ولې هاا ولې می د جنون په آمتیاز له ځان سره لګیا شوم آیت ......آیت ....څومره بختوره ده کنه چی له فرهاد سره به واده کوی .... نه ....نه هغه هم زما په شان بد بخته ده ځکه په فرید مئینه ده اووووف خدایا لیونۍ کیږم ...خو بیا هم له فرهاد سره خو به خامخا واده کوی کنه ........بیا می ځان ته تسلیت ورکاوه چې فرید له فرهاد نه سو چنده ښکلې او جذابه دی خو بیا هم همدا اوښکې وی زړه می تسل نه کاوه او اوښکې می په بارخوګانو روانی وی اوښکې می پاکی کړې چی څوک می ونه وینی او کور ته لږه لاره پاتی وه کور ته ورسیدم چې مور می راباندی نظر ولږیده وی ویل

مور : ولې دومره ژر راغلې هااا او دا سترګې دی ولی داسی دی ژړلې دی دی څه هااااا

غوښتل می لحجه می ترخه او پخوا په شان کړم که څه هم ځان راته د نړۍ تر ټولو بد بخته جلې ښکاریده
په ترخه لحجه می وویل

حمیرا : نه مورې هسی لمر ډیر تیز وو ما ویل چی لږ ژر به را شم کور ته

مور : ښه منکۍ دی نو څه کړو

زړه می خولې ته راغې چی پوهه نه شی او زما له خولی حقیقت راونه باسې ژر می وویل

حمیرا : موری مات شوو منګی!

مور: د هغی لپاره د ژړل ؟

ومی ویل

حمیرا : نه مورې ما هم کله د څه لپاره ژړلې چې اوس د یو بې کاره منګی لپاره و ژاړم هااا زه د چا په مرګ نه ژاړم دا خو لا وړوکی منګی دی

مور : هو لورې ستا له سر نه دی ځار شی او هو لور داسې د کبر کبر خبری مه کوه چې همدا انسان داسی کوی له د غوښی ماشین کی چې ژوندې انسان ور واچوی او میده میده تر وا ووځې همداسې کبر او غرور انسان په ماشین ټوټه شوی غوښی په شان کوی

حمیرا : مورې یعنی څوک چی غرور کوی الله تری هر څه اخلې ؟

مور : هو لور څوک چې کبر کوی الله تری مال دولت ځوانې عزت خوشحالې صحت هر څه ترې اخلې ته هم غرور مه کوه دی ورځو کی ماته ستا باره کی ډیری خبری راوړی چې په هر چا کبر کوی پام کوه لور چې کبر درنه و نه شی کنې الله به درنه هر هغه شئ واخلې چی ته پرې نازیږې لورې غرور مالا ماته وونکې دی

حمیرا : په سترګو مور جانې

ما په لومړی ځل مور ته مور جانه وویل مور می زه په تندی ښکل کړم وی ویل

مور : آباده اوسې بچی

بیا یی وویل

مور : اوس ووایه ولې دی ژړلې دی

حمیرا : وه مورې نه می دی ژړلې ما هم په عمر کی چیرته ژړلې چې اوس و ژړام لږ مخکې که دی پام وه چې سیلۍ وه د سیلۍ سره سترګو کی می خاورې ننوتې نو ځکه

دا چې ما په عمر کی هم ژړا نه وه کړی مور می باور وکړ
په تلوار خپلې کوټی ته لاړم .

.......آیت ..........

کله چې حمیرا راغله نو ومی ویل چې ختمه شوی آیت ....آیت ختمه شوی اوس ځان نه په خپله قبر وباسه ځکه بل څوک خو به یی هسې هم نه وباسې پلار به دی په خپلو لاسونو مړه کړی

خو څنګه چې ما فکر کاوه هیڅ داسې ونه شول حمیرا خبرو زه بیخې حیرانه کړم نه پوهیږم ولې د لومړی ځل لپار می حمیرا دومره غمجنه او معصومه ولیده هیڅ هغه انجلې نه وه چې په کبر او بد اخلاقې په ټول کلي کی مشهوره وه حمیرا خبری خلاصې شولی او لاړه خو وروستی خبره یی چې وکړه په ژړا سره وه چې زه یی حیرانه کړم حمیرا ما له ماشومتوب نه پیژانده ما کله هم حتا په غلطی کی می هم نه ده لیدلې چې و دی ژاړی کله چې مونږ کوچنې وو لوبې مو کولی چی حمیرا په پښه باندی یوه غټه تیکه (ډبره) ولویده او پښه یی هم ماته شوه او هم زخمی ډیرې وینی تری روانی وی حتا زما لا هغه وخت ژړا راغله خو حمیرا هیڅ ونه ژړل حیرانه ورته وم خو اوس ولژ یی وژړل کوم انسان چې نه ژاړی او بیا کله چی وژاړی نو دنیا هم له ځان ژړاوې ریښتیا هم نن د حمیرا ژړا زه
هم وژړا ولم

چې د فرهاد غږ تازه په خپل حال شوم راته یی وویل

فرهاد : تا ته وایم آیت  راځه ماسره هله شابه !

په ژړا می ورته وویل

آیت : ما ووژنه زه درسره ځم خو خیردی زما پلار ته سه مه وایه خیردې

فرهاد ترخه مسکا وکړه وی ویل

فرهاد : که زه دومره ظالم وای همدې شیبه کی به می وژلی وی

زما له ځای نه فرید وویل

فرید : آسانه دی څه زه به یم او ته به داسې کوی

فرهاد : ته مداخله مه کوه هیله کوم

فرید : د مداخلی وړ همدا زه یم

فرهاد : بس کړه خدای لپاره نور بس کړه

فرهاد ما ته وکتل و وی ویل

فرهاد : راځه بس دی نور ناوخته دی

فرید :   دا له تا سره هیڅ ځای ته نه ځې پوهه شوی

فرهاد : ښه نو داسی ده

بیا یی را وکتل او وی ویل

فرهاد : آیت زما سره راځه چې په سمه توګه دی کور ته ورسوم نه ما سره رانغلې نو ټول کلی به در باندې خب........

لا یی خبرې ختمې نه وی چی فرید زما لاس ونیوه او له ځان سره یی روانه کړم

فرهاد غږ راته  ویل یی.

فرهاد : خپله دی غوښتل بیا له ماته ونه وایی چې خبره نه وم

په ژړا می فرید ته وویل

آیت : پریږده  مې لاړه ورسره شم کنه نو ټول به راېان......

فرید خبره را پرې کړه او وی ویل

فرید : لاس یی خلاص چې هر سه کوی اول وی که آخر وی خلک خبریږی بهتره ده چې همدا اوس پوهه شی

غوښتل می خبره وکړم چی فرید وویل

فرید : بس نوره به خبره نه کش کوی که زما په مینه شک لری نو ملتیا می نه کوه او لاړه شه دد رزیل سره که نه یی لری نو وګوره چې زه څنګه تا خپلوم ژمنه می ده درسره

نور ټوله لاره غلی وو کورته ته ورسیدم فرید وویل

فرید : په ځان پام کوه او خبردار که بی ځایه ژړاګانی دی وکړلې ښه زما شهزادګی

په مسکا می ورته وویل

آیت : په سترګو

فرید هم نری مسکا په شونډو راغله
خدای په امانې مو وکړه او فرید روان شو زه هم کور نه ننوتلم چې مور می وویل

مور : په خیر راغلی لور دومره دی ناوخته ولې کړل

آیت : مور سره می درد کاوه هله لږ هوا ښه وه ځکه

مور : ښه څه دا خبرې پریږده فرهاد راغلیۍ دی زه

ورته چای دم کوم ته ورسره کینه تا لیدو ته راغلي دی
زړه می خولې ته راغلی زړه می و لړزیده خدای اوس به سه کیږی ...........

زړه می خولی ته راغي اندیښنه می ډیر وه ویردلی وم لاسونه می لړزه واخیسته د
زړه درزا می بې حده شوه چې او به زما دی ژوند سره څه کیږی فرهاد ......

به ما رسواه کړی زه څه وکړم یا الله ته راسره مل شه په بسم الله ویلو سره ننوتلم
او په لړزیدلی غږ می سلام واچاوه

آیت : س.....سل...سلام ف..فرهاد!

ځواب یی رانه کړ د فرهاد نه لری په یو کنج کی کیناستم فرهاد ډیر غصه وو
سترګی یی سرې وی اوو له کینې په ډک آواز سره یی وویل چی زما زړه یی ولړزاوه

فرهاد : ولی په ما کی دی سه کم لیدلی وو هاااا آیت زما سه دی نه وو خوښ شوی
زه له هغه بدبخته نه سه کم لرم ولی آیت ولی دی زما له ژوند سره لوبی وکړی هااااا
؟

کوم ځواب می نه درلود بیا یی وویل

فرهاد : کله چې دی هغه خوښ وو ولی دی ماته وویل ستا لکچې ډیر خوښیږې دوه
..دوه وساتی هاااااا
بیا می هم څه ونه ویل چې هغی ادامه ورکړه

فرهاد : ما فکر کاوه چی ته په ریښتیا هم میړنې لور یی چې له پلار سره کار کوی خو نا!!!!!!! نه نه نه زه ختا شوی وم لعنت دی په ما وی چی په تا می ښه گمان وکړ زه غلط وم زه   زه العنتی غلط وم ولی می د یوی فحاشې سره مینه کوله هغه چی د کار په بهانه یارانی  کوی ......

صبر می ختم شوو او ومی ویل

آیت : زه .....زه فحاشه یم ها!!!!!!فرهاد....زه  .....لعنت دی وی ...لعنت دی وی په هغه ورځ چې ما پلار ته وویل چې هوو........پخدای بد می وکړل په اللّٰه می دی قسم وی چی زه په بده لاره نه یم تللی ......کاش  ....کاش ..زه په هغه ورځ چې زما له لعنتی خولې هووو ووتل کاش چی گنگه شوی وای کاش ځمکه ځیرې شوی وای او زه پکې ننوتلې وای کاش ساه می ستونی ته راغلې وای او مړه شوی وای
دواړه لاسونه می دد لپه کړل او دعا می وکړه
آیت : یا اللّٰه تا تا خو زه لیدلم تاخو زما کارونه لیدلې تاخو زما له زړه خبره یی یا اللّٰه که چیرته دا ستونزې حل کوی حل یی کړه که نه کیږی یا خدایا!!!!!!!!!!!!! وامی  خله خییییییردی وامی خله خدایا!!!!!!!
غږ می دومره او چت شوی وو چې مور می وارېده او گوټی ته راغله وی ویل

مور : خیریت دی لورې ولې چغې وهی

......فرید .......

آیت می کورته ورسوله او د کور په روان شوم پوهیدم چې حمیرا به کلي خبر کړی وی خو.....خو...خو...خو  . نن د حمیرا کار زه حیران کړم نه پوهیږم ولی یی داسې خبرې وکړی او زه یی څه نا څه وژغورلم خو ولې حمیرا ولې داسې وکړل هغه حمیرا چې زما په یوه خبرې یی ټول کلي خبر کړی وو نن یی زما ژغورلو لپاره داسې کار وکړی چی زه یی په حیرت  کې واچولم هغه له ما سره مینه لری که ما داسی عذاب وجدان کې اچوی ولا خبر نه یم اول چې حمیرا راغله ډیر ووریدلم او ځان سره می

وویل خلاص شوی فرید خپل قبر اوس خپل وکاږه چی له مرګ وروسته څوک ستا نه قبر کاږی او نه دی جنازه کوی خو حمیرا زه د مرګ له خولې وژغورلم او لومړی ځل لپاره یی خپل احترام او قدر زما په زړه کې واچاوه د مننې او بښنې لپاره یی کورته ورغلمه نه پوهیږم مننه وکړم که بښنه ترې وو غواړم خیر د حمیرا د کور لاره مې ونیوله

.......فرهاد .......

ته می شو زغملې قسم دی له زغم ووتلم او آیت می په سپیږه ووهله څومره بدبخته یم کنه د مینی اظهار په ځای می په خپلې معشوقې لاس پورته کړ له بلې خواه فرید ووهلم دومره زیات چی ما فکر کاوه چی وروستې ساه ګانې می ده له خولې او پوزې می داسې وینی روانی وی لکه چینه روانه وی ډیره هڅه می وکړه چې ځان د فرید نه خلاص کړم خو ونه شو دوه ګوزارونو نه به می ډیر نه وی وهلې د هغې پوزه لړ وینی شو او لاس یی پرې شو چې هغه هم د تیکی په وجه آخر  یوه انجلی راغله چې د فرید راتلونکې ښځه راتله په سختې پاڅیدم .هغې دومره  د فرید او آیت خواه ونیوه او بې ګناه یی ثبات کول چې یو ما فکر وکړی لکچې زه احمق یم او دوی دواړو باندې ظلم کوم بیا می وویل له ځان سره ویل یا لیونی ده یا پرې ښه پوره مئینه ده جلې ښکلې وه لوړ قد غنم رنګ ته ورته پوست غټې سترګې چیکه نری پوزه ګلابی شونډې یی لرلې چې ما دا ټول هغه وخت چک کړل چې هغې ماته خبرې کولې  ښکلې وه خو د آیت په انداز نه نو جلې خبرې خلاصې شوی خو زما په وروستې خبرې باندې یی سترګې ډګې شوی یو ځل می فکر وکړ چې راباندې مئینه شوی خو به نه وی چی د خاوند په کار نه ژاړې او زما په دی خبره چی د آیت خاوند او مئین پرې یم ژاړې خووو په هرحال جلی په ډک زړه لاړه او هر څومره می چې آیت ته وویل چی له ما سره لاړه شه کنې رسواه کوم دی خو فرید له لاس نه ونیوله او له ځان سره یی بوتله زه یوازې په میدان پاتې شوم ځان می ډیر کم زوری احساس کړ خپلو ټپونو ته می وکتل ډیر درد یی کاوه خو ومی ویل پرواه نه کوی زه

دا قسم کوم چې ترڅو می آیت ټول کلی ته رسواه او خپله کړی می نه یی په آرامه به کینه نم لاړم د آیت کور پلو ورسیدم خو آیت نه وه ...... له غوصې نه می اه وویست ....ترور رانه د ټپو او بد حال پوښتنه وکړه او ما ورته وویل چې بیا به پوهه شې ځکه غوښتل می نن د ټولو مخکې یی و شرموم لاړم کوټه کې کیناستم له څو شیبو وروسته په لړزانده قدمونو آیت را ننوته او سلام یی راکړ خو ځواب مې ور نه کړ خپلې خبرې می وکړی چی آیت په چغو شوه او د ځان لپاره یی ښیراوې پیل کړه زړه می ډیر ودردیده چې آیت می داسې کم زورې ولیده زړه می غوښتل چې آرامه یی کړم خو زړه می ویل له تا سره چې څه کړی هغه به څنګه شی ترور په بیړه او ویرې سره راننوتله رتګ یی پریدلې وو وی ویل

مرجان: څه خبره ده

ځواب کی می وویل

فرهاد :زه درته وایم ترورې د خپلې لور کارونه دی

آیت : په خدای قسم مورې زه فحاشه نه یم

فرهاد : هغه که نه یی نو دا نور کارونه خو دی هم سم نه دی کنه

مرجان : د څه شئ فحاشه احمقه ته زما لور ته فحاشه وایبی زه ورک شه زما له کور نه!!!

په ټیلو یی شروع وکړه غوښتل یی چې ما په ټیلو له کوره وباسی په لوړ غږ می وویل

فرهاد : ترورې لورې دی یارانی کوی !!!!!!!

زه یی پریښودم او وی ویل

مرجان : څه

فرهاد : ومې لیده ورسره.

آیت ته می وکتل سترېی یی له اوښکو ډکې وی او ماته یی کتل ځان ته می وویل ای احمقه تباه دی کړه خو څه وکړم اوس خو اوبه له اړخه تیرې وې
ترور ویل

مرجان : چا سره ؟

فرها د :  فرید

دا می وویل له کور نه یی را ووتلم او کور لاره مې ونیوله هم پښمانه وم او هم می ویل چې حق یی وو ولې ماسره یی چی داسی وکړل خو بیا هم کړی کار وو او ما قسم خوړلې وو او قسم خو څوک نشی ماتولې کور ته ورسیدم او بغیر له دی چی سلام یا چا ته وګورم ډاریک خپلې کوټې ته ننوتلم خپل په کټ پړمخ ځملاستم او سترګې می پټی کړی په دی هیله چې خوب راشی او دد غملړلې نړۍ نه لږ وخت لپاره بی خبره شم خووووو خوب نو چیرته راته ههههه تاسو هم کله کوم کس لیدلې چې په غمونو او دردونو سره ویده شی د ور ( دروازه)  د غږ په اوریدو می واریده مور می وه
مور : مور دی ځار شه ولې زویه

فرهاد : پریږده می مور خیردی

دی خبری سره می مور لاړه او ډیر تری مننداویه یم چې پریښودم یی  ځکه مور می زما په عدت پوهیده چی زه کله خفه یم نو نه می خوښیږې څوک  تسلیت  راکی یا راسره اوسی شاید ډیر کسان همداسی وی زه هم د هم له همدوی نه یم  بس خپلو غمونو می داسې ډوب وم لکه خاوره چی یو وار چې په اوبو کې واچول شی بیا

هیڅکله هم پخوانۍ حالت ته نه راځې د پرون وخت رایاد شوو چې را روان وم او سخومره خوشحاله وم او نن اوف اوف ژوندونه څه درته ووایم .....

.......فرید ........

دحمیرا دوی کور ته ورسیدم دروازه می ډک ډک کړه د حمیرا مور دروازه خلاصه کړه څه می چی انتظار در لوده حتا یو فیصد هم داسې نه وو بیحده خوش اخلاقې سترې مشی وکړل او کور ته یی دعوت کړم څه وخت ورسره ناست وم چای یی راوړ ومی ویل

فرید : حمیرا چیرته ده تروری لږ کار می ورسره وو

حمیرا مور : هغه بلې ګوټه کی ده ورشه زویه

فرید : سمه ده

لاړم هغې کوټه چې حمیرا پکې وه ور می خلاص کړ حمیرا خپل سر په زنګون ایښی وو او د سلګیو آواز یی راته ورغلم او تقریباً نیژدې ورسره کیناستم
چې په ژړا ټک غږ یی وویل

حمیرا : مور یو ځل می درته وویل چې زړه ته می نه کیږې ولی بار بار راته ولې واېی چې راشه

لنډی چوپتیا نه وروسته می وویل

فرید : ښښنه غواړم هیله کوم ومی وښه

حمیرا په تلوار سر را پورته کړ او په حیرت یی وویل

حمیرا : ته ! ته دلته څه کوی هاا!

فرید : پوهیږم چې خفه یی هیله کوم ومی بښه

حمیرا : مکم تا څه کړی هاا

فرید : څه می نه دی کړی ها

حمیرا : اول خو زه تا نه نه یم خفه او که ته بیا هم ځان ګرم بولې نو څه ومی بښلی او هیییییله کوم لاره ومی بښلې او هو زه به یی هیچا ته هم نه وایم او نه می ویلی بس لاړم فرید!!!!!!

له خوانه یی جیګ شوم او خپل کور ته لاړم مور سره کیناستم څه ساعت ناست وم ورسره بیا ترې راجیک شوم خپلې کوټې ته لاړم نوی ناول می ډانلوډ کړ په نوم د شبه پاڼه ناول وو او په لوستلو یی پوخت شوم زه به چی کله هم اندیښمن یا خفه وم نو ما به ناولونه لوستل او ځان به می په همدې بوخت ساته تر څو مې په مغرو ډیر فشار رانشې ...

.......آیت .........

هیڅ تمه می نه درلوده له فرهاد څخه خووو زه یی افشاه کړم خپله لاره او زه یی له دردونو او غمونو سره پریښودلم
مور می راته په غصه وویل او له ویښتانو نه یی ونیولم

مور : هممممم ما ویل لور می څنګه هوښیاره هم زړه سوانده ده چې له پلار سره کار کوی

له ویښتانو نه یی خوشې کړم او وی ویل

مور : زه شرمیږم چې تا غوندی اولاد می دی دنیا ته راوړی سم صحی هلک ته می ور کړی څه پری شوی وو ها!! او بیا دا څوک دی ها! کوم فرید کوم..... کوم ها!!!!!!!
...

هیڅ می ونه ویل ورته پوهیدم که کوم سه ورته ووایم نو ژوندې می نه پریږدې او زما مور یو عدت درلود تر ټولو کوچنې خبره به یی هم زما پلار ته کوله او هیڅ شئ به یی ترې نه پټاوه ډیره ویردلې وم اوف !!!! خدایا پلار می که خبر شی نووو

بت په شان ولاړه وم او مور می را باندې لعنت ویل صبر می ختم شووو ومی ویل

آیت : واه مورې واه ښه خبرې راته کوی دا روزنه چې تا راکړی کنه ما هماغه شان عملی کړی

مور : کاش کاش خدای خبر دی چی نور څه به دی کړی وی

آیت : ها!! مور زه زه سم اورم په الله می دی قسم وی چی ما فرید سره د پاکی او صفا مینی نه علاوه هیڅ کوم کار نه دی کړی بس الله شاهد دی نور زړه دی  باور کوی کنه

دا خبره مې وکړه او خپې کوټی په لور روانه شوم اوښکو می په مخ بې حساب لاری جوړ کړی وی زړه می له دنیا نه تور شو په خدای ستړی وم لدی بد کمانیانو نه هر څوک به چې خبریدل نو اول سوچ به یی زمونږ په اړه غلط وو  ډیر سوچ ډیر خفگان او ژړا نه می ناروغې بیا راباندې حمله وکړه بې هوشه شوم خو کله می چې سترگې خلاصې کړی هیڅوک هم راسره نه وو حتا مور مې دا حالت لیدل زما زړه چاوداوه بس څه به وکړم د مینې درد وو او د مینې سزا همداسې سخته وی دی معاشرۀ ماته د مینې سزا راکوله او بیا په پښتنو کی بیا مینه کفر گڼل کیږی پوهه شوی وم چې پلار می هم خبر شوی که نه وی خبر خامخا دی  کنی که چیری به زما معمولې تبه هم وه زما سر ته به ناست وو خو اوس زما دا حالت چې حتا ما خپله په خپل ځان زړه سوځاوه دی حالاتو په لیدو می له سترگو اوښکې روانې وی خو خیر ما دا ټول

به زغمم صرف او صرف فرید لپاره بس ما په ټوله معنا ورسره مینه کوله ما د فرید د هر څه سره مینه کوله حتا درد سره یې سر مې ډیر درد کاوه خو دا درد هم د فرید له امله وو نو ما ورسره مینه لرله بس ما له درد سره مینه درلوده بدن مې ډیر درد کاوه عجیبه وه له دې درد مې سره مینه کوله او خوشحاله ورته وم
دروازه ټک ټک شوه او پلار مې په چغو وویل

پلار : راووځه فحاشې !!!!!!!

ډیره وریدلې وم نه پوهیدم چې سه وکړم پلار مې دا ځل یې دروازو ته لغته ورکړه او وې ویل

پلار : راوځه کنه کنې ماته وم یې او مړه کوم دې که دې خلاصه نه کړه....

.......حمیرا .......

لا کوټې ته کله خوا کله بل خوا زړه مې تنګ وو بیخې ډیر هیڅکله هم مخکې داسې نه وم شوې د زړه تنګون نه ژړا راتله سر مې په خپل زنکون کیښوده او سلګیو ونیولم ژوند ټول ژړا ژړا هغه حمیرا پاتې نشوم هغه غرور مې مات شو خپل ځان مې نه پیژانده چې زه څوک یم زه هغه حمیرا نه وم چې د غرور نه به آسمانونو کې کرځیدم زه هغه نه وم چې نور به راته انسان نه ښکاریدل زه هغه نه وم چې له ځان سره به خوشحاله وم زه هغه نه وم چې یوه خبره مې هم په ځان نه پریښوده بس تمام شو حمیرا تمامه شوه خلاصه شوه مغرورې حمیرا زړه بایلوده زړه یې بل چاته ورکړه په دې فکرونو مې لا ژړا زیاته شوه زړه له ټولې نړۍ نه نیولې شوو ځانه ته مې ویل ولې ژوند کوې حمیرا ستا د ژوند مطلب څه شوو هااا
ددروازې د خلاصیدو غږ مې تر غوږ شو فکر مې کاوه مور مې ده او ماته یې ډوډې راوړې ده خو چې سر مې پورته که فرید مې ولیده چې بې حده غمجنې څهرې سره زما مخې ته ناست دې که ریښتیا ووایم ډیر زړه مې پرې خوګ شوو څومره مجبوره

دی کنه ماته راغلې چې پخلا می کړی زه داسې حالت کی وم چې نه می غوښتل چې
څوک راسره اووسی څو خبرو کې می ورسره خبرې ختم ې کړی بښنې ته راغلې
وو ما هم وبښه او رخصت می که او زه پاتې شو خپلې غمونو او دردنو سره پاتې
شوم بیا هماغه لیونتوب بس څه وکړم ځان می ډاډه کولې نشو چې زه دی پرې
مئینه شوی یم خوو زه غلطه وم او چاته می ویلی هم نشوو که می فرید ته ویلې
وای نو فکر به یی کاوه چې قصد ترې اخلم همداسی به فرهاد او آیت او حتا ټولو به
سوچ کاوه مینه نه وه زما جهنم وه ولا ډیره سخته وه بیخې ډیره.. ...

.....فرید ......

تر یو ځایه می ناول ولوسته ډیر یو ښکلې او رومانتیک ناول وو دا یو له هغه ناول
له جملی خخه شوو چې زما ډیر خوښیدل ناول بند مې کړ پام می شوو هوا تیاره
وه ولاړ شوم اودس او لمونځ می وکړ او د زړه له خلاصه می دعا وکړه چی آیت دی
خدای زما کړی د زړه سکون لپاره می قرآن را واخیسته او تلاوت می کړ قربان می له
الله ﷻ نه کې چې زمونږ لپاره یی داسې ښکلی کتاب رالیږلی زړه ته می خاص
سکون پیدا شوو هیڅ کوم بل څه کی داسې سکون نشته لکه څومره سکون چې په
قرآن پاک کی دی د تلاوت وروسته لاړم چې د کورنۍ سره هم لږ مجلس او خبرې
وکړم چې کله له خپلې کوټې نه ووتلم عجیبه وه مور می ژړل هوسې هم د دیوال
کونج کې خفه ناست وه حیرانه وم چې څه سوی حمیرا هو به دوی نه وی خبر کړی
مورته می وویل

فرید : څه شوی مورجانې تاسو ولی ژاړې

مور : ځه لاړ شه چی پلار به دی خفه کړی کوټی ته لاړ شه هله

فرید : ولی ما څه کړی

پلار می د شاه لخوانه را غږ کړ

پلار : نور به څه کوی په شرمونو خو دی وشرمولو د خلکو لورانو سره یارانې  کوی

باورې شوم چی حمیرا ویلې لعنت می په ځان ویل چې ولی می پرې باور وکړ هغه مکاره هیڅ وخت نه بدلیږې
پلار می وویل

پلار : فرهاد وویل ټول کلی دربانديې خبری کړ اوس کینه لاس تر زنی

چی پلار می څه وویل تازه می فکر فرهاد ته شو چې هغه هم خبر دی ومی ویل

فرید : ما خو کوم بد کار نه دی کړې او که خبره وی خبر دی کړې زه د چا پرواه نه کوم او ما کوم غلط کار نه دی کړی مینه می کړی چې دا هم زما خپل اختیار کې نه وه

پلار : ههههههه خبر یی چې ستا او د ګل آغا په اړه خلک څه څه وایی
فرید : پلاره ته فکر کوی زه یی پروا لرم چې څوک څه وایی

پلار : خا حمیرا به څنګه شې

فرید : هغه ستاسو غلطې وه  نه زما نه اوس یی خپل حل کوی

پلار :  خه صحې ده حل کوم یی خه یی حل کوم

بیا یی مور ته وکتل او وی ویل

پلار : هیڅ ضرورت نشته چې ګوژده مژده وکړه سبا ته یی  ډاریک نکاح کوو او ناوی کور ته راولو ځکه یوسف هم خبر شوو

ومی ویل

فرید : زه یی نه کوم څه زور خو نه دی

پلار : ښه بیا ورک شه زما له کور نه او بیا زمونږ طرف ته هم را ونه ګورې

فرید : مه کوه پلاره مه کوه داظلم زمونږ آزار مه اخله
پلار می زما خبره نادیده  ونیوه او مور ته یی وویل

پلار : سبا ته د نکاح بندوبس ونیسه چې نکاح وشی او ناوی راولو  بیا څوک فرید نه بدنامیږی او نه هم هغه انجلې

مور : ښه !

ومی ویل

فرید : د څه شی ښه هااااا څه شی هاااااا
کیناستم او د مور لاسونه می ونیول او ومی ویل

فرید : خیردی مورې ته می پلار پوهه که خیردی ته سوچ وکه زه به ژوند څنګه کوم هاا

مور : پلار دی خبره کړی زه سه نشم کولې
بیا می هوسی ته وکتل

فرید : ته د خپل ورور غم نشې لیدلې کنه ته می په پلار ګرانه یی ته یی ورته ووایه چې زما واده دی حمیرا سره نه کوی

هوسی په ژړا وویل

هوسی : ومی بښه وروره زه د پلاره په خبره خبره نه شم کولی ومی بښه ......ومی بښه بدبخته..... وروره ....ومی بښه ...........

هوسی نه کاملاً نا امیده شوم پلاره ته می مخ ور واړوه ومی ویل

فرید : خیردی پلاره داسې ظلم راسره مه کوه هیله کوم زما ژوند به خرابه وه خیردی پلار جانه زما سکون له ما نه مه اخله.

پلار می له اوږې ونیولم او وی ویل

پلار : ګوره بچی زه هم نه غوارم خفه شی نه غوارم وژاړې نه غوارم بی سکونه ژوند وکړی د پلار ګرانه  زویه زما ګرانه زویه که نن دا کار ونه کړو سبا به په اوچت سر په کلی کڅ کرځیدې هم نشی زویه که داسې بد نامې نه جوړدیه نو نن به زه خپله د ګل آغا د لور مرګې ته تللی وم او ستا لپاره به می غوښتې وه خو نه کیږی زویه تاته هم مشکل جوړیږې او هغې انجلې ته هم زه پوهیږم تاسو کوم غلط کار نه دی کړې خو خلکو فکرونه لنډ دی او هر رنګه خبرې درپسې کوی که ستا نکاح وشی فرهاد دروغجن ثابتیږې او هغه انجلې هم بچ کیږی او که ونه شی نو ستا ژوند هم عذاب کیږی او د هغې هم نن خبر شوم چې پلار یی ډیره وهلې که ځان کیسه می نه یی د هغې فکر وکړه سبا  به مړه یی.......

کله می چې واریدل چې آیت وهل شوی له ځای نه پاسیدم او ومی ویل

فرید : ځه وهلې یی ده هااااا

پلار : هو که ته نکاح ونه کړې مړه به یی کړی

فرید : ګورم به چې اول څوک مړه کیږې

داخبره می وکړه او له کور نه په نیمه شپه بهر شوم او د آیت د کور لاره مې ونیوله او باورې وم چې یا به زه وژل کیږم یا به بل څوک وژنم د آیت کور ته ورسیدم دروازه می خه په زوره ووهله ګورم چې مور یی را ووتله

د آیت مور : سلام زویه څوک دی پکار دی  چې نیمه شپه کې راغلی یی او دروازه ولې داسې په زوره وهی هاااا ؟

فرید : تروري د بحث حوصله نه لرم ته له مخې نه می لری شه

هغې اجازه نه راکوله خوو په زوره دننه شوم او چغه می کړه

فرید : چیرته یی ګل آغا راشه له ما سره خبرې وکړه په ښځو لاس اوچتول خو هر چاته ورځی !!!!!!!!!!!..

راووت او کله یی چې زه ولیدم نو ترخه مسکا یی وکړه او ویل

ګل آغا : خه نو ته یی عاشق جان

فرید : هو زه یم کاکا

ګل آغا : څه غوارې معشوقې پسې دی راغلې یی  خو زړه دی جمیی تا ته یی نه درکوی که ځان هم مړ کړی

فرید : خااااا نو داسې ده

بیا می چغه کړه

فرید ; آیتتتتتتت هله راووځه !!!!!!!!

.......آیت .........

کله می چې دروازه خلاصه کړه نو پلاره می زما په وهلو پیل وکړ دومره یی ووهلم چی پوزه نه مې وینې را روانی شوې سترګو لاندې برخه می شنه (کبوت) شوه او زه یی په ګوټه کی بندې کړم سو ساعت تیر شول په دی سو ساعتونو کې می خپلو زغمونو ته یوازې ژړل او زړه کی می ویل خیر که درد کوی آیت مګر ته د فرید سره مینه نه لری دا درد هم د هغه په وجه دی بس ته له درد سره هم مینه لری د فرید له درد سره هم مینه لری زه لا په همدې سوجونو کی ومه چی د فرید غږ می تر غوږ

ځوو یو ځل می ویل چې نه هسې زه خطا شوی یم خو نه ریښتیا راغلې وو او زما پلار سره یې خبرې کولې زړه می خولې ته راغې چې اوس به څه کیږي کتل می چې فرید په چغه باندې غږ کړ او وی ویل چې ور ووځم خو زما پسې ګوته قلف وه .....

......فرهاد .......

ګوته می طاقت ونشو زړه می اور اخیستی وو لاړم او مور مور خبره کړه پرته له دی چی د مور حیرت وګورم ووتلم له کور نه د ماښام جمعه وشوه او ټولو کلیوال راټول ول ښه وخت وو چې شرمول وکړم نه پوهیږم ولی زه دومره بد شوی وم خو خبرې می داسې پیل کړی

فرهاد : زما درنو کلیوالو څنګه چې پوهیږي ما د ګل آغا له لور سره ګوژده کړی خو پرون خبر شوم چی هغه انجلې د هاشم له زوی سره جوړه دی اوس ووایی څه وکړم

چا ویل مړه کړی چا ویل طلاق یی کړه چا ویل له کلی یی وشړه چا څه او چاڅه ویل خوو فیصله دا شوه چی زه به له آیت سره واده کوم او بیخې له کور نه به یی هم بهر نه پریږدم بس خلک روان شول کورونو ته ګل آغا کاکا زما خواته راغې او وی ویل

ګل آغا : پوهیږم خفه یی غوصه یی خو دومره رسوایې به دی نه کولم زه دی د خلکو سره د سترګو د لګولو پرنښودم ماته به دی اول ویلې وو ما به حل کړی وه دا مسئله خو خیر ....

دا خبره یی وکړه او روان شوو زما تازه فکر شوو چې ولی دا بد وکړل بس زه هم خواشنې روان شو خپل د کور په لاره ......زړه می د آیت په پلار ډیر وسوځیده بس نوو قسمت به همدا وو او بله دا چې آیت کار ډیرر غصه کړی وم زړه می سم اور اخیستې وو ځکه رانه داسې وشول بس کور ته ورسیدم ډاریک خپلی کوټی ته لاړم موبیل می راواخیسته او سیاوش ته می زنګ وواهه اوچت یی کړ څه خبری مو

ورسره وکړی او د زړه حال می ورته وویل راته یی ډاډګیرې راکړ خو دا یی هم وویل چی د کلی د خلکو خبرول می کاملاً غلط کار کړی په کار باندې می ښه ډیر پښمانه شوم بیا سوچونو واخیستمه چې آیا زه دومره بدرنګه یم چې آیت می نه غواړې هاا دومره بد رنګه یم هاا لاړم هینداړې ته مخامخ ودریدم خپلې څهرې ته ځیر شوم چې څه په کی دومره خرابه دی چې آیت نه یم خوښ زه لیونی نه پوهیدم چې مینه بې دلیله وی خپلې څهرې ته می کتل اوبیا می فرید ذهن کې راوسته چې هغه له مانه ډیر ښکلی وو خپل شکل او صورت نه می کرکه پیدا شوه لاس می چیک کړ او هینراه باندې می چې څومره قوت راکی وو وواهه هینداره ټوټې ټوټې شوه د لاس نه می بی واره وینی بهدلې خو زه یی په درد نه پوهیدم خو لاس نه می دومره وینه تللې وه چې بې هوشه شوی وم

* * *

کله مې چې سترګې خلاصی کړې خپلې کوټه کې وم په خپل ځای منظم پروت وم هینداره چې کومه ټوټې ټوټې شوې وه د هغې ټوټې هم نه وی زما لاس هم تړل شوې وو سو سیرم راته جلان وو له څه ځنډ وروسته زمونږ د کلي ډاکټر راغی او زما د حال پوښتلو وروسته یی رانه تمام شوې سیرم لرې کړ  او راته یی سپارښتنه وکړه چې په لاس مې پام وکړم چې زغم ژور دې او لاړه زه هم خپلو غمونو کې وم زړه له ټولې دُنیا تور وو هیڅوک مې نه غوښتل حالات مې ډیر خراب وو په هماغه بد وضیعت کې بیا خوب وړې وم شاید د سیرم تاثیر  وی  .........

........فرید ........

ډیر می چغې او نارې ووهلی خو آیت نه ښکاریده زړه کی می وویل خدای دی نه کړی په آیت کوم څه شوی نه وی د آیت پلار مې له ګریوان نه ونیوه او ورته می وویل

فرید : آیت چیرته ده زما په آیت دی څه کړی

ګل آغا : له کوم وخت نه ستا آيت شوه

فريد : له هغه وخت نه چې مئين شوی پرې يم پوهه شوی مشر يی احترام درته لرم خو داسې دی هم نه پريږدم چی آيت ته زيان ورسوی

ګل آغا: څه ورک شه کم عقله ځان عاشق عاشق مه کوه هوښيار سړی يی ځان دی په ليونتوب اچولې

فريد : هو مينه خو دی ليونتوب کنه

دی خبری سره يی ډير کلک په سوک ووهلم او په ځمکه ولويدم دی وخت کې آيت غږ می واريده چې نارې وهلې مه کوه پلاره مه کوه
پوهه شوم يی بندې کړی بغير له دی نه چی کوم چاته ته نظر ور واچوم لاړم کوټې خواته ليدل می قلف وه ډبره می را واخستله او قلف می مات کړ ور خلاص شوو کتل می چې آيت ولاړه وه ځو ورځې می نه وه ليدلی ډيره ډنګره شوی وه زړه می ورباندې خوږ شوو دا ټول درد زما له امله زغمې اه ورته می وويل

فريد: قربان زما ژونده دا په کوم حال شوی يی

څه يی چې وويل حيران شوم

آيت : ورکه شه ته دلته څه کوی هاا

فريد : ستا لپاره راغلم

آيت : بد دی کړی څه ورکه شه

فريد : څه ما بد کړی هاا دا ته څه وايی

آيت : کرکه درنه لرم

فرید :  خو زه مینه درسره لرم

آیت : اه سترې شوم له د روغو مینې نه

فرید : زما مینه دروغ نه وه

آیت : هههههه لیونیه ساده ګله ستا نه زما مینه ښایم ما درسره هسې ساعت تیره وه اوس خو مې فرهاد مې لرم

فرید : داسې  مه وایه زړه مې چوې  ګرانې

آیت : اوووو بابا څومره دی اوږده کړه وایم ساعت
تیرې مې درسره کوله

فرید : دروغ وایی

آیت : ښااا ته ولې نه پوهیږې هاا ته څه لرې هاا د دوو روپو ډاکټر یې دومره پیسه داره هم نه استی او فرهاد ته وګوره تا ځان ته څه فکر کړی هااااا

فرید: ښه زما سترګو ته وګوره او ووایه چې مینه راسره نه لرې او دورغ دې ویل

آیت ددی خبرې په اوریدو سره په ژړا شوه او وی ویل

آیت : زه دروغ وایم زه غلطه یم  زه کله ستا سترګو ته په کتو دا خبرې کولې شم هاا مجبوره یم

فرید : پوهیږم چې مجبوره یې راځه له ماسره لاړه شه او ټول پریږده زما سره راشه

آیت : نشم کولی

فرید; هیله کوم

آیت : وژنی می پلار

فرید : هیڅوک دا جرعت نشې کولې زه درسره یو

آیت : بس نه ځم مه مې مجبوره وه

فرید: که نن ونه شې سباته زما نکاح د حمیرا سره په زوره ترې هیله کوم که ته لاړه شی راسره هر څه بدلون کولې شی

آیت : وی کړه ورسره زه ستا له هم دی دردنو سره هم مینه لرم بس ته لاړ شه او هو سم اوری ته که وغواړې یا نه مجبوره یی هم ته هم زه

فرید  : هیڅوک مجبوره نه دی آیت

آیت : درته می وویل چی نه ځم ولې نه پوهیږی

فرید : خاااا نو داسې ده پوه شوم تاته ځکه زه مهم نه یم چی فرهاد کورنۍ له مونږ نه شتمن دی هاااا همدې لپاره نه ځې

آیت : بالکل نه زه ځکه تاسره واده نه کوم چې بدنامیږو هم ته هم زه

فرید : ته دمینې لپاره دومره قربانې هم نشې ورکولې

آیت : هو نشم کولې

فرید : آخرې خبره دی ده

آیت لاړې په زوره تیرې کړی تو وی ویل
آیت : هو

د آیت داسې چلند می هیڅ خوښ نشوو ما ځکه آیت له ځان سره کورته بوله غوښتل می نکاح ورسره وکړم ځکه بیا چا نشوو کولې چې ما او آیت جدا کړی ما په خوب کې هم دا فکر نه کاوه چې زما غرور چې ما درلود چې آیت خو آیت نن همغې آیت زما غرور مات کړ د آخر ځل لپاره مې آیت ته وروکتل چی بیا به هیځکله دی سترګو ته نه ګورم غوښتل می چې لاړ شم کوم چا د شاه له خوانه په سر ووهلم او بې هوشه شوم چې سترګی می خلاصی کړی
نو لاسونه او پښې می تړل شوو وو..او فرهاد مخامخ راته ناست وو څو شیبو لپاره می حیرانه شوم خو بیا می په یاد شول چې څه شوی وو

فرهاد زما خواته راغي او وی ویل

فرهاد : ته هیڅ شرم نه لري فکر کوم

کنکس انداز می ور وکتل بیایی وویل

فرهاد : په کلی کی وشرمیدې بیا هم له خپلو کارونو لاس نه اخلې
فرید :  ختم شول

فرهاد : څه

فرید : آیت دی درته مبارک وی واقعا ډیره مینه درسره کوی ستا لپاره یی حتا زه پریښودلم ما خوشې کړه اوس په  خوشحالې خپل ژوند کوه زه نور درسره کار نه لرم

فرهاد راته څو شیبې ښه په ځیر وکتل بیایی یی کرار کرار زما لاسونه خوشې کړل او وی ویل

فرهاد : خفه یې

فرید: نه ډیر هم خوشحال یم

دا می وویل او روان شوم شپه وه کورته ورسیدم سر می درد کاوه ځکه زخمې شوی وو شپه ناوخته وه.خوو
کورته دننه شوم تیاریاني رواني وی زما او حمیرا د واده بیخې له ژوند سترې وم نور د هیڅ شی کیسه کې هم نه وم چې څه کیږې او څه نه نا وخته وو خو هوسی او.مور مې ویښ وو .....

......آیت ........

کله چې فرید راغې او دروازه یی خلاص کړه او ډیر یی راته وویل چې له ماسره لاړه شه خو نه ما داسې نشو کولې زما کورنۍ عزت راته اړین وو دومره اړین چې حتا د مینې نه ورته هم تیریدی شوم ځکه دا غلطې ما کړې وی دا انتخاب زما وو نه زما د پلار ځکه پلار او مور می رانه پوښتنه هم کړې وه نو ددی لپاره چی ما بیړه کړې وه نو دا غلطې زما دی او همدا غلطې به ماته ټول عمر عذاب ورکوی ما فکر هم نه وو کړی چې فرید ته دی دومره په آسانې سره ځواب ورکړم خو نن مجبوره شوم چې په دوو ټکو کې یی ځواب کړم دومره مینه چې مونږ له یو بل سره درلودله ما دوو ټکو کې ځواب کړه ډیره راته سخت وه کله چی فرید پوهه شوو چې زه ورسره نه ځم زما سترګو ته وکتل چې همدې کتو یی زما سینه کې زړه ولړزیده او د فرید دا حالات می لیدلې نشوو غوښتل می له پریکړې نه شاته شم ځکه ما نشوو کولې له ځان سره خپله مینه یعنې فرید هم وځوروم او عذاب ورکړم غوښتل می چې خبره وکړم فرید د تلو په حال کی وو ېی له شاه له خوانه فرهاد ډیر سخت وواهه او فرید بی هوشه شوو او له سره نه یی لکه دریاب وینې روانې شوو ما چغه کړه او غوښتل می چې فرید خواته ورشم پلار می را ته وویل چې مه ځه او فرهاد ته یی وویل

پلار : زویه دا دی څه وکړل ددی پلار او کورنۍ ته به څه ځواب ورکوی هاااا ددی پلار زما ډیر ښه دوست دی لږ خو دی د هغې لیاظ کړی وو کنه اوس به پرې کوم څه وشی هله

فرهاد فرید سر وتاړه او له ځان سره یووړ هر څومره می چغې او.شور وکړو خو چا پرینښودم چې د فرید خواته ورشم دومره ډیر می وژړل چې نور می د ژړا په وجه سترګې سوځیدې او دید می کم زوری شوو فکر می کاوه چې د یعقوب "علیه السلام" په شان خپل یوسف پسې ړنده شوم خو له لږ ساعت وروسته حالات می لږ څه شول نوو ناست وم او.حیرانه وم خپل قسمته ته دا نوچې شول آخیر به زما څه کیږې زمونږ انجام به څه کیږې  زه لا همدې سوجونو کې وم چې پلار می راغې کوټې ته او زما خواکې کې کیناسته او راته یی وویل

پلار : ښه نو څه غواړې ؟

څه می ونه ویل او خاموشې می اختیار کړه

پلار : ما وویل چې فرید ښه هلک دی دا خو په دی معنا نه ده چې ته پرې مئینه شی

آیت : مکم پلاره تا ماته نه وو ویلی چې مینه هیڅ شی نه منی تا نه وو ویلی چې مینه انسان خود غرضه کوی آیا تا نه وو ویلې چې مئین د هیچا پروا نه کوی ؟ هاا پلاره؟

پلار: هوو ما ویلې وو منم ما ویلې وو خو لورې زه څه وکړه زه خو ستا مجرم نه یم ځکه ما چې ته فرهاد ته ورکولې هم ما او هم دی مور درنه پوښتنه کړی وه

آیت : هوو پلار ته زما مجرم نه یی ما خپله په ځان کړې کاش می تاسو ته ویلې وای چې وخت راکړی کاش ما بیړه نه واې کړی هغه ریښتیا یی ویلې بیړه د شیطان کار دی او د شیطان کار تل ناکام وی

پلار: بس څه چې وشول هغه وشول لور یو څه درنه غوړام

خپل لاسونه یی سره جوړه کړل او وی ویل

پلار : لورې زما عزت مه خرابه وه هیله کوم لور یو مظلوم پلار په توګه زه درنه خپل د عزت سوال کوم لور ماته زما عزت راکه هیله کوم لور تیره شه له فرید نه تیره شه زما لپاره هیله کوم زما لورې زه درته سوال کوم او وعده درکوم که ته د فرید نه تیره شوی نو هر څه چی رانه غواړې دربه یی کړم خو لورې ته ماته زما عزت وبښه

د پلار خبرو او داسې سوال غوښتلو یی په ما ډیره اغیزه وکړه او د پلار لاسونه می ونیول

آیت : زه قسم درکوم زه به ستا عزت او ستا غیرت لپاره خپله مینه هم پریږدم زه به تیره شم ژمنه درسره کوم هر څه وکړه خیردې پلاره ماته داسې سوال مه کوه

پلار می زما سر ښکل کړ او وی ویل

پلار : مننه لورې

دا خبرې یی وکړه او لاړه زه پاتې شوم توره ګوټه غم او ژړا ځینی شیان یوبل سره وی ډیر ښه ښکاری حتا غم کی توره تیاره ژړا ویر ښه ښکارې واقعاً هر شی خپله ښکلا لره زما دردونو او ښکلا درلودل زما دردونه د فرید وو او بیا هم وایم زه له فرید سره مینه لرم نو له درد سره مینه هم لرم دا د درد مینه وا او د هغې باره کی هر درد خوږ وو هر خبره ښکلې وه زما په درد مئینه وم او همداسې به پاتې شم څکه زما ټول عمر به نور درد وی او زه به له درد سره مینه کوم

......فرهاد .......

له کوره را ووتلم غوښتل می چې خپلی بیګانې کړنې لپاره د ګل آغا کاکا نه بښنه وغواړم که څه هم لاس مې پرې وو درد یی لیونې کولم خو بیاهم مجبوره وم په همدې شپه کې روان شوم د هغوې د کور په لور کله چې ورسیدم حالات بیخې بل بل ډول ښکاریدل ترور ته می سلام ور کړی او پوښتنه می وکړه چې ولی داسې وریدلې

دی کله چې پوهه شوم چی فرید درلته دی عصاب می خراب شول وینه می په جوش راغله روان شوم د آیت ګوتې په لور کله می چې ولیدل هغو دواړه ولاړ دی او سره خبرې کوی نوره می حوصله ختمه شو خپل کانټرول می له لاسه ورکړ په هماغه خوګ شوې لاس لاړم یوه غټه ډبره می را واخیسته او ډیر کلکه می د فرید په سر ووهله پوهه شوم چې ډیر می خوګ کړی ځکه سر نه یی لکه دریاب وینې روانې شوی ما چې تر او میږی ته هم آزار نه وو ورکړې د دومره ظلم په لیدو ورخطا شوم او کله چې ګل آغا کاکا راته ویل چی سر یی وتړم ښه به شې لږ خوشحاله شوم کنې ما فکر کاوه لکچې سړي مې مړ کړ خو په اوږه می کړ او روان شوم بیا راته شیطان وویل ډیر یی ستا حق کې ظلم کړی او ستا ښځې سره یی یارانې کړی بیا ظالم شوم سر می ورته وتاړه او غوښتل می ښه کلکه سزا ورکړم نو پښی او لاسونه می هم ورته وتړل ډیر ساعت پوری بې هوښه وو شاید یو یا دوه ساعت کله چې په هوښ راغي نو غوښتل می داسې یی وځوروم کله یی چې کړی وم خووووووو د فرید خبرو حیران کړم کوم فرید چی دومره رسوایې وروسته هم دآیت نه لاس ونه خیست هغه فرید چې دآیت لپاره یی د ټولې دنیا سره جنګ کاوه نن یی د پریښودو خبرې کولې او راته یی ویل آیت له ماسره مینه لری نه له فرید سره مکم ما نشوایې کولې چې باور وکړم ځکه چې آیت هم ډیر جنګ کړی وو د فرید لپاره او هم فرید دآیت لپاره خوو نه پوهیدم آخر سه شوی وو راته یی وویل چې زما لاسونه خلاص کړه زه یی د لاسونو په خلاصولو شوم ډیر می په فرید زړه سوځیده کله به مې چی دد غمجنې ځهرې ته کتل چې قسمت یی خراب دی کله به می چی ددی ښکلې ځوانې ته کتل ډیر می زړه دردیده لاسونه می ورته خلاص کړل او زغم می ختم شوو ورته می وویل

فرهاد : خفه یی

ترخه مسکا یی وکړه

فرید : نه ډیرهم خوشحاله یم

او روان شوو زړه می په ریښتیا هم د لومړۍ ځل لپاره می زړه ورته درد وکړل فکر می نا آرامه وو د وجدان عذاب ځورولم خو خدای نه می یو فرصت غووښته چی خپل کړنه جبران کړم خو داسې معزه نه کیده ځکه زه هم په آیت مئین وم او نه می شوه کولی چې له ځان نه یی لری کړم نه می شول کولې چې د بل چا لپاره خپل ځان وځوروم لاړم کورته خپلې کوټې ته راغلم خو خوب نه راته خو یو وخت وو چې ویده شوی وم کور خوند نه را کاوه له کور نه ووتلم او په لار روان وم غوښتل می ګودر ته لاړ شم ځکه هغه ځای ډیر آرامه وو او اوس یی ښه وخت هم وو ځکه دی وخت کې انجونې هم نه راتللې ځکه چی هغو به مازدیګر او سهار اوبه وړلې ددی لپاره لاړم ګودرته هلته د ونو لاندی کیناستم او سوچونه می وهل چې آیا زه خو به خودخواهی نه کوم بیا می له ځان سره وویل چې مینه کې چا خودخواهی راوسته زه لا همدې کشمکش کی وم چی دکوم د پښو آواز شوو پوهه شوم چې حتما به کوم انجلې راغلې وی او اوبه به وړی نو همدې لپاره پاسیدم غوښتل می لاړ شم او انجلې خپلې اوبه یوسې د تلو نیت می وکړ غوښتل می چې روان شم چې انجلې راباندې غږ وکړ

--صبر فرهاده

حیران شوم چی دا به لا څوک وی حتا زما په نوم هم پوهیږې شاته می چې وکتل لاپسی حیرانه شوم دا هماغه انجلې وه چی د فرید او آیت سره می لیدلې وه فکر کوم د فرید په نوم چې کومه انجلې وه

فرهاد : ماته مو غږ کړ

حمیرا: هوو تاسوته غوښتل می یوه اړینه خبره درته وکړم

فرهاد : مهربانی !..

حمیرا : هیله کوم زما خبرو نه غلط مقصد وانخلې

فرهاد : سمه ده نه به اخلم وایه خبره مو

حمیرا :  په الله یقین وکړه له کومې ورځې نه می چې لیدلې یی خوب نه لرم آرام نه لرم هر ساعت زه ستا باره کې سوچونه کوم زما حالات بیخې بل ډول شوی فرهاده زړه می هرې درزا سره ستا نوم اخلې

لنډ سوچ وروسته می ورته وویل

فرهاد:مطلب دی څه دی

حمیرا خپلې سترګې وتړلې او وی ویل

حمیرا : زه له تاسره مینه لرم زه په تا باندې مئینه شوی یم

سترګی یی خلاصې کړې او اوښکې یی په رابهیدو شوی

فرهاد : ته دا هر څه ځکه کوی چې فرید له آیت سره مینه لری او ته له ما سره مینه وکړې داسې غواړې له فرید نه قصد واخلې کنه ؟!

له ژړا نه ډک آواز سره یی وویل

حمیرا : په الله می دی قسم وی که زه له چانه قصد اخلم په خدای قسم چې مینه درسره لرم زه له چا نه قصد نه اخلم

حیرانه وم چی سه ورته ووایم

فرهاد : ګوره ته پوهیږې هم چی زه ښځه لرم او ته هم دچا په نوم یی او نن او سبا کې دې نکاح ده نو ولې داسې کوی هاا ما سره مینه مه کوه زما د زړه پرې بل چا پسې شکیدلې هیله کوم له ما سره مینه مه کوه او هو ما کې داسې سه دی ته پرې مئینه یی هاا ګوره فرید له ما نه ښکلې دی ډاکتر دی د هغې په شان ځوانې هیځوک

په کلی کې نه لری او هره انجلی غواړې چې دفرید په شان خاوند ولری او.........
زما خبری لا چې هغې دا بیتونه وویل

حمیرا :
نه می دی حسن او ښایست پکار دی
زما مهربانه او پاک زړه پکار دی
که په ښایست باندی مئین شی حسن پرست یی یاره که په زړګی باندی مئین شوی بیا عاشق یی یاره

دا یی وویل او بیا یی پسې زیاته کړه
حمیرا : دا زما رورستې خبره ده زه به هیڅکله هم له فرید سره واده ونه کړم او زه به ستا انتظار کوم حتا تر مرګه پورې

روانه شوه زه هم حیرانه وم چې آخیر دا څه کیسه ده خو دا انجلې واقعاً هم په ما مئینه وه خبرې خو هر څوک. کولې شی مکم دی ژړل هم ځکه می یقین وشو اوف خدایا اوس څه وکړم دوو لارو کې بند وم
را په یاد شول چې زه ولی له کوره راوتلې وم بیا روان شوم آیت دوی کره ورسیدم او د دوی هغه کوټې ته لاړم چی دوی ټول به پکې کیناستل مور او پلار یی ناست ول ماته یی هر کلی وویل وروسته یی رانه د فرید پوښتنه وکړه ما هم اطمئنان ورکړ چې ښه دی له ډیر خبرو وروسته می ترې ښنه وغوښته او هغه هم مهربانه سړی وو ویل یی چې کومه خبره نه ده خلاصه خبرو خبرو کی یی راته وویل

ګل آغا : زویه ته هم پوهیږی کنه چې څومره وخت تیریږې هماغومره ستونزه لویږې که ستا خوښه وی آیت ژر تر ژره واده کړه تر څو ستونزې ډیرې نشې

فرهاد : هو کاکا جانه بیخې ښه خبره ده او نن او همدا ساعت به د واده نیټه هم معلومه کړو که دی خوښه وی

ګل آغا : خبره خو. دی ښه ده خوو باید مشران راولیږه چې هغو بیا ونه وایی چې زمونږ په نشتون کی یی واده نیټه ټاکلې

فرهاد : نه کاکا جانه مونږ آماده یو او زه چې سه وایم پلار می راسره منې بی غمه شی او زه هم له پوهنتون نه تقرباً لس ورځې رخصت یم او اختر هم یو دری ورځې دی نوو یو هفته بس به إن شاء الله .پرګرام برابر کړو

ګل آغا : ولا زه به څه ووایم بیخې نیکه خبره ده
له لنډ مجلس وروسته می رخصت ترې واخیسته او روان شوم کور په طرف ....

.......... حمیرا ..........

پلار می خبر راوړه چې آیت او فرید یوبل سره مینه لری او ټول کلی کی آوازه ده پلار می غوښتل چی فرید دوی کره لاړ شی او حساب کتاب ورسره وکړی خو ما اجازه ورنه کړه څه ساعت لا تیر نه شوو چې هاشم کاکا زمونږ کور ته راغلې او وی ویل چې په دوی یی الزام لکولی او غواړې بد نام یی کړی ددی لپاره چې له بد نامې وژغورل شی نو نکاح باید سبانه بل سبا وتړو لومړۍ ټول ویل چې نه کیږې خو آخیر ټول رازیې شول
خو ما کله هم نه غوښتل چې له فرید سره واده وکړم البته مخکې له دی نه چی په فرهاد مئینه شم نوو ډیر غوښتل  چې له فرید سره واده وکړم خو اوس نه ما یوازې غوښتل چې فرهاد زما شی  کنه شی هم زه به یی په نامه ناسته یم لکه ګونډه خو بل چا سره به واده ونکړم شپه شوه او ویده شوم کله چې له خوب نه راجیکه شوم څه ناڅه د کور کارونه می وکړل او ماسپښین یوه بجه وه په کور کی می زه بیخې زره تنګ شوو مور ته می وویل چې اوبه راوړم منګۍ می را واخیسته او دګودر په لور روانه شوم کله چې ورسیدم سترګې می په فرهاد ولکیدی هم د ونی لاندې ناست دی او هیڅوک هم نشته نو ښه وخت وو چی زړه خبره ورته وکړم پوهیدم چې د نکاح د انکار وروسته نو پلار می ژوندې نه پریګدی نو له هغژ وروسته  که مړه شم هم خیردی ما ورته خپل د زړه حال ووایه او ورته می وویل چې مینه ورسره یم

هغه لومړۍ بارو نه کاوه او فکر یی کاوه قصد اخلم خو آخیر کی خاموشه شوو زما په نظر بارو یی وکو زه ترې را روانه شوم او کورنه راغلم مور می چی هر څومره پوښتنې کولې چی ولی تش لاس او پریشانه راغلم خو ما کوم ځواب نه درلوده ................

....... فرید ........

لاړم خپلې کوټې ته او خپل ځای کی پریوتم خوند یی رانه که او بیرته کیناستم ډیررر می زړه ډک وو خپل ژوند راته یو غمجنه ډرامه ښکاریده چې لومړۍ یی مئین کړم بیا غمجن زړه درد له حد نه اوښتی له ځان سره په خبرو شوم او له خدای نه می ګیلې شروع کړه ولی خدایا څه به شوی وو هااا څه به شوی وو چې آیت زما شوی وای هاااا ستا په خزانو کی به څه کم شوی وو چی زما نه کیده نو ولې دی پرې مئین کړم هااا ولې اخیر ولې دی غمجن کړم خدایا مانه دومره لوی امتحان مه اخله خدایا زه یی طاقت نه لرم خدایا خیردی ربه زه درته سوال کوم یوه معجزه وکړه او ما آیت ته ورسوه هیله کوم ربه
دعا می وکړه او زړه می آرامه شوو ځکه الله مهربانه دی او امید لرم چې یوه معجزه به وشی
لاړم هغه ناول چی شروع کړی می وو شپږ پاڼه ناول غوښتل می چې وی لولم او له دی حالاتو نه بهر شم او څه ساعت لپاره می غم هیر شی چې همدې ناول باندې یی لیکلی وو چی خواجه زی خپرندویه اداره لخوا خواجه زی خپله هم یو تکړه او با استعداده لیکوال دی ما یی څو ناول مخکی لوستلی وو مثلا ګرګ اشتی ناول چی درې جلده وو ډیر خایسته ناول وو همدارنګه النحیط او زما غږ حرام حرام ناول چی څومره یی صفت وکړم بیا هم کمه ده ځکه دا ناول یی داسې انداز سره لیکلی وو چې بیخې خایسته ناول وو او زه خپله هم د جواجه زی صاحب ناولونه لولم او ډیر می خوښیږي هم خواجه زی صاحب نه یوازې لیکې بلکې ژباړه هم کوی ماشاءالله د هنر خزانه ده خواجه زی صاحب واقعاً زه یی مینوال یم په هر حال دا ناول چژ شپږ پاڼه وو خواحه زی لیکلې نه وو بلکې خپور کړی یی وو دا ناول د یوی انجلی لخوا په

دری ژبه  لیکل شوی وو چې نوم یی آزیتا هاشمی زاده وو  او زمونږ خور مروه نګین پښتو ژبې ته را ژباړه کړې وو واقعاً دمروه نګین دا استعداد د ستایلو وړ دی مننه تر کوم په هر حال ناول داسې وو چې دلیلا په نوم انجلی د رضوان په نوم هلک سره آشنا شی په مکتب کی بیا له یو بل سره مینه شروع کړې لیلا د یوی غریبی کورنۍ څخه وی او پلار یی هم مسافر وی کله یی چی پلار پرته کورته راشی نو بل واده یی کړې وی ددی لپاره چی د لیلا مور نشې کولی زوی راوړې خلاصه د لیلا میره نه مخکی د لیلا خپله مور حامله شی او کله یی چې میره خبره شی نو دلیلا مور ته د ماشوم د مړ کیدول درمل ورکړې خو د لیلا مور کمزورې وی او ددومره درد طاقت نلری نوو مړه شی د لیلا بد بختې شروع شی ددی لپاره چی د لیلا پلار د واده لپاره قرض اخستې وی او ورکولی یی نشې نو د همدی قرضدار زوی وای چی دی هم په لیلامئین دی لیلا ورکړې خو لیلا چی له رضوان سره یی د زړه پرې ترلی نو د واده په شپه وتښتی او د رضوان کور ته ورشی دا بل هلک چې  نوم یی جمال وی نو دی ورپسې ټول کور او کلی ولټوی او د جمال کورنی د لیلا بله خور سهیلا په بدو کی راوړې او لیلا لاړشی پاکستان ته او د رضوان دکاکا زوی جمال ته ووایی  چی لیلا پاکستان ته تللی هلته ورپسی ورشی او لیلا پیدا کړې خو لیلا ورته ښه غاښ ماتوونکی جوابونه ورکړې او جمال نامیده راشې کور ته خلاص ډیرررې خبرې تیری شی که اوس یی لیکم نو اوږدیږې او اوس هم لیکنه اوږده شوه خو آخر له دومره سختیو وروسته لیلا او رضوان یو بل ته ورسیږې ........

ناول می ولوسته او زما زړه کی هم نوی هیلې را ژوندی شوی لکه څنګه چی لیلا او رضوان د دومره تکلیفونو بس یو بل ته رسیږې نو زه به هم ورسیږم خو نه کیدل ځکه آیت ماته صفا انکار کړې وو او په دی ناول کی لیلا له رضوان سره وه ځکه یو بل ته ورسیدل خو ما سره خو آیت وفا نکوی اوف !!!!! نور نو بد قسمتې دی ته وایی سباته می نکاح وه او زما ژوند د تل لپاره برباد کیده خو بس د چا چې قسمت کې نه وی لیکل شوی هغه هیځکله هم یو بل ته نه رسیږې که سه هم زما په شان چغې او نارې وکړې په ځای می پروتم سو شیبې وروسته خوب خپلې د سکون غیږې کی

نیولې وم او له دی بی وفا دُنیا نه یی د سو شیبو لپاره لری کړې وم سهار می مور له خوب نه راجیک کړم

مور : زویه پاځه ځان تیار کړه چې نن دی نکاح ده

فرید : د څه شی تیاری موری زه همداسی ښه یم

مور : زویه خفه یی

فرید : نه نو ولی خفه شم

مور : ښنګه دی هیره کړه

فرید : مور جانی چې هغه ما نه غواړې نو زه څه وکړم په زوره خو یی راوستلی نشم

مور : ښه نو زویه جامې می درته اوتو کړې هغه وا غونده

فرید : د څه جامې مورې زه همداسې ښه یم

مور : زما لپاره

دا یی وویل او روانه شوه ما هم د مور د زړه لپاره جامې وا غوستلی او تیار شوم چې  نن زما نکاح وه .

...... آیت ......

خبره شوم چی د واده نیټه می ټاکل شوی وه او یوه هفته بس به زما واده وی ؟ ډیر سخت حالت می وو خو مجبورې وه او ما می پلار ته وعده ورکړې وه چې زه به له فرهاد سره واده کوم نه د بل چا سره زما قسمت هم ډیر خراب وو او دا ما خپله خراب کړی وو کاش یو ځل بیا تیر وخت راشې زه به هیڅ بیرې ونه کړم بس نو د ژوند سختې  انسان ته درس ورکوی او ماته یی درس راکړ چې باید هیځکله هم بیرې

ونه کړو همدی بیړی زه تباه او برباد کړم زه لا په هم دی کش مکش کی وم چې مور می راباندې غږ کړ
مور : لورې هغه د حمیرا نکاح ده نن زه هلته ځم غوښتی یم ته په کور پام کوه
اووووووووووف خدای یو دا کم وو چې دا ورځ هم ووینم ما لا فکر هم نه وو کړی چی زه به لا دا ورځ وینم خوو مجبوره وم چی دا حالات هم تیر کړم نور می خوشحاله نه تمه شکیدلی وه ناساپه می دا ټپه خولی ته راغله

خفګانه تاته ښه راغلاست وایمه
خوشحالی تانه زه ښښنه غواړمه !!!!!!

بلکل لکه زه ما هم خفګان ته ژوند ورکړی ووو او خوشحالې ته می رخصت ناساپه می اوښکو په مخ لاری جوړی کړی په زنګون سر کیښوده او ژړل می چې کوم چا می په اوږه لاس کیښوده او راته یی وویل

فرید : آرامه اوسه ګرانې زه درسره یم مه ژاړه زه ستا یم او زه به کله هم له تا تیر نشم

آیت : ته به زما شی ؟!

فرید : زه خو د اول نه د ستا وم زه ستا لپاره حتا د خپل ژوند نه تیر یم دا خو لا واده دی

آیت : زه هم ستا لپاره له هر څه نه تیرږم او فری..........
کوم چا په زوره ما ته غږ کاوه او راته یی ویل

-- کومو خیالونو کی یی تاته وایم لورې

تازه می فکر شوو چې زه په سوچ کې تللې وم او دا هر څه ریښتیا نه وو او ژور سوچ کی تللې وم هغه ریښتیا نه وو

بیا می پلار غږ کړ

پلار : تاته وایم لورې زه ځم نن د هاشم د زوی نکاح ده ښه !!!!

آیت : سمده پلاره

پلار : په ځان پام کوه لورې او دروازه ځان پسې وتړه

آیت : سمده پلاره بې غمه شه

پلار : ښه نو لورې زه لاړم

آیت : په خیر لاړ شی

پلار می لاړو او ما هم دروازه قلف کړه سه نا سه دکور کارونه می وکړل هیڅ ورځ ته تیریده ډیره سخته ورځ وه .......

.......فرهاد .......

لاړم کور ته او د واده خبره وکړه که څه هم لومړۍ ټولو مخالفت وکړ خو بیا یی هم را سره ومنله زه هم لاړم خپلې کوټې ته او نن ورځ می ټول په ذهن کی تیره کړه سه عجیب عجیب واقعات راته پیښ شول د فرید نا امیدې د حمیرا خبرې زما ناساپه واده بیخې یی لیونتوب ته رسولم خو بیا هغه انجلې را یاده شوه او ټولو نه جالبه یی هغه بیتونه ول چی ماته یی ویلی وو که ریښتیا را باندې ووایی دی بیتونو ډیر خوند راکړ او بار بار می ځان سره تکرارول

"نه می دی حسن نه ښایست پکار دی "
" زما مهربانه او پاک زړه پکار دی "

"که په ښایست باندی مئین شوی حسن پرست یی یاره"
" که په زړګی  باندی مئین شوی بیا عاشق یی  یاره "

سوچ کې لاړم ورته چې دا انجلی په ما باندی ولی مئینه هغې حسن نه وو پکار نو هغه له کوم ځایه خبره شوه چې زما زړه مهربانه دی کنه
سوجونو لیونی کولم هیڅ خوب نه راته خو بیا هم سه په چل باندې خوب وړی وم

* * *

سهار چې له خوب نه می راجیک شوم نو لومړی خبره می چې واوریده هغه دا وه چی نن د فرید واده وو لږ می زړه ډاډه شوو ځکه زه ترې خلاص شوم او خپل ژوند به په سکون تیروم نور ......

...... حمیرا .......

نو نن د دوی په فکر زما واده وو ما هم په دی لپاره چې څوک شک را باندې و نه کړی نو داسې می ځان جوړ کړ چی خوشحاله یم او آرایشګری زه سینګار کړم کله چې خلاص شوو راته یی آینه راکړه چې خپل ځان وګورم کله می چې وکتل نو هغه ورځ می په یاد شوه یوه ورځ مونږ په ماشومتوب کې خپلو  لوبی کولی زه ناوی وم ماشومان وو نوو ماته یی فیشن وکو کله چی خلاص شوو نو د عمه لور می راته وویل چې وی حمیرا ته څومره خایسته شوو فرید خو ډیررر بختور دی دا چې زه په ماشومتوب می ډیره شوخه وم او مغروره هم وم نو ورته می وویل چې هم زه خو همداسې یم بیا می چې واده شوو دا می درسره خبر یاداش وی چې به ډیره ښکلی ښکارم .......

آرایشګری وویل

-- خوښ دی شوو. کنه

خپلې څهرې ته مې وکتل ډېره ښکلې شوې وم ریښتیا هم له سترګو نه مې اوښکې روانې شوې کاش زه هغه پخوانی مغروره چالاکه بې پروا که زه پخوانۍ حمیرا وم نو نن به مې سهال جوړ کړی وو کنه چې دا ځای داسې دا ځای مې هغسې دی کاش ....د آرایشکرې غږ زما دسوچونو نړۍ ړنګه کړه او وی ویل

-- ولې ژاړې مه ژاړه میکاپ دی خرابیږې پوهیږم چې د خپل پلار کور پلار کور پریښودل سخت دی خو هیله کوم مه ژاړه !

حمیرا : سمده نه به ژاړم !

آرایشګر کار خلاص شوو او لاړه زما کوټه هم له پیغلو ډکه شوه څه ساعت وروسته د فرید مور راغله او شال یې راباندې واچاوه په دواړو مخونو یې ښکل کړم او وی ویل

- الله دی نصیب د ښو کړه لورې ..

یو څو روپۍ یې راته په لاس کی راکړلې او زه یې له ځای نه پورته کړم چې لاړ شوو هغې ګوټې ته چې نکاح په کې ترل کیږې زه له یوې متې نه هوسی او بلی نه د فرید مور ونیولم او هغې ګوټې ته لاړو چې مولوی صاحب پلار مې الیاس او تره مې (دفرید پلار) او خپله فرید هم ناست وو زما مخ ته یې یو لوی سادر ونیوه چې پټ یې کړ ....

مولا: د ستاسو ټولو په اجازې سره به شروع کړو اجازه ده

هاشم کاکا : هو اجازه اجازه ده مولوی صاحب ...

مولوی صاحب لومړۍ له مانه وپوښتل

مولا: د هاشم زوی فرید ستا د خاوند په توګه قبول دی؟

غلی پاتې شوم
مولا : لورې دهاشم زوی فرید ستا دخاوند په توګه قبول دی؟

بیا هم غلی ومه چې دا ځل چی په لږ تیزه لهجه وویل
مولا : وروستی ځل لپاره وایم بچې آیا ستا د هاشم زوی فرید دخاوند په توګه قبول دی کنه ؟

مور می په ځنګله ووهلم

مور : څه کوې ته خو وویه ولی غلې یی هاااا ؟
سل زړونه مې سره یو کړل او دستونې لاړې می په زوره تیرې کړې ومی ویل

حمیرا : نه ! نه می دی قبول

دا خبره می وکړه او بغیر له دی چې د چا حیرت څخه ډک نظر او خلاصو خولو ته وګورم هغه ځای می پریښوده او خپلې کوټې ته می پناه ویوړه او دتل لپاره می هم ځان او هم هغه بیچاره او مجبوره فرید بد نام کړل خو څه می کړی واې زه هم مجبوره وم چې دا کار می وکړ کیدایشی دی په وجه هم فرید او آیت یو بل ته ورسیږې ډیر خفه وم خفګان راباندې ډیر زور کړی وو ژړا می نه ایساریده غم د زغملو وړ نه وو ..........

...... فرید ......

نن ورځ ډیر عجیبه وه ډیره زیاته زما هغه ټول فکرونه او سوچونه کول ټول غلط وو هغه داچی ما هیځکله هم حمیرا نه غوښته ما فکر کاوه هغه ما غواړی خو زه غلط وم لکه څنګه چی ما هغه نه غوښته هغې هم زه نه غوښتلم خو هغې چې زما له نکاح نه انکار وکړو خه کار ونه کړ ځکه هغې هم زه او هم خپل ځان مخ تورن کړ هغی زه داسې ثابت کړم چې په ټول کلی کی همدا زه بد کاره یم داسې یی ثابت کړم

چی ګناهګاره یم یو بیا هم خوشحاله وم نه پوهیږم ولی او څه وجه وه کیدایشې همدا زما او حمیرا واده نه کول وو کله چې حمیرا انکار وکړ او بغیر له دی چې چاته پام وکړی چې څوک څه وو څوک څه وایی کوټه یی پریښودله او لاړه زما پلار سر ټیټ نیولی وو او خفه ولاړ وو حق یی وو چې خفه شی ځکه د هغه پښتو خرابه شوه دا زما هماغه پلار وو چې د خپلی پښتو لپاره یی حتا زما زاریو او سوالونو ته نه کتل هغه پلار چې پښتو لپاره حتا زما خوشحالیو ته نه کتل هر څه یی پریښودل چې خراب شی خو پښتو نه واقعاً چې په پلار می زړه درد کاوه هغه نن زما له امله سر ټیټې ولاړ وو خو ما څه کړی واې زه خو همدې پښتو ته تسلیم شوم او دپلار خبره می ومنله دا چې حمیرا نه غوښتل ما خو کوم کار نشو کولې ددی لپاره چې پلار می له دی سر ټیټې نه خلاص کړم او لږ یی حال ښه شی ومی ویل

فرید : بس نو چې تاسو نه غواړې نو مونږ به هم لاړ شوو..

خپل تره (حمیرا پلار) ته می وکتل چی له غوصی نه سور اوښتی وو

کله می چې دا خبره وکړه داسې شوه لکه په پلار کې می چی دویم روح اچول شوی وی او په څهره کی یی له واره تازه ګی ښکاریده مونږ هم روان شوو خپل کور ته کله چې کور ته ورسیدم او ټول کورته دننه شوو
پلار می زه له اوږی نه ونیولیم او وی ویل

پلار : ډیره ښښه غواړم زویه لکچې ته په حقه وی او ما تاسره ظلم کاوه الله وساته او ډیره مننه کوم زویه چې هغه خبره دی وکړه زه ویاړم چې ته می زوی یی

فرید : دا څه وایی پلار جانه دا می دنده ده

پلار می راته خپله د مهربانی او شفقت غیږه خلاصه کړه او په غیږه کی یی ونیولم ما هم پلار جان می په غیږه کی ونیوه ډیر له سکون او آرام نه ډکه غیږه یی وه پلار

دی کنه ډیر مهربانه وی  خو هیڅکله هم خپل محبت نه ښکاره کوی خو ډیر له خپل اولاد سره مینه لری نن می د پلار مینه ولیدله ........

......آیت ......

مور می لاړه زه هم په کارونو بخته وم لا می کارونه نه وو خلاص چې دروازه وټکیده لاړم تر څو یی خلاصه کړم چې خلاصه می کړه مور او پلار می وو حیرانه شوم چې دوی خو همدا لږ ساعت وروسته تللې وو دا څنګه امکان لری چې مراسم دی دومره لږ وخت کی خو خیر نو کیدایشې خلاص شوی وی

آیت : په خیر راغلې مورې...

مور : دڅه شی خیر لورې هر څه خراب شول

ما فکر کاوه چې فرید کوم لیونتوب کړی وی هو خامخا به هغه کوم کار کړی وی ولې یی داسې وکړ زه لا همدی کشمکش کی وم چی مور می وویل

مور : حمیرا انکار وکړو

آیت : څه ! ؟

مور : هو انکار یی وکړو او ستا پلار به همیش ویل چې له ماشومتوب نه په نوم کول ښه نه وی

لاړه مور می خپلې کوټی ته او زه پاتې شوم سوچونو کی چې ولی حمیرا انکار وکړ هغه خو ډیره خوشحاله وه چې کله فرید راته نو ولې هو هغه خو خبره چی زه او فرید مینه لرو یو بل سره حتماً همدې لپاره ....
پلار می کور ته راننوت

آیت : ستړی مشی پلاره

پلار : خیروسې بچی

نور لاړه کوټې ته او زه هم خفه وم خو په زړه کې خوشحاله وم خو په دلیل یی نه پوهیدم یی چې دا خوشحالې او سکون وجه څه ده دا ورځې ډیره سختې وی دا می د ژوند تر ټولو سختې ورځې وی

* * *

پلار می نن شپه می پلار احمد ته زنګ واهه ټول سره راټول وو چې ډیره موده بس مو د احمد غږ آورید له څو زنګونو وروسته یی ځواب راکړ

احمد : السلام علیکم پلار جانه څنګه یی

پلار : وعلیکم السلام زویه ښه یم کله راځې بچی

احمد :ښه شکر چی خه استی ولا پلاره دا یو امتحانه

می پاتې دی دعا راته کوی چې په خیر تیر شی ان شاالله درځم یو دری ورځې بعد چې دا دی اختر هم را روان دی کنه له اختر نه یوه ورځ مخکې درځم له خیره
پلار : ښه په خیر راشی زویه ......

.. دری ورځی وروسته ..

مور : آیت هله راشه لورې ته دا دیګ ته ګوره چې زه دی له پلار ته ووایم چی احمد تر کومه ځایه را رسیدلې

آیت : ښا دا دی مورې درغلم

لاړم آشپزخانه مور می ډیر ښکلې پخلی کړی وو

مور : ته دی ته ګوره چې زه به دی پلار نه به دی پوښتنه وکړم چې احمد چیرته دی

مور می لاړه تر څو احمد وګوری چې چیرته دی او زه پاتې شوم تر څو دیګ ته ودریږم چی ونه سوځیږي هسې سوچ ورې وم یوه ورځ زه له کور نه وتلې وم غوښتل می له ګودر نه اوبه راوړم یو انجلې می ولیده چې د ونی لاندې ناسته ده او ژړای په خپل زنګون یی سر ایښی وو او ژړل یی زه هم له دی لپاره چې پوهه شم چی څه شوی او ډاډ ورکړم ورغلم د انجلې خواته

آیت : څه شوی ګرانې ولې ژړاې

سر یی راپورته کړ او زه یی کلکه په غیږه کی ونیولم

-- زه ژوند نه غواړم زه نوره ستړې یم زما په ژوند کې یواځې ژړا پاتی ده دا هم ونه کړم نو څه وکړم هاا ته ووایه زه څه وکړم

له خپلې غیږې نه می لږه لری کړه اوښکې می ورته پاکې کړې

آیت : څه شوی ولې داسې له ژونده ستړې یی ؟

-- زما چی کوم هلک خوښ دی زه یی هغې ته ورنکړم او زه یی بل چاته ورکړې یم اوس نه پوهیږم په ځان څه وکړم ځان مړ کړم وتښتم څه وکړم قسم دی دا زړه می نور خولې ته راغلې دی

بیا یی په ژړا شروع وکړه او په زوره زوره یی ژړل
ما هم له ځان سره وویل خومره کم عقله ده د یو هلک لپاره داسې ویرونه کول هغه انجلې اوس ما ښه درک کولې شوه زه حالت اوس کاملاً د همدې په شان وو
،
زه په همدې سوجونو کې وم چې د سوځیدو بوی می پوزې ته راغی چی پام می ورته شوو خواره سوځیدلې وو او هغه هم هغه خواره چی د احمد ډیر خوښیدل ورخطا شوم چې اوس څه وکړم که می مور ووینژ مره به می کړی

،
ما لا فکرونه کول چې مور مې خبره نشې په دی وخت مې مور هم رانوتله کله یې چې ولیدل چې خوارې مې سوځولې له غوصې نه یې د مخ رنګ تک سور واوښته لاسونه یې موټې کړل خو ماته یې یواځې وویل

مور : ولی ته مې دی ته درولې وی چی د سوځیدو ننداره یی وکړی کومو سوچونو کی وی هاااا

مور ده کنه راغله زما مخ یې په لاسونو کی ونیوه او زما په تندې یې هم لاس کیښوده

مور : څه شوی لورې ښه یی ناروغه خو نه یی کنه کوم څه خو به دربا‌ندې نه وی شوی

آیت :نه مور زه روغه رمټه یم او مور دا دی ونه ویل چې احمد چیرته دی

مور : هو ریښتیا هغه به په نیم ساعت کی را ورسیږي او ستا سخرکنې هم د هغی ښه راغلاست ته نن راځې نوو ته هم لږ ځان سم کړه جاېی دی بدلې کړه وګوره په کوم حال یی

ددی خبرې په آوریدو سره مې له شونډو خندا ورکه شوه نه پوهیږم ولې خو په زړه کی مې وریره را پیدا شوه له ډیر ویرې نه مې ټول بدن له یخ نه لړزیده که څه هم لوی اختر وو او په لوی اختر کی هوا بی درکه کرمه وی خو زما ساړه کیدل

مور : دا څه دربا‌ندې وشول او رنګ دی ولې زیږ شوو

آیت : مورې زه ویریږم

موری مې راته د خپل سکون او آرامښت څخه ډکه غیږه خلاصه کړه زه هم سلګو ونیولم له ډیر وخت وروسته راته دغه دسکون او جنت مثاله غیږه خلاصه شوی وه

ژړا می زور واخیسته حتا د ژړا په لامل نه پوهیدم چې ولې او له څه نه داسې وریره لرم

مور : مه ژاړه لورې ستا ترور داسې نه ده چې درته پیغور درکړی یا دې ورتې هغه زما خور دی تر کومې یی چی زه پیژنم ډیر مهربانه ده خه لورې اوس دی ژړا بنده که او جامې دی بدلې کړه

ماهم د هو په ډېه سر وغوځاوه او لاړم چې جامې می بدلې کړم  یو تور رنګ جامې وی او بل آسمانی رنګ دواړو ته می وکتل حیرانه وم چې کوم رنګ واغوندم ځکه دواړه راته ښکلی ښکاریدلې تور رنګ ته می وکتل هغه ورځ په یاد کی لاړم چې یوه ورځ ما تور رنګ جامې اغوستی وی او ګودر ته تللې وم چې دی وخت کی فرید هم راغې خنګه یی چې زه ولیدلم ویل ویل

فرید :
تورو جامو نه دی لوګی شم
توری جامې درسره لا مزه کوینه

ددی ټپه په آوریدو سره ما یوازې ورته وخندل

فرید : آیت خیردی چې کور ته لاړی ځان ته سپلنی تود کړه وریږم چې د نظره دی نکړم ماشاءالله ماشاءالله ډیره ښکلې پکې ښکاریږې او هو ته پوهیږی چې زما تور رنګ څومره خوښیده او داچې تا آغوستی نو په تور رنګ بیخې مئین شوم

فرید په یوه ساه لیګا وو ما ورته کړل

آیت : اوووو بس دی فریده لږه خو ساه واخله په یو ساه لیګا یی

فرید : قسم چې یوه ورځ به می مړ کړی ګرانې او زه خوشحاله یم چې په تا باندې مړ شم

د فرید دومره مینی په یاد راوړلو سره می په سترګو کې اوښکې ډنډ شوی دا چې زما توری جامې لیدل یوازې د فرید حق وو چې ما په کې ووینې نو غوښتل می آسمانې رنګ وا غوندم چی ...

فرید : تور رنګ وا غونده آیت !

آیت : ته !

فرید : هو ستا لیونې فرید بیا راغلې ستا خواته

آیت : خو ستا اوسیدل دلته ښه نه دی

فرید : ما پورې اړه نه لری ښه دی کنه خو زه ستا خواته راغلې یم سه وکړم زما ژوند بغیر له تا نیمګړې دی

آیت : خیر دی لاړه شه هسې ما او خپل ځان مه بد نام کوه
فرید سو ګامه رانږدی شوو او زه یی له اوږی ونیولم او وی ویل

فرید : ته له ما سره مینه نه کوی بیا دی ولې هغه ورځ راته ونه ویل هاااا ولې دی راته ژوند غضب کړ هااا ولې آخیر ولې دی راسره دا ډول لوبې وکړی ؟!!

په ژړا می ورته وویل
آیت : فرید په الله قسم چې مجبوره یم

فرید : هیڅ مجبوره نه یی ولې دی راسره داسې وکړل

زه یی له اوږو وښورولم چی........

مور : ولی مجبوره یی دا سه د لیونیانو په شان خبرې کوی هااا

تازه می فکر شو چې هغه ټول یو خیال وو خدایه په ما څه شوی چې داسې شوم یم دا څوم ځل شو چی داسې راباندی کیږې لکه چې لیونې شوم

مور : بیا په کومو سوجونو چې ډوبه شوی هاا ژر دی جامې واغونده کنه

ما هم تور رنګ را واخیسته او وامی غوسته ځکه په خیال کی راته فرید ویلی وو نو ځکه .....

..... فرید .....

دری ورځې تیرې شوی دا درې ورځې لکه دری کاله چې راباندې تیر شوی اوسې زړه می ډیرر تنګ وو له هغه ورځې وروسته چې حمیرا انکار وکړو مور می راته هره ورځ ناسته وی او راته وای فلانې انجلې به درته وغواړو حتا ورځ کې راته څو څو ځله راته دکلی انجونی ښایی خو زما زړه چیرته طاقت کوی چی تر څو آیت واده نه وی کړی او زه دی واده کړم خو که آیت واده شی زه به دا ژوند څنګه کوم هاا زه به د چا په نوم ژوند کوم زه له هغې وروسته چې له آیت نا آمیده شوی یم سل ځل مړ کیږم سل ځل روغیږم مینه هم عجیبه شی دا د آیت یادونو مرګ ته رسولې یم کله نا کله می په زړه کی تیر شی چې خدای مهربانه دی خوو . زه منم چې ربّ می مهربانه دی خوو دا بیخې ناممکن ښکارې چې زه او هغه دی بیا سره ولیدل شوو نه کیږی که زه مړ شم ژوند پاتې شم ځان لیونی کړم چغې نارې شروع کړم که دا جهان په بل مخ هم شی زه او هغه ولا ناممکنه ده
سباته اختر وو لوی اختر او زما سر ببر جامې می زړې بیخې په بد حال وی او بله دا چې د آیت واده هم را نیږدې کیدو باندې وو دا ورځ زما د ژوند تر ټولو بدې ورځې وی ما غوښتل په یو رغتون می ځان ته دنده پیدا کړم خو دی خانه خرابی مینی دا هم رانه وا خیستل کاش په هغه ورځ چې ما آیت لیدله بیخې راغلی نه وای یا یوه ورځ مخکې راغلی وای یا بس خوو دا می خپل وران نصیب وو
د دروازی ټک ټک له خیالونو نرې نه رابهر کړم

پلار : اجازه دی زویه

فرید : اه پلاره دا نو خبره ده چې تاسوو یی کوی ولې رانه اجازه غواړې  هیله کوم پلاره جانه را دننه شه

پلار : سمه ده زویه خو دا ته ولې داسې په بد حال یی ورشه سلمانې ته لږ دی سرو وض سم کړه دا په سه حال یی او.هو دی ته راغلې وم چې تا خو کالې ونه کړل اوس درته یو جوړ تیار درته اخلم نوو، کوم رنګ درته واخلم هاا

فرید : ولا پلار جانه زما کالی شته د هغه بل اختر نو هغه اغوندم هیله کوم ماته یی مه اخلې خه پلار ....

پلار : ولی داسې یی زویه دا حالات دی ما ډیر په ازیت کوی

فرید : پلاره زه بلکل خه یم

پلار : ولا څه به ووایم بچی خپله ښه پوهیږې زه ځم چې د قربانې لپاره مال راوړم ته خو به نه ځې ؟

فرید : نه پلاره تاسو. یی راوړې

له سو خبرو وروسته می پلار کوټه پریښوده او لاړه زه هم له دریو ورځو وروسته له کوټې نه بهر را ووتلم او غوښتل می لږ د کلی ننداره وکړم چې سه حال دی او زما وضیعت هم سه ناسه خه شی ......

...... فرهاد ......

کله چې خبر شوم چې حمیرا د فرید سره د نکاح کولو نه انکار وکړ نو ډیر خواشینې شوم په دی نه چې هغې ولی نکاح ونه تړله بلکې په دی چې زه غلط وم ما فکر کاوه هغه یوازې لاپې ولی خو نه هغه صحیح وه زه غلط نن احمد را روان وو له پاکستان

نه نو ېولې کورنۍ غوښتل ورشی د احمد ښه راغلاست ته بغیر له مانه نه می
غوښتل چې لاړ شم له هغې ورځی وروسته چې فرید د آیت شاه پریښوده نو ډیر بد
ډول راته ځان ملامته ښکاریده بد رقم د وژدان عذاب می درلوده او ډیر یی په ازیت
کولم هر وخت به ناست وم او خپلې ګناهونه می شمیرل خفګان هم په ما باندې حد
کړی وو بهر می هم زړه نه کیده یو رقم زړه نیولی وم کله به می دا سوچ هم له
ځان سره کاوه چې که زه آیت ته ونه رسیږم او هغه پریږدم نو فرید به خپل آیت به
خپل مراد ته ورسیږی او دواړه به سره یوزاې شی او زه که له حمیرا سره واده وکړم
نوو هغه به هم خپل مراد ته ورسیږي نو زه به د دریو انسانانو هیلې پوره کم او
سومره غټ ثواب به می وشی خو بیا له ځان سره وایم چې نه فرهاده مګم له تانه
بل څوک غوره دی که ته د نورو ژوند ژغورې او هیلې یی پوره کوی نو ستا به څه
کیږې هاا ولی ته زړه نه لری،
بس ډوله ورځ زه یم او همدا سوچونه او فکرونه له کور نه هم نه وتلم کورنۍ می
لاړل د آیت دوی کره زه او پلار می په کور کی پاتې وشولو زه ناست وم پلار می
راباندی غږ کړ

پلار : فرهاده!

فرهاد : هاا پلاره سه مو په کار وو

پلار : سه خو می په کار نه دی خوو ګوره یوه ورځ پاتې ده سبا له خیره اختر دی
راځه چ مال غم وخورو نو ..

فرهاد : ښه نو پلاره راځه چې لاړ شوو بیا سباته خو هسی هم نه کیږې

پلار : راځه

لاړو چې قربانې لپاره مال راوړو په هغه لار راهی شوو چې کوم ځای چې مال
خرځیږې مونږ هم پکې ګرځیدو چې یو مناسبه مال پیدا کړو له تقرباً یو ساعت
ګرځیدو وروسته مو یو غوایی خوښ کړ بیه مو ورسره برابره کړه او را روان نو که

کور ته پلار می غوښتل چې غوایی بیچاره به پښو راولې ما ورته وویل چې دا خو چاغ دی او دمزل نه دی خلاصه موټر می ورته ونیوه او کور ته مو راوړو او ومو تاړه زمونږ کور ښه وو غټه انګړ یی درلوده خو د غوایی لپاره مو هو ځای جوړ کړی وو هلته مو وتاړه او مونږ هم خپلو کوټو ته لاړو
ماښام شو او مور می هم.راغله د آیت له کور نه شپه شوه ټکی آرام می نه درلوده ما یو بد عدت پیدا کړی وو د ورځی به ویده او دشپې به می شوګیری کولې پوهیږم ولی داسې وم دا د وروستیو پیښو وروسته داسې شوی یم ....

........حمیرا ........

فکر می وکړ چې ټول لاړل ځکه خاموشی شوه که څو شیبو وروسته می پلار دروازه ډیره په زوره زوره ووهله او له مانه یې غوښتل چی دروازه ورته خلاصه کړم کله چې می خلاصه کړه پلار تو وریسې د کورنې نور غړي هم راننوتل پلار می راته ډیره خبرې وکړی رقم رقم لقبونه یی راکول آخر چی زما چوپتیا یی ولیدله غوښتل یی چې ما ووهی خو الیاس اجازه ورنه کړه ډیر په سختې یی زه ترې خلاصه کړم له هغی ورځې نه درې ورځې تیرې شوی دی دریو ورځو کی حتا یو ځل هم له کوټې نه بهر نه وم وتلی خوو نن می پکې زړه تنګ شوو غوښتل می ووځم او لاړم شم نه پوهیدم چې چیرته خو یوازې ددی کور نه لرې مور ته می وویل چې ګودر ته ځم خو اجازه یی رانه کړه له ډیرو زاریو وروسته یی بل اخیره اجازه راکړه درځو لاړه شم مازدیګر څلور بجې وی چې ووتلم دا چی سباته اختر وو نو په کلي کی هم ډیر شور ما شور وو هر چا د اختر لپاره کالی وچه میوه د قربانی مال اخیستل ډیرې انجونو په لاسونو نکریزی کړی وی دا چې دا اختر زما لپاره تر ټولو بد اختر وو نو بیخې کالی می هم نه وو کړی خو په نورو اخترونو کی به می سم شور جوړ کړی وو چی زه باید د کلی له انجونو نه ښکلی او ښه کالې وا غوندم خو اوس هغه غرور نه وو راپاتی هغه مستې او شوق نه وو را پاتې په هر حال ورسیدم ګودر ته کله چی لاړم د کلي ټولې انجونې هلته وی زما په لیدو سره ټولې حیرانه پاتې

شوی زه اوس هغه حمیرا نه وم چې د چا نظر راته اړین نه اوسي بلکې ډیره راته اړین شوی وو په دی وختونو کې ټولو ماته راکتل لکچی یی کوم فضایی موجود لیدلې وی ما هم سلام واچاوه

حمیرا : السلام علیکم څنګه استې خویندو !
لومړی خو چا ځواب رانه کړ خو بیا هماغه سهیلا چې ماته به تر ټولو بد او ناکاره ښکاریده ځواب راکه داسې وو لکه په ما یی چې زړه سوځیدلې وی

سهیلا : وعلیکم السلام راځه حمیرا په خیر راغلې ولا ډیر وخت بعد می ولیدلې.

حمیرا : مننه خیروسې هو ډیر وخت کیده چې ګودر په لور نه وم راغلې

سهیلا : ښه اوس دی هم ښه وکړل چی راغلې کومه خبره نه ده
د کلی ټولې انجونې وی بغیر له آیت نه بیخې سوال راته پیدا شوی وو او له هغه ورځې وروسته چی ما فرهاد فرید او آیت ټول یو ځای لیدلې وو بیا می آیت نه وه لیدلې ډیر کونچکاوه شوی وم

حمیرا : آیت نه راځې ګودر ته نن ولی نشته هغه خو به هر ورځ راتله نن څنګه نشته ؟

سهیلا : آیا دا ته یی حمیرا دا په تا باندی څه شوی هاا هغه انجلې چې ستا ژوند برباد کړ ستا خوشحالې یی له تانه وشکولې هغه چې ستا خاوند یی له تا واړولو لو ته یی مجبوره کړی چی نه ووایی اوس هم ته د هغې پوښتنه کوی او وایی چې چیرته ده ؟ خو نه پوهیږم ولی خو دا څو ورځی چی ته نه راتلې هغه هم نه راځې کیدایشی چی حیا ورځې ستا د مخ نه بې شرمه انجلې

حمیرا : مګم هغې څه کړی هاا او زما د انکار وجه آیت نه ده او نه هم د هغوی مینه بس زما زړه نه غوښتل چې حتا له فرید سره یوه ثانیه هم تیره کړم بیا هم وایم ما د آیت په وجه انکار نه دی کړی

سهیلا : ولی هغه ته نه وی چی هر لحظه به دی فرید فرید کول هاا دا په تا باندې
څه شوی هاا ته ولی هغه مغروره حمیرا نه وی او اوس د آیت خوا نیسې او وایی
ملامته نه ده په تا باندې چا جادو کړی هاا

له ځان سره می وویل د فرهاد مینی

حمیرا : هغه تیر وخت وو کله می چې د فرید داسې چلند ولیده نو پوهه شوم چی
نه هغې زه خوښیږم او زما هغه دا زما دانکار لامل دی نور څه نه

سهیلا : خو دا فرید بیا څنګه په آیت مئین شوو خبره یی ترې

حمیرا : نه ولا

سهیلا : آیت هم ښه نادیده انجلې مونږ ورته یواځې وویل چی ښکلي دی لایق دی
هغه هم لاړه زمونږ په خبرو سمه لیونې ده په خدای

وفا غږ پورته شوو

وفا : هو ځینې کسان همداسې وی لکه آیت خپل ګوژدن یی سم صحیح وو بیا هم
فرید ته یی سترګې وی توبه څنګه انجلی ده

سهیلا : ته هم ښه وایی

حیرانه وم چی دوی لا څومره بد فکر ولا دی کیدایشې مینه یی نه وی کړی کنه نو
یوی به هم داسې خبرې نه کولې د ټولو نه زیاته ما آیت درک کولې شوه حیرانه دی
ته یم چې ولی هغه په فرید او زه په فرهاد مئینی شوو کوم چاته می ویلی هم
نشوو ځکه ټولو فکر کاوه چې قصد اخلم خو څوک نه وو خبر زمونږ له زړونو نه
ټوله موضوع نن د آیت وه ټولو په خپل وار سره هغه بده معرفې کوله او لعنت به یی
پرې ویل لکه څنګه چې ما فکر کاوه نو هغه شان زه چا نه ملامته کولم ټولو ویل چی
څه کار می کړی دی خبرې روانې وی چې آیت راغله له پخوانه ډیره ډنګره شوی وه

سترګو یی کم رنګه حلقې نیولې وی زنګ یی لکه کچ سپین شوی وو که څه هم دومره تغیر پکی راغلې وو خو بیا هم له ټولو نه ښکلې ښکاریده
له ځان سره می وویل ولی به پرې فرهاد نه وی مئین داسې ښکلا چی لری که دا به انجلې واې او داسې کارونو نه یی ګوژدن خبر شوی واې په هماغه دقیقه یی پریښوده خو آیت د پریښودلو نه وه بې اندازه ښایست الله ورنصیب کړی وو هر چا چیېبه لیده نو خامخا به یی پری زړه بایلوده ځکه فرید خوښه وه دا چې دومره ښکلې ده خوو بد بخته هم ده ځکه هغه څوک چې دا خوښه وی هغه یی په نصیب نه دی.....

...... آیت .......

دروازه وټکیده مور می راته غږ.کړ درځو دروازه خلاصه کړم دروازی خلاصیدو سره می په احمد سترګې مې ولګیدې

آیت : هله مورې راشه وګوره چې څوک راغلی موری !!!!!!

آیت : ستړی مشی احمد لالا په خیر راغلې.

احمد : خیروسی خورمې څنګه یی ؟

مور می چې راغله او احمد یی ولیده په ژړا شوه او ورغاړی وته د مور ژدا سره ماته هم ژړا راغله ځکه ما هم همدا یو ورور درلوده او بې حده راباندی ګران وو
مور می زار او قربان ویل او ژړل یی احمد می له پلار سره هم ستړی مشی وکړل او ټول ډیر خوشحاله وو ځکه زمونږ کورنی بشپړه شوی وه خوو احمد له ټولو سره په مسکا خبرې کولې په ما به یی چی نظر ولکیده نو تندی به یی تروش کړ او حتا له هو او نه څخه بغیر نوری خبرې هم ونه کړلې کیداشې زما له مینی دي هم باخبره وی کنه زه په احمد ډیره ګرانه وم کله یی هم داسې چلند راسره نه وو کړی

* * *

ټول کارونه خلاص شول د ترور کورنۍ مې هم لاړل که څه هم ډیره ستړې شوم نن خو کې کله مې ولیدل چې اوبه نشته ډیره خفه وم خو بیا مې هم مور ته وویل

آیت : مورې اوبه نشته

مور : هو. نشته دا څو ورځې ماهم په ډیرې سختې سره را وړې خو نور یې نشم راوړلې ته یې راوړه

آیت : خو مور ماته پلار ویل ته نور نه ځه ګودر ته

مور : هغه څه خبریږې ځه لورې لاړه ژر او ژر بیرته

راشه او که پلار دې څه ویل بیا ورته وایم چې ما درته ویلی

آیت : سمه ده نوو څنګه چې ته وایې مور

لاړم چې اوبه لاوړم خو وریره راسره دا وه چې هغوی به له ما سره څه رنګه چلند وکړې په هر حال د ګودر لاره مې ونیوله او روانه شوم ګودر ته چې نیږدې شوم نو ځینې خبرې مې د ځان باره کې واریدلې له کوم څه نه مې چې ویره درلوده هماغه سره مخ شوم داسې خبرې مې هم واریدلې چې هغه ګناه بیخی ما کې نه وه خوو الزام وو په هرحال لاړم او سلام مې واچاوه

آیت : السلام علیکم ټولو ته

خو هیڅوک هم نه وو چې ځواب یې راکړې وای ما هم بغیر له دې چې نورې خبرې وکړم دخپل منګۍ په ډکولو لګیا شوم خو تل چې انسان کوم څه کړې وی تر څو چې خلک یې په زخمونو مالګه ونه شیندې نه یې پریږدی

وفا : څنګه یې آیت ژوند په خیر ده آیا سکون خو به دې ورک نه وی هاا د نورو ژوند خرابولو وروسته وژدان دې آرام لرې کنه

حیرانه خو دی ته وم چې ما کله دوی ته ویلی چې واده دی نه کوی خو خلک دی کنه هغه خبره ده چې د ښار دروازه به بنده شی خو د خلکو خوله نه

سهیلا : مونږ وویل چې ښکلی او لایقه دا خو په دی معنا نه ده چی ته پرې مئینه شه

ددی خبرو په اوریدو سره می ستونې ډک شوو خو ما ددوی خبرو ته ځواب نه درلوده که لرم یی هم خو نه یی وایم په سترګو کې می اوښکې ډنډ شوی د کلي هرې یو انجلې په خپل وار سره په ما باندې انتقاد کاوه بغیر له حمیرا نه هغه غلې وه لکه پوهه شوی چې وی زما حالت په خرابیدو دی

حمیرا : آیا تاسو په خبره پوهیږی هاا کله چی زه ترې ګیله نه لرم نو تاسو یی څه کوی هااا

بیا یی ماته مخ را واړوه

حمیرا : آیت منګۍ دی ژر ډک کړه او لاړه شه چی له دی نه زیاته په تکلیف نشی

ما هم سر د هو په ښه وخوځاوه ژر می منګۍ ډک که او په ډک زړه روان شوم ډیره سخته وه یو خوو ونه رسیدم او بل د خلکو پیغورونه ډیره راته سخته وه
کور ته چې څنګه ورسیدم منګۍ می په ځای کیښوده او لاړم کوټې ته او ژړا ته می شروع وکړه سه ساعت وروسته د دروازی د خلاصیدو غږ می تر غوږ شوو فکر می کاوه چې مور می ده ژر می اوښکې پاکې کړې تر څو ما.ونه ګوري خو. مور نه وه احمد وو زما څنګ ته کیناست

احمد : ولی ژاړې خورمې

په دروغجنې مسکا سره می ورته وویل

آیت : ما کله ژړلې لالا تاته همداسې ښکاری

احمد : ماته دروغ مه وایه آیت زه تا پیژنم

آیت : ولی دورغ ووایم نه ژاړم

احمد : همممم زه ستا په درد پوهیږم ،.پوهیږم چی فرهاد دی نه دی خوښ او د پلار په خاطر ورسره واده کوی کنه؟ مانه څه مه پټه وه زه له ټولو خبرو نه خبر یم او له دی پیښې نه خو ډیر وخت تیر شوی نو اوس ولی ژاړی هاااا ؟

آیت : څه نشته لالا ته اندیښنه مه کوه

احمد : ماته هر څه ووایه که زما له وسې کیده نو زه به درسره څه ناڅه مرسته وکړم

آیت : څنګه مرسته لالا؟

احمد : زه به له فرهاد سره خبرې وکړم چې سه وایی کیداشې له تانه تیر شی

آیت : دا څه وایی وروره دا خو ممکن نه ده

احمد : هو ته هم ښه وایی اوس خبره له خبرې تیره ده
بیا هم کوښښ به وکړو .

آیت : هو لالا اوس سه کیدای نشي.

احمد : ښه اوس ووایه چې ولی دی ژړل ؟

آیت : ولا وروره ستړی شوی یم له دی چی خلک پیغور راکوی د کور نه وتلې نشم ټول ماته د یوی بد کارې انجلې په نظر ګوري او دا نظرونه ما خوری

احمد : خیر د خلکو پروا مه کوه د وخت په تیریدو سره به ښه شی او زه بهر ځم کوم څه ته خو به اړتیا نه لری ؟.

آیت : په خیر لاړ شی لالا نه کوم څه می نه دی په کار .
احمد لالا له کوټې ته ووت د هغې خبرو سره می په زړه کې نوي امیدونه پیدا شول په هر حال نن ورځ ډیره سخته راباندې تیره شوه دا چی هره دقیقه به تیریده زما د بد بختیو ورځ به رانږدې کیده زما د واده ورځ خو په هر حال نن ورځ هم راباندې شپه شوه سباته اختر وو خو زما لپاره د عادی ورځو په شان وو هیڅ ورته د پخوا په شان خوښه نه وم ......

*  *  *

نن اختر وو دا چې زما پلار نن د مال پسې تلل نو ډیر شور یی حوړ کړی وو ماته می مور وویل چی جامې می بدلې کړم ماهم بدلې کړی او پلار دوی می مال راوسته او د کور په یو کونج می یی ودراوه دا چ ې مونږ دومره پیسه داره نه وو نو نن مو هم او یو پسه را وستې وو هغه هم زما د پلار لپاره پلار او احمد لاړل چی ځانونه تیار کړی ماهم د اختر دسترخان په تیارولو ځان بخت کړ  پلار دوی می لاړل داختر جمعې ته ما هم لږ لږ کارونه وکړل ځان می لږ هخوا دی خوا کړ هغوی راغلل له جمعې نه او مبارکیانې مو یو بل ته ورکړی دا چې سه کال په اختر کې احمد وو نو زما پلار لپاره ډیر ښه اختر وو هغوي د حلالې کار خلاص که او له هغې وروسته یی په ویشلو اخته شول خلاصه زمونږ کورته هم ځینې خپلوان او دوستان راغلل نن اوله ورځ وه نو دومره خلک نه راتلل بیا په دویمه او دریمه ورځ خلک ډیر راتلل دا چې زه یوه ګوژدنه شوی انجلې وم نو ماته می خواښی نن کالې بنګړې او ځینې نور شیان را استولې وو مور می راته وویل چې دا باید هغه وخت وا غوندم چې خواښې کورنۍ می راشې .
له ځان سره می وویل چې بیا هم راځې خو څه وکړم مجبوری وه

* * *

له ځان سره ناسته وم او فکر می کاوه چې فرید به سه کوی هغی باندې به اختر ځنګه تیر شوی وی آیا هغه به هم زما په شان وو کنه خوشحاله به وو لیونۍ کولم

دی فکرونو مور می راته غږ.کړ چی ورشم

مور : هله آیت راشه چې څوک راغلې

زه هم ژر له کوټې ووتلم تر څو پوهه شم چې آخر څوک ده چې مور می په دومره شوق او.ذوق راته نارې وهی چې کتل می مروا وه اول می د مروا مور سره ستړې مشی وکړل او بیا می کلکه می په غیږه کې ونیوله څکه ډیر وخت وروسته می لیدلې وه

آیت : ستړې مشی چیرته وی هااا زه دی هیره کړې وم

مروا :  خیروسی ګرانې ولی نه دی هیروم تللی وو کابل ته پلار جان صحت می ښه نه وو

د مروا له غیږې نه می ځان جلا کړ او په خفه لهجه می ورته وویل

آیت : ترور جانې کاکا می ښه دی اوس ؟.

ترور : بلکل ښه لورې لږ شان ناروغه وو اوس ښه دی شکر...

آیت : ښه شکر

مروا او مور سره یی لږه کیناستم بیا می مروا ته اشاره وکړه چې راشی زما کوټې ته چې خپلې خبرې  وکړو د هغې دی هم کور وادن وی راجیګه شوه زما کوټې ته راغلو ..

مروا : راځه راځه له تا سره به زه کار لرم

آیت : د څه شې کار ما څه کړې ..

مروا : ته راشه کینه دلته .

آیت : ښه سمه دی دا دی کیناستم

مروا : اوس راته ووایه دا د فرید او ستا موضوع دی ولې له مانه پټه کړی

سورې اسوئلی می وویسته ځکه بیا می تر وخت رایاد شوو هغه وخت می غوښتل هیر کړم خوو سخته.وه او ناممکنه هم

مروا : تاته وایم ولې غلې شوی

آیت : هیله کوم بیا یی مه رایاده وه زړه می درد کوی

مروا : کوم څه شوی آیت ؟

آیت : ته زما او د فرید د مینې له موضوع نه خبره یی خو ددی نه یی خبره چې زه یی فرهاد ته ورکړی یم او فرید د نکاح هم وه خو حمیرا ورته انکار وکړ

... اوو همداسې ټوله کیسه می ورته وکړه

مروا د نورو.په شان نه وه چې پیغور یی راکړی واې برعکس زه یی په غیږ کی ونیولوم او زما اوښکې یی راته پاکولې د هغې په غیږ کی مې ښه ډیر وژړل او زړه می لږ آرامه شوو تر ډیره وخت مروا مونږ کره وه او ډیر خبرې مو سره وکړي بیا هغه لاړه کورته زه هم د کور په کار پخته شوم ......

....... فرید .......

نن د اختر ورځ وه خو ماته نه ښکاریده چې اختر دی وی خو بیا هم لاړم د جمعې په خاطر می جامې بدلې کړی او لاړم چی جمعه وکړم ټولو کیلوالو له یو بل سره مبارکیانې کولې  ما هم له څه ناڅه کلیوالو سره مبارکې وکړه زه لا په مبارکیانو لکیا وم چی په فرهاد می سترګې و لګیدې په زړه کی می فرهاد ته د نفرت ځپې وهلې هغه هم ماته پام شوو راغی او زه یی په غیږه کې ونیولم

فرهاد : اختر دی مبارک شه وروره اطاعت او عبادت دی د الله په در کې قبول شه

فرید : ستا دی هم مبارک شی خیروسی آمین

فرهاد : ولی داسې غلی ولاړ یی هاا څه شوی

له ځان سره می وویل دی احمق ته ګوره لا پوښتنه هم کوی

فرید : کومه خبره نشته فرهاد جانه

فرهاد : ښه شکر هغه د مازدیګر خواته د ګودر غاړې ته راشه غواړم یو څه خبرې درته وکړم سمه ده

فرید : د څه کار ؟.

فرهاد : بیا به خبر شی هتمن راشی خاا

د هم په د هو ښه می سر وخواځاوه او هغه هم روان شوو ما له یو څو نورو کلیوالو سره جوړ په پخیر اخته وم احمد زما خواته راغی چې ومی لیده حیرانه شوم چې دا لا دکومه شوو فکر می کاوه چی سترګې می دوکه شوی خو نه په ریښتیا هم هماغه وه

احمد : ولی راته داسې حیران حیران ګوری

فرید : ته کله راغلی یی ؟

احمد : اول خو اختر دی مبارک شه له مانه دی هم هیر کړ او بله دا چې دا څو ورځې کیږی راغلې یم ولی ته خبر نه یی ؟.

فرید : ستا دی مبارک شی خیروسی ولاکه خبر یم ستا د راتک نه !

احمد : ما هم همدا نن ولیدی چیرته یی له کوره ولی را راوځی

فرید : ولا که ریښتیا را باندې وایی زړه کی نه کیږي

احمد : ښه شکر چې ښه یی ما ویل کوم څه دربانديې
شوی نه وی زه لاړم چې نن خو هسې هم کار ډیر وی

فرید : ښه ورځه په مخه دی ښه

احمد هم لاړه دا چې نن مونږ هم کار د قربانی درلوده خو ما هیڅ کار ونه کړ او ډاریک لاړم خپلې کوټی ته
دا فکرونه می کول چې فرهاد به راته څه وایی ولی می غوارې خپلې خواته او ولی یی نن راسره داسې ښه چلند وکړو آخر ما نه غوارې څه هاا! ؟ .......

......فرهاد ......

د اختر ورځ هم ډیر ستړی تیره شوه ډیر ستومانه وم غوښتل می چې آرام وکړم خو نن می فرید ته ژمنه ورکړی وه چې ګورم به ورسره خو بیا هم خورکۍ می راته چای راوړ چې لږ دا ستړیا می ختمه شی د لوی اختر ډیر ستړی  وی زمونږ لپاره بلخوصوص لومړې ورځ چې نفس می اوځې په هر صورت له چای وروسته می جامې بیا بدلې کړی که څه هم ستړی وم په ځان می شل لعنته ویل چې ولې می سبا ته نه دعوت کاوه په خپلې کړنې داسې خه پوره پښیمانه چې دا می لا څه بد وکړل
د دروازی د ټک ټک آواز می تر غوږ شوو چې دروازه می خلاصه که احمد وو ستړی مشی او مبارکې مو سره وکړه ما هم کوټې ته دعوت کړ روسره کیناستم
د چای ست می ورته وکړو خو ویل یی چې چای ته نه دی راغلې

احمد : ولا فرهاد جانه یو اړینې موضوع لپاره راغلي یم

فرهاد : مهرباني وروره وایه کنه

احمد : ګوره زما خبره به تاته غیري منطق ښکاره شی خو غواړم وی کړم درته

فرهاد : اندیښمن شوم څه شوی ؟

احمد : فرهاد جانه ته هم خبر یی کنه چې آیت نه غواړی درسره اووسې او له مجبوری نه درسره واده کوی او هو ته هغه بیا هم غواړې که تاته مناسبه ښکارې نو له دی اړیکې او خپلوې تیر شه زه درنه د خپلې خور د ژوند خیرات غواړم که درته مناسبه ښکارې ؟

فرهاد : هیله کوم له مانه دومره لویه غوښتنه مه کوه زه دا نشم در کولې

احمد :همممممم خپله ښه پوهیږې نوو

فرهاد : وبښه نووو

احمد : ربّ دی وبښه زه لاړم یواځې می غوښتل همدا موضوع درسره شریکه کړم

فرهاد : چای خو وڅښه همداسې وچې شونډې ځې ؟

احمد : نه مننه زما هم تادې ده ملګري راته په تمه ده

فرهاد : ښه په خیر لاړ شی وروره

احمد : مننه

احمد هم روان شوو او زه یی بیا پریښودم خپلو غمونو سره او حیرانه احمد ته وم چې څنګه ورور دی آیت ښه بخت لری چې داحمد په شان ورور لری که چیرې زما کوم خور داسې وکړی ژوندې می نه پریښوده خو ده ته ګوره له ځان می نن وپوښتل زه ولی له آیت نه نه تیریږم ولی د هغې له دومره کارونو وروسته هم زه ترې نه

تیریږم ولی له دومره کارونو وروسته می په زړه می د آیت مینه نه کمیږی ولې
........ولې ....ولې .....ولې ....ولې؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟
همدا ولې وو چې ما ورته ځواب نه درلوده دا ولې دی چې د انسانانو ژوند ورسره خرابیږې همدا ولې وو چې زه یی له آیت نشوم لرې کولې که زما په ځای بل څوک واي وخته به یی پریښې وه خو زه بدل وم وځو له دی فلسفو نه لاړم هغه ځای چی فرید ته مې د راتلو ویلي وو .....

....... حمیرا .........

د اختر ورځ هم په شور کار او ستړیا باندې تیره شوه لومړۍ خو په کار ځان بوخت کړ خو وروسته له کار می په زړه بیا راباندې زړه تنګی راغله دا وروستې ټولې پیښې راته ټولې مخې مخې نه کیدلې آخر ځان ته هم سوچ وړې وم چې آخر به له ماسره څه کیږي زما مزل به آخر څه وی او زه به نور څه کوم خواشینې وم ځان ته د فرهاد لخوانه می هم کوم مضبط ځواب نه وو تر لاسه.کړی او نه می ترې منفې ځواب په هر حال د نن ورځ هم تیره شوه که څه هم نوم یی د اختر ورځ وو خو هیڅ د اختر ورځ ته ورته نه وه ......

....... فرید .......

له کوټې نه می ووتلم ساعت څلور بجې وی او فرهاد هم غوښتي وم تر څو ورشم او هغه اړینه موضوع چې فرهاد یی ماته وایی پرې پوهه شم لومړۍ می ویل.چې بیخې مه ورځه کوم ښه خبره دی تر اوسه اوریدلې چې اوس به ښه زیرې درکړی خو بیا هم پریکړه می وکړه چی ورشم ځکه کیدایشې اوس می بخت کار وکړې روان شوم هغه ځاي ته چې راته یی ویلې وو ګودر .....ګودر ته لاړم خو هغه نه وو له لږ شان انتظار وروسته فرهاد راغې ...

فرهاد : السلام علیکم ورور وښه چې ناوخته می کړل

فرید : وعلیکم السلام خیر کومه خبره نه ده اوس خو راغلي
فرهاد : څنګه یی ؟

فرید : ښه یم مننه ته څنګه یی ؟.

فرهاد : زه هم ښه یم مننه وروره

خاموشۍ خپره شوه نه ما څه ویل او نه فرهاد حیرانه وم چی دا لا څنګه انسان دی زه یی دلته د درولو لپاره را غوښتي یم زما هم. ورته حوصله ختمه شوه ورته می وویل

فرید : زه دی راغوښتي وم څه دی ویل ؟

فرهاد : اول دی ځان لږ آرامه کړه بیا یی درته وایم

له ځان سره می وویل دا لا څه احمق دی اول می غواړی او بیا چې راشم خبره هم نه کوی حیرانه ورته وم ډیر ساعت ووت خو د خولې یی یوه خبره هم نه وتله همداسې ولاړ وو او د ګودر اوبو ته یی کتل
دا چی خاموشۍ خوره وه ...نو په خاموشۍ کی انسان سه شي کوی سوچ ...زه هغه ورځ په سوچ کی لاړم جی د لومړي ځل لپاره می د آیت مخ ولیده او بیا می هغه ځای ته وکتل چی ما د آیت لاس تاړه ..اوبیا می ورته د مینې اظهار وکړ څومره په هغه ورځ زه خوشحاله وم کنه ګودر زما د مینې پیل وو ډیر مینه له دی ځای سره هم درلوده ما هغې ځمکې سره هم مینه کوله په کومه چی آیت قدمونه اخیستې وو ما هغه آسمان سره هم مینه درلوده چی آیت د هغی نه لاندې کرځیده ما هغو اوبو سره هم مینه درلوده چی آیت په کی لاس واهه ما هغو پټو سره هم مینه درلوده چې آیت په کې کار کړی وو ما د آیت له هر هغه څه سره مینه کوله چی د آیت له لورې وو حتا له درد سره ما ما له درد سره هم مینه کوله دسوچو سره سم می په سترګو کې

ډنډ شوې ژر مې په ګوتو پاکې کړې چی فرهاد پوهه نشې فرهاد ته می وکتل لاهم په سوجونو کې غرق وو له څه ساعت وروسته یی وویل

فرهاد : غوارم یو کار وکړم

فرید : څه ډول کار

فرهاد : ماته دلته بې دلیله نه یی راغوښتي غوارم یو داسې څه درکړم چې ته پرې ډیر خوشحاله او زه پرې ډیر خفه کیږم خو کله کله وایم چې ولی مې خپله خوشحالې ختمه کړم خو بیا وایم ددی کار په وجه به د دریو ژوند ښه شی خو اوس هم نه پوهیږم له تاسو سره ښه او ځان سره ظلم کوم ته ووایه درکړم ؟

فرید : دا څه فلسفې وایی خو سمه خبره وکه زه دی هم اندیښمن کړم دانو څنګه شئ دی

فرهاد : سمه ده خلاصه درته وایم غوارم له آیت تیر شم او تا او آیت واده وکړی خو کله وایم چی نه زما پریکړه غلطه ده زه له ځان سره ظلم کوم

د فرهاد ددی خبرې په آوریدو له خوشحالې راباندې سر تاوو شوو نه پوهیدم څه وکړم یو رقم ورخطایی راباندې راغله او خو می وویل چی خوب دی زه هیڅکله هم دومره خوش بخته نه یم خو نه نن ژوند ماته یو بل فرصت هم راکړ د فرهاد غږ له دی کشکمش را بهر کړم

فرهاد : تاته وایم څه وکړم

فرهاد مخ ته په ګونډو شوم دواړه لاسونه می جوړه کړه او ورته می کړل

فرید : ګوره فرهاد په مابه غټ احسان وکړی هیله کوم زما مینه ماته بیرته ماته راکړه هیله کوم  زه له تانه د خپلې مینې خیرات غوارم ماته زما مینه راته سوأل درته کوم خیر دی

فرهاد زما لاسونه ونیول او په ژړغونې غږ یی وویل

فرهاد : ته ما په داسې سوال کولو سره مه په عذاب کوه زه هسې هم ستا او د آیت ډیر ګناهګار یم بس زه تاته ستا مینه واپس کوم زما نه ده په کار ستا مینه ستا شوه خو وعده راسره وکړه چې کله به یی هم نه خفه کوې سمه ده کنی بیا می حق نه دربښم خاا!
ودریدم او ومی ویل

فرید : زه تاسره ژمنه کوم زه به کله هم آیت نه خفه کوم زه به یی دومره خوشحاله وساتم چی د دنیا هر آرمان به ترې هیر کړم زه به یی د هر آرمان دعا شم

فرهاد : پوهیږم ته لا ما هم د آیت سره زر چنده ډیره مینه کوی ځکه ترې تیر شوم آیت ستا په شان کس ته اړتیا لرې

فرهاد می کلک په غیږ کی ونیوه او بار بار می ترې مننې ادا کولی دومره خوشحاله وم چې په جامو کې نه ځاییدم ډیر خوشحاله وم بې حده خوشحالې راباندې راغلې وه غوښتل می چې چغې ووهم او ټولې دنیا ته ووایم چی ریښتینی مینې سرته رسیږی که څه هو ډیرې وځوریږې لکه زه څومره می وژړل څومره مې صبر وکړ خو آخر هم خپل مقصد ته ورسیدم نن راته ثابته شوه چې د صبر مینه خوږه می ریښتیا هم خوږه وی ما نن د خپل صبر میوه وخوړله واقعاً ډیره خوږه وی
فرهاد څه نورې خبرې راته وکړې خو ما ورته یواځې سر خوځاوه آخر کې یواځې په دې پوهه شوم چې هغه غوښتل آیت دوی کره لاړ شی او هر څه ختم کړې
ما ورته یواځې سر وخواځاوه
هغه هم خدای په امانی واخیسته او لاړ خپل مقصد په لور او زه چې په ځان نه پوهیدم چې څه وکړم یو ځل په ځان وویریدم چې هسې نه له ډیرې خوشحالې مړ شم روان وم نه پوهیدم چیرته خو زړه می هوا کوله روان وم بس روان وم ........

....... آیت .......

لمونځ مې وکړ او د زړه له تله مې دعا وکړه چی یا الله یا فرید زما که یا مې ترې زړګۍ صبر که جای نماز می ټول کړ چی کړپ شوو د دروازې احمد وو راغې کوټې راته یی وویل

احمد : خورکۍ یوه پایله چای که راته دم کړې سر می درد کوی

آیت : سمه ده لالا دادی درته یی دم کوم

لاړم احمد لالا ته می چای دم کړ زه پوهیدم چی د احمد هیل (لاچی) داره چای ډیر خوښیږې د همدې لپاره می ورته یو دوه هیله هم ور اضافه کړ چای دم شوو او احمد لالا ته می ور وړ پایله مې ورته ډکه کړه

غوښتل مې چې له کوټې راووځم او احمد هم آرام وکړې احمد وویل

احمد : صبر خورې مه ځه لږ کار می دی درسره

آیت : څه کار لالا ؟

احمد : ولا آیت زه خو لاړم د فرهاد خواته او موضوع می ورته وویله خو

آیت : خو څه؟!

احمد : هغه له تانه هیڅ صورت کی هم نه تیریږې

آیت : خیر وروره کله کله د انسان بخت کار نه کوی که
هغه هر څومره هم کوښښ وکړې .

احمد : خو ته مه ناهیلې کیږی الله مهربانه خورې

آیت : بیشکه !

له کوټې راووتلم او خپلې بد بختې ته سوچ ورې وم بیا می هم په ځان سل او زر لعنته ویل چې ولې می د فرهاد په خپلولو کی بیړه وکړه په ما باندې څوک هم نه وو ملامته زه د خپل ځان ملامته وم ځکه زه د خپل ځان مجرمه یم او مجرم تل سزا وینې او دا هم زما سزا دی کومه چې اوس وینم تر ماښامه می ځان هخوا دیخوا کړ له ماښام لمانځه وروسته خبره شوم چې فرهاد راغلې ډیر می پرې ځان پوهه نه کړ ځکه نه مې غوښتل د فرهاد مخې یا دی هغه ما وګورې خو زما چې تل څه نه خوښیږې هماغه راسره کیږی نه پوهیږم چې ولې ځکه زه ناسته وم چې فرهاد زما د مور سره یواځې زما ګوټې ته راننوتل

آیت : سترې مشې

فرهاد : خیروسې

مور مې راته اشاره وکړه چې د اختر مبارکې هم ورکړم ما د مور د زړه لپاره وویل

آیت : اختر دې مبارک شه

فرهاد : ستا دې مبارک شې مننه

مور مې له کوټې ووتله زما زړه په درزا شوو ویریدم په هماغه ویره چې فرهاد وویل

فرهاد : غوارم یو څه درته ووایم او په غور سره راته غوږ شه چې څه وایم له ځان سره مې وویل چی دا به لا اوس څه وایی لکچې وژنې می له دې نه نو نور څه دې ته اړین وو بیا راباندې غږ کړ چې زما زړه په سینه کې له ویرې لړزیده

فرهاد : غوږ یی راته ؟

آیت : هو

فرهاد : له نن وروسته ته زما نه بلکې د فرید یی
کیچ شوم چې دا لا څه وایی بیا یی وفرمایل

فرهاد : که څه هم زمونږ نکاح نه ده تړل شوی خو بیا هم که کوم اړیکه وی زما او ستا نو له احتیاط له مخې ته په ما طلاقه یی طلاقه یی طلاقه یی صحیح شوو اوس نو ته او فرید په آرامتیا سره ژوند کوی سمه ده زه لاړم ټولو ته دا خبره کوم او هو ما دا کار صرف ستا او دفرید لپاره کړې دا په دې معنا نه ده چې زه له تا سره مینه نه کوم څه پوره مینه درسره کوم خو غواړم چې ته خوشحاله اوسې

فرهاد ووت او لاړه او زه لکه بې روحه جسد په خپل ځای ناسته وم ډیره حیرانه وم چې دا څه وشول زه خوب وینم که دا ریښتیا دې داڅه وشول د څه وخت لپاره بیخې ګټ شوم تقرباً نیم ساعت خوندې همداسې ګټ ناسته وم بیا مې ور ور حالت ښه شوو خوشحاله شوم خو بارو می نه کیده باید یو څوک وایی چې یی راته ویلې وای چې هو همداسې شوې څنګه چې ما آوریدلې آیا ما صحیح آوریدلې کنه سهوه شوی یم
خدایه څه کیږی چې دا خوب ونه اوسې خدایه څه کیږې چې دا حقیقت ولرې هو دې حقیقت درلوده
ما فکر هم نه وو کړې چې داسې به وشې زما ربّ زما دعا قبوله کړه څومره مننددویه وم د خپل ربَّ نه مې ډیر مهربانه ذات دې زما ربّ دومره خوشحاله وم لکه چاچې ټوله دُنیا زما په غیږ کې راکړې وې له خوشحالې نه نه پوهیدم چی څه وکړم هر څه رانه هیر شول د خلکو پیغورونه بد نامې هر څه له خوشحالې نه
مور مې ګوټی ته راننوته خبرې یی شروع کړی راته خو ماته اړینې نه وی ځکه زه نو خپل مزل ته رسیدلې وم زه نور د هیچا او هیڅ شی پروا نه کوم .

مور : په فرهاد باندې څه شوې وو ستا دپریښودو خبرې یی کولې آیا حقیقت لرې .؟
هاا څه دی ورته ویلې وو هاااا تا خو مونږ په کلې او کور کې وشرمولو ولې هاااا

آیت : موري د څه شي شرم هااا ما خو ورته نه وو ویلي چې ما پریږده خپله خوښه یی ده نو زه څه وکړم.

مور  می یوازې بد بد راوکتل او ووته نن زما د خوشحالي ورځ وه اړینه نه وه چې څوک دی ماته په کوم رقم راګورې را څه فکر کوې ډیره خوشحالې وم
پلار مې ګوټې ته راغې او په پریشانې سره یی  راته یی وویل

پلار : لورې تا خو ماسره وعده کړې وه کنه اوس دی ولې داسې وکړل ؟

آیت : پلاره مګم ما څه کړې دی ؟

پلار :  همدا چې فرهاد ته دی ویلي چې تا پریږدي او.پریښږدلې ته

آیت : په الله قسم پلار جانه ما فرهاد ته نه دی ویلي چې ما خوشې کړه خپله راغلې وو ماته یی وویل چی ته می پریښودی په دی کې نو زما څه ګناه ده تاسو ټول ولی ما ملامته ګڼې

پلار : افسوس زه به اوس تا چاته ورکوم تا خو به رانه هیڅوک هم ونه کړې !!!!!!!!!

له خبرې سره له ګوټې ووت ما ځان ویل چی آیت! نو دوی په تا دومره تنګ دی هاا سترګو کې مې اوښکې ډنډ شوی خو ژر مې پاکې کړې ځکه نن زما د خوشحالي ورځ وه نه د خفګان یواځینې کس چې خوشحاله وو هغه احمد وو ریښتیا هم ښه ورور د دنیا تر ټولو غټ نعمت دی او زما ورور هم ډیر ښه ورور وو ډیر روشن فکره انسان وو که د بل چا ورور وای نو وخته به یی وژلې وای خو زما ورور زما لپاره فرهاد ته لاړ زما کار ته یی غلط کار ونه ویل ځکه انتخاب د هر چا حق وی خو ځینې بیا دی حق ته ګناه وایی خو زما لالا داسې نه وو زه یی ډیره درک کولم کله چې احمد زما خواته راغې او دخوشحاله وو زما لپاره نو ما ترې وپوښتل

آیت : لالا نن درته یو څه وایم

احمد : وایه خورمې

آیت : دا چې ته اوس دومره خوشحاله یی نو په هغه ورځ چې ته راغلی وی ولې دی
ماته بد بد کتل هاا!
احمد په خندا وویل

احمد : هغه ځکه چې ته می ډیره خفه ولیدلې او پوهه شوم چې فرهاد لخوانه خفه یی نو ځکه می هغې ته قهر کیده چې زما نازولې خور یی خفه کړې او ځکه مې تاته بد بد درکتل چې ما ویل زما لیونۍ خور هم د هر چا په خبرو خفه کیږې

آیت : ته څومره ښه یی لالا کاش هر خور ستا په شان ورور ولرې هغوې به هم زما په شان هیځکله هم ماتې نشې مننه لالا

احمد : نه خورې زما نه مننه مه کوه دا ستا حق  وو او ما چې دا دومره درس ویلې هسې می نه دی ویلې خورې زه یو روان شناس یم نو کله چې یو څوک کوښښ کوی بل څوک لیونی کړی زه یی منعه کوم او بیا ته خو مې خور یی ما دا هم لوستلې چې ډیرې انجونې په دی خاطر هم روانی ناروغه کیږی چی څوک حق نه ورکوې او هغوې ورته ځوریږې

آیت : شُکر چې ته مې ورور یی زه ویاړم

احمد : زه بهر ځم کوم څه خو به دې نه وی پکار چې درته یی راوړم ؟

آیت : پخیر لاړ شی لالا نه هیڅ شی مې نه دی پکار

څومره مننَدویه وم له احمد نه زه واقعاً او بختوره وم چې احمد زما ورور دی څومره می چې ورسره مینه درلوده نوره هم څو چنده شوه

شپه شوه خو ماته هیڅ خوب نه راته دې ته سوچ وړې وم چی آیا فرید به خبر وې کنه شپه په رقم تیره شوه سهار چې له خوب نه راجیګه شوم لومړی لمونځ او بیا

مې کارونه بس هسې هم زما بل مصروفیت نه وو بس یوازې به مې د کور کارونه کول کورنۍ لپاره می ناشته تیاره کړه هغو ناشته وکړه ددې لپاره چې نن اوبه نه وې نو دمور په اجازه مې ګودر ته لاړم تر څو اوبه راوړم د سهار لخوا به یوازې تلم ګودر ته نن هم همداسې وو کله چې ګودر ته ورسیدم ګودر کې یوازې هوسې وه

آیت : ستړې مشې هوسی څنګه یی

هوسی : ته ستړې مشې ښه یم ته وایه څنګه یی ژوند دې پخیر ده

آیت : ولا زه هم ښه یم

هوسی : ښه شکر  نن درته یو ښه خبر لرم

آیت : هغه څنګه ؟

هوسی : لالا ته مې په مرګه ځو

وویریدم په ویره می ورته وویل

آیت : خاا نو څوک ده هغه

هوسی چی کله زما ورخطایی او وریره ولیدله نو په خندا شوه له خه ساعت خندا وروسته یی راته کړل

هوسی : نور به نو څوک وی خو تاپسې درځو ما غوښتل چې لړه  دی هم وځوروم خوو ستا حالات بیخې خراب شوو فکر مې وکړ چې هسې نه کوم څه دربانډې وشې بیا به زه په تا څه کوم

د هوسی له دی خبرې سره می ژوره ساه واخیسته او
ومی ویل

آیت :  شکر ولا ډیر ووریدم

هوسی بیا په خندا وویل

هوسی : آرامه اوسه ورندار جانې

آیت : زه له کوم وخت نه ستا ورندار شوم

هوسی : به زودی إن شاء الله خه ته دی اوبه یوسه او زمونږ راتک ته انتظار کوه زه لاړم چې ډیر کارونه لرم الله په امان

آیت : په مخه دې ښه
دی دوو ورځو کې الله تعالی په ما باندې د خوشحالیو ډیره پیزوینه کړی وه له په خوشحالې می منګې ډک کړ او کورته راغلم غوښتل می ځان تیار کړم مور ته می هیڅ هم ونه ویل خپله لاس په کار شوم ټول هغه څه چې لازم وو تیار مې کړل بیا می په ځان هم څه نا څه خوارې وکړه او د فرید د کورنۍ په انتظار کی کیناستم کله کله به شیطان وسوسه راچوله چې که پلار می ونه می بیا خو بیا می ځان ته ډاډګیری ورکاوه چې نه نو ما سره به څوک. واده کوی زه خو یوه پریښودل شوی انجلې یم او زمونږ په کلې کی رواج وو کومه انجلې به چې پریښودل شوه بیا هغه هیچا نه کوله او زما خو فرید وو که هغه نه وای یایی سپین ګیری ته ورکولم یا چرسی او یا کوم داسې چاته چی لیونی وی هغه ته یی ورکوې ځکه هغې انجلې سره هیڅوک هم واده نه کوې .....

......فرهاد ......

کله چې ما د آیت د پریښودلو خبره د آیت پلار ته وکړه نو ډیر راباندې غصه شوو او ویل یی چې ته حق نه لرې زما لور پریږدې خو دا چې ما پریښې وه نور مې له هغو سره بحث ونه کړ او راغلم خپل کور ته مور مې لمانځه لګیا وه کله یی چې زه ولیدم چې پریشانه یم نو پوښتل

مور :  څه شوی زویه ولې داسې خفه یی

فرهاد : مورې

مور : وایه د مور ګرانه

فرهاد : مورې ما آیت پریښودله

مور : دا ته څه وایی ولې هااا

فرهاد : مورې که ما هغې سره واده هم کړې وای زه به هیڅکله هم خوشحاله نه وم

مور :  مګم تا نه ویل چی هغه دی خوښه ده مئین یی وربانديې

فرهاد : هو مورې منم خو ومې نشو کولې چې یو څوک دی زما په خاطر وځوریږې

مور می زما تندې ښکل کړ او وی ویل

مور : ښه دی وکړل زویه که تا هغې ته هرڅومره مینه ورکړی وای بیا هم هغه نه خوشحالیده ځکه د هغې ټول فکر او سوچ به بل چا سره وو ښه کار دی کړې زویه

د مور په غیږ کې می سر کېښوده او سترګې می پټې کړی د مور غیږه له سکون او آرامښت ډکه وی په یاد مې نه دی چې څه وخت هماغسې د مور په غیږه کې ویده شوې وم کله چی راجیک شوم هماغه ځای مې وم خو مور می نه وه په ما باندې یوه نری ګمپله او یو بالښت سر ته کیښودل شوی وو ساعت ته می وکتل د شپې دولس بجې وی راجیک شوم اودس مې وکړ وروسته له لمانځه نه مې دا سوچونه کول چې زه به څه کوم چیرته به ځم څو ورځې بعد تقریباً د اختر په پنځمه بیرته روان شوم د کابل په لور تر څو خپلې زده کړې بشپړې کړم .......

........ فرید ........

کله مې چې په کور کې آیت خبره وکړه چې آیت زما لیاره وغواړې پلار مې وویل پلار : ولې زویه ماغزه دی اوښتې دی مونږ تاته ځنګه داسې انجلې وغواړو چې هغه یی بل چا ته ور کړی قسم دی چې لاس نیولې به مو له کور څه چې له کلی هم وباسي بیا دربانديې څه وشول

فرید : اوهو پلاره ته خو زما خبره واوره

پلار : وایه چې مونږ هم واورو چې اوس ته ښاغلي څه فرمایی

فرید : آیت ورکول شوی انجلې نه ده

پلار : ښه نو دا بله آیت ده وو‌ایه زویه د چا لور ده همدا اوس به ورشو په جرګه باندې

فرید : نه پلار هماغه آیت ده د ګل آغا لور خو...........
ټوله کیسه مې ورته وکړه الف نه تر یا پورې

پلار : همممم ولا زویه زما اوس هم دا ریشته نه ده خوښه

فرید : پلار جانه هیله کوم

پلار : نه کیږی زویه زه څنګه تاته داسې انجلې وغواړم چې هغه د بل چا پریښودل شوې وی

فرید : پلار مګم ستا هیر شول چې زه هم د یوی کورنۍ لخوا پریښودل شوی یا رد شوی ځوان یم ماته نو څوک ښځه راکوی همدا آیت سل فیصده راکوی یو خو زما آیت خوښه ده او بل پلاره هیله کوم نور ما مه ځوروه

مور : ښه وایی دفرید پلاره زما هم همدا انجلۍ بلکل خوښه ده په څه کې چې د فرید خوشحالۍ وی زمونږ هم ده

پلار : ګوره زویه دا چې مور دی ومنله زه یی هم ومنم سمه ده

په خوشحالۍ می وویل

فرید : شکر دا کار هم خلاص شوو

پلار : څه !!!!!!

فرید :  هیڅ نه پلاره ما ویل چی مننه

زما په خبره ټول یو دم په خندا شول ما هم ورو په ځان وخندل چې دا می څه وویل
په خوشحالۍ می ځان خپلې کوټې ته لاړم او له خوشحالۍ نه په کوټه کې لږ تاو راتاو شوم بیخې په ځان نه وم له ځان می دا لنډۍ زمزمه کوله

زما به شی پخلا به شی
یوه شپه لا پاتې ده رسوا به شی

زما د ژوند ملګرې کیږی زما لیلا
اوس به مزې زه مجنون کومه !!!!

دومره خوشحاله وم چې خپله خوشحالۍ می په الفاظو نشم بیانولې دا زما د ژوند تر ټولو ښکلې شیبې وی په مننده یم له فرهاد نه چی دا خوښې یی زما په لمن کې واچولې ډیره زیاته مننده یه وم ترې
شپه مې ټول په ویښه تره کړه خوب قسم کړی وو چې نه درځمه خو شپه می په یورقم باندې تیره کړه سهار چې له خوب نه راجیک شوم اول مې ځان سمبال کړ او بیا لاړم تر څو له کورنۍ سره د سهار چای په کډه وځښم تقریباً  له ډیر وخت

وروسته یو ځل له کورنۍ سره یو ځاې کیناستم دی حالاتو زه له کورنۍ نه ډیر لری کړی وم له چای وروسته می پلار وویل

پلار : ته په کور کې پاتې شه زه مور دی او هوسی ځو چی ستا د زړه ارمان پوره کړو سمه ده

هوسی وویل

هوسی : پلاره ما هم بوځې؟

پلار : هو لورې ته هم زمونږ سره لاړه شه

هوسی : ښه پلاره زه اوس اوبو پسې ځم

پلار : ښه د پلار ګرانې لاړه شه خو ناوخته نکړی
هوسی: په سترګو

هوسی لاړه ګودر ته ما پلار ته وویل

فرید : پلار جانه تاسو لاړ شی زه به په کور پام کوم

پلار: سمه ده

مور می په آشپز خانه کې مصروفه وه ورغلم ورته می کړل

فرید : زما ګرانې مور څه کوی تاسو

مور : وی زویه و دی ویرولم کوم څه دی پکار وو

فرید : هو مور هغه ما دا ویل کنه چې لاړی نو هیله کوم لږ ژر بیرته راشی خاا!

مور می زه له غوږ نه ونیولم او وی ویل

مور : خاااا نو ته ددی لپاره راغلی وی ما ویل لکه چې زوی ته می زه وریاده شوی یم څه ورک شه زه په خپل کار خپله پوهیږم

فرید : خو.مورې

مور : خو مو نه لری څه ورک شه کنی وهم دی

په زوره یی زه له آشپز خانې را بهر کړم کله چې پلار می زما وضیعت ولیده ښه په زوره زوره یی وخندل زما پلار ته هم خدای ورکړه نوو ریشخند یی راباندې شروع کړ ما هم ځان ته خندا راتله نو ماته چا ویل چی مور ته ورشه لیونتوب وو کنه هوسی راغله له ګودر نه ماته یی وویل

هوسی : وروره دلته خو راشه لږ

ورغلم د هوسی خواته چی څه وایی

فرید : څه دی ویل خورې

هوسی : هو ما دا ویل لالا نن چې زه ګودر ته لاړم ما هلته آیت ولیده او خبر مې هم ورکړ چې مونږ درځو خو یو دم بیرته پښیمانه شوم او ویل می ته راته غوصه نشې

فرید : لیونۍ خورې زه نو کله تاته غصه شوی یم تر اوسه چې نن به غصه کیږم ډیر خه کار دی کړی آفرین او آیت څنګه وه

هوسی : خه وه خو هغه اوس څه نا څه ډنګره شوی او سترګو یی هم لږ حلقې کړی بیچارګۍ باندې خو کم غمونه تیر نشوو

فرید : هر څه به سم شی هغه خوشحاله شوه چې مونږ یی مرګۍ ته ورځو

هوسی : لالا ما غوښتل چې لږ یی پعذاب کړم ورته می وویل چې نن مونږ په مرګه ځو انجلې رنګ داسې زیړ شوو چې پوښتنه مه کوم بیخې جام شوه خو چې ورته

می وویل چی تا پسې درځو بیخې خوشحاله شوه

فرید : ښاا اوس ته ځان تیار کړه چې نور به ځې کنه او هو خورې یوه خبره

هوسی : وایه لالا

فرید : ته وخدا چی مور تهووایه چې ځنګه هغوی هو وویل او تسپې یی ورکړې نو ډاریک کور ته راشې زه اتنظار نه شم کولې ډیر

هوسی : دا دومره انتظار چې ودی که خو دا یوه دوه ساعت نور هم انتظار وکه

فرید :  خیر دی خور می نه یی

هوسی :  سمه ده هو ریښتیا زما خو له یاده وتلې وو ماته به شیرنې کې سه راکوی ؟

فرید : ته کوښښ وکه چې مور ژر راولی نور چې هر څه غوارې درکوم یی

هوسی :  سمه ده نوو زه به لږ لږ نوره تیارې شروع کړم

فرید :  ښه سمه ده ورځه خورمې

دولس بجې شوی پلا می د تک غږ وکړ زه هم تر دروازې ورسره لاړم پلار به چې زما دا عجیب غریب حرکاتونه لیدل نو ریشخند به یی راباندې واهه اوس هم همداسې وو هوسی می بیا هم په سل او زر اشارو باندې پوهه کړه هغوی لاړه او زه پاتې شوم انتظار ته ..

* * *

دوه ساعته تیر شول خوو د هغوی درک نه وو دا دوه ساعته راباندې لکه دوه کاله داسې تیر شول هغوی سره موبیل هم نه وو چې زنګ می ور وهلې وای پلار سره می وو خو دومره جرعت می نشوو کولې چې هغې ته زنګ ووهم کله به مې ویل چې ور

وی وهه کله بیرته د خپاڼ پریکړی نه په شاه شوم آخر می سل زړونه سره یو کړل او زنګ مې ور وواهه زما دزنګ سره سم هغو را ننوتل او د پلار موبیل په کور کی وشرنګیده

پلار : راغلو ورخطا

پلار می راغی او زه یی کلک په غیږه کې ونیولم او راته یی وویل

پلار : د ژوند په هر پړاو کې کامیابه اوسی الله دی نوی ژوند بختور کړه زویه مبارک دی شه بچیه ستا آرمان مو پوره کړ او راغلو

فرید : دا احسان به دی زه هیڅکله هم هیر نه کړم پلاره مننه پلاره ما ته تل دعا کوه

پلار : دا احسان نه زویه ستا حق وو
د پلار له غیږی نه جلا شوم مور ته ور غاړې وتم

مور : مبارک دی شه زویه نوی ژوند دی الله له برکتونه ډک کړه الله دی نور له غم نه وساته

مور لاس می ښکل کړ او هغې زما تندې ښکل کړ

هوسی : لالا مبارک دی شه نوی ژوند

هوسی می په تندې ښکل کړه

فرید : ستا دی هم مبارک وی خورې

هوسی : مبارک خو دی وی خو زما شیرینې

فرید : څه غوارې وواېه

هوسی : ته به ماته یو ښکلې شی راکوی نه پوهیږم چې زه اوس له تا نه څه ووغواړم هو ته ماته څومره روپی دی چی په جیب کی دی راکه هله شابه نوو

فرید : تباه شوم زه نه پوهیږم څومره روپی به راسره وی خدای دی وکړې چی یو شل افغانۍ وی

هوسی : که یوه هم وی راکه

جیب ته می لاس کړ او څومره چی راسره وی ورمی کړې
پلار می وخندل زما په کار او هوسی ته یی ووېل

پلار : آفرین لورې خو دا هم ډېرې کمی دی نورې هم ترې واخله

ما ورته په ګیله ووېل

فرید : زه هم ګناه لرم پلاره زما هم لږ مراعت وکړه ته همیش د هوسی خوا نیسې

پلار می هوسی په غیږ کی ونیوله او وی ویل

پلار : چپ شه ګوژدن شوی سړی یی دا خو به ورکوی او پاتې شوه د خوا نیولو خبره دا خو زما وړه هوسی ده دا که هر څومره غټه شی بیا هم دا زما لپاره هماغه شان وړه نانځکه ده پوهه شوی

فرید : وینم وینم د پلار او لور مینه

پلار : راشه لیونیه ته هم زما د زړه سر یی

زما هم د پلار جان د سکون ډکې غیږی ته تشریف ویوړ

مور : الله دی زمونږ کورنۍ تل همداسې خوشحاله ساتې

ټولو په یو غږ سره وویل : آمین .........

....... آیت .......

هغوې راغلل دیره ورخطا وم مور می رانه بار بار پوښتل چې څه خبره ده ما هم تل ځان نانګاره اچاوه وه
د فرید پلار او زما پلار یوې ګوټه کې او مور او هوسی می له مور سره بله کوټه کی زه ورسره کی نه ناستم
احمد هم کور ته راغې وی پوښتل

احمد : ځوک راغلې خورمې

آیت : د فرید کورنۍ

احمد : ریښتیا ؟!

ما هم په خبرو بوخت وو چې هوسی له کوټې راووته او له هماغه ځای یی ویل

هوسی : ته پوهیږی آیت چې لالا می څوم.........
خبره یی پوره لا نه وه چې وی کتل احمد دی بیرته تاو شوه احمد هو پوهه شوو چې انجلې ده نوو راته یی وویل

احمد : زه به له میلمه سره کینم

آیت : هو لالا لاړ شه

احمد لاړه ما کتل چې هوسی د دروازې شاته پټه وه په خندا می ورته وویل

آیت : راووځه لاړه ته هم څومره وویدلې لکه بلا چې دی لیدلی وی

هوسی :  همدا دی ورور دی کنه

آیت : هو همدا دی خو تا څه ویل ماته

هوسی : هو آیت ته خبره یی چې فرید لالا می څومره خوشحاله دی

آیت : نه ولا نه پوهیږم

هوسی راته ټوله کیسه وکړه ډیره یی زه وخندولم ولا فرید هم عجیب عجیب کارونه کړی وو د میلمنو له ګوټه نه لږ شور ما شور راغې ما هوسی لاړو او غوږ مو ورته ونیوه که څه هم غوږ نیول ښه کار نه دی  خو لپاره چې مونږ کونچکاوه وو نو ځکه مو ونیوه

پلار : ولا نه کیږی ستا د زوی له لاسه ما داسې کومه ښه ورځ لیدلې چې اوس به ییووینو

د فرید پلار : ګوره وروره زمونږ اولادونه یو بل خوښه وی ټول کلی او مالت خبر دی زما زوی ستا لور سره مینه کوله ځکه یی داسې کول

پلار می اول خبره نه منله خو فرید پلار ډیر تکړه وه په یو رقم یی رزا کړ زه می د پلار دی کار ته حیرانه وم تر پرونه اندیښمن وو چې له ماسره به څوک واده کوی خوو اوس یی داسې خبرې کولې په هر حال پلار می ورته تسپې ورکړی او د دستمال ورلو نیټه یی هم معلومه کړه د فرید پلار حتا د واده خبره هم ددی میاشتې په آخر کی کوله خوو پلار می ورته وویل چې د احتیاط له مخې فرهاد آیت ته طلاق ورکړې نو مونږ به هم د احتیاط له مخې پنځه میاشتې صبر وکړو
هوسی ماته راغاړی وته او وی ویل

هوسی :مبارک مبارک زما خوږی ورندارې اوس خو می ورنداره شوی کنه

آیت : هو اوس راته ویلې شی

هوسی : اللّٰه په امان زه لاړم چی د ورور خوشحالې ولمانځم

آیت : په خیر لاړه شی......

....... پنځه میاشتی وروسته .......

....... آیت .......

ټاکل شوی وه چې سباته زما او د فرید واده وی زه هم دا یوه هفته په اخیستلو لیګا وم دا چې بازار زمونږ له کلی لرې وو نو په تک او راتک کې به مې بیخې نفس واته پنځه میاشتی تیرې شوی په دی پنځه میاشتو کې فرید حتا یو ځل په غلطې کې هم زما لیدو ته رانغی او سخته ګلمنه ترې وم د مور په لاس به یی ډول ډول شیان راستول خو خپل زما لیدو ته نه راته نه پوهیږم ولې او دځه په وجه دمور غږ مې د خیالونو او فکرونو له نړی څخه بهر کړم

مور : آیت لورې نن دی دنګریزو شپه ده لاړه شه مرسل کره چې لږ میکاپ..میکاپ درته وکړې

آیت : سمه ده مورې لاړم

لاړم د مرسل کورته هغې راته د تل په ځیر ښایسته میکاپ وکړ او را روانه شوم کورته د کور په لاره کی می فرید ولیده په سترګو کې مې اوښکې ډنډ شوی ځکه فرید مې له شپږو میاشتو بعد لیدلې وو شپږومیاشتی هسې په خوله یادیږې خو تیرول یی ډیر سخت وو وای چې زما شهزاده اوس هم هماغه شان ښکلې وو کله کله به زه ویردلم چې څوک یی راته نظره نه کړې زما خواته را روان وو چې کله پوهه شوو چې زه آیت یم نو بیرته یی لاره بدله کړه او په شاه شوو
دومره غصه او دومره خفه شوم چې پوښتنه مه کوه دا نو څنګه چلند دی چې دا

محترم یی ما سره کوی
زه هم کورته ننوتم د لږ لږ خلک زیاتیدل د نګریزو د مراسم لپاره زه لومړۍ کې ډیره غصه او خفه هم وم خو چې په یاد می شول چې سبا می واده دی نو.خوشحاله شوم او ځان سره به مې ویل چې سبا به ورسره حساب او کتاب کوم

د نګریزو شپه ښه په شان اوشوکت سره تیره شوه ټولو په خپل وار سره راته نګریزې په لاس وهلې خلاصه په دې شپه ښه پوره ستړې شوم غوښتل مې چې خوب وکړم لاړم او د سکون او آرامښت نړۍ ته مې پناه ویوړه
سهار چې له خوب نه راجیګه شوم د فرید مور د واده کالې او سامان راوړې وو وروسته له حمام نه لاړم له مور سره مې یوزاې د مرسل دوي کره دهغې دی هم کور ودان وی د هر وخت نه لا ډیر ښایسته میکاپ یی راته وکړو راته یی وویل

مرسل : په خدا چې اوله ناوې یی چې دومره ښایسته ښکاری ما ډیرې ناوی ګانې جوړې کوې خو ستا په شان یوه هم ښکلې نه وه ماشاءالله ډیره ښه ښکارې
بیا یی زما مور ته مخ کړ

مرسل : تروري هیله کوم چې کورته لادې حتماً ورته سپیلنۍ دود کړه او دم یی هم که د خلکو سترګۍ وړې دی

مور : په سترګو لورې اوس راته ووایه څومره شوو ستا د میکاپ قیمت

مرسل :  استغفرالله دا نو څنګه خبره ده تروري آیت زما ملګرې ده او د یوې ملګرې په صفت دومره زه نشم کولې ؟

مور می ډیر ټینګار وکړ خو مرسل ویل پیسې نه اخلم مور مې له مرسل نه بار بار مننه کوله او زما واده ته یی هم دعوت کړی را روانه شوم د کور په طرف نن ورځ می دوه حسه لرل هم خفه وم او هم خوشحاله په هرحال زمونږ کور هم میلمنو ډک

وو زما ملګرې هم راغلې وی خو د ټولو نه مروا ته ډېره خوشحاله وم ځکه هغه زما د غم او خفګان دوارو ملګرې وه خواته می راغله زه یی په غیږ کې ونیولم

مروا : مبارک مبارک اوس راته ووایه د الله ﷻ مهربانې دی ولیدله

آیت : مننه هو بلکل هغه په هر څه قادر دې

مروا وویل: زه لاړم چې له ترور سره مرسته وکړم سمه ده

مازدیګر شو او د رخصتې وخت راغې زه د تل لپاره د خپل کور نه لرې کیدم هغه کور چې ما پکې خاپوړې کړې هغه کور چې ما پکې لومړې قدمونه ایښې وو لاړم د پلار خواته مې پلار راته په سر لاس کش کړ او راته یی وویل

پلار : خوشحاله اوسې لورې

ما ورته هیڅ نشوو ویلې ځکه چې زه سلګیو نیولې وم کله چې پلار زما ژړا ولیده نو زه یی په غیږ کې ونیولم او راته یی وویل

پلار : ژاړه مه لورې خپل کور ته ځې له خیره ژړامه کوه
له پلار وروسته د احمد لالا وار راغې هغې سره مې هم ښه ډیر وژړل خو احمد د تل په شان راته ډاډ را کاوه او دهغه ډاډ داسې وو لکه ملحم دا چې پرې ډیره ګرانه وم هغې هم زما په جدایې کې څو اوښکې توی کړې
بیا مې مور ته ورغلم مور ته می هم وژړل هغې هم ژړل ما هم وار په وار مې له ټولو سره خدای په آمانې واخیسته او د تل لپاره زه له دې کورنه پردې شوم باید انجلې اوسې چې زما حالات درک کړی صرف انجلې کولې شی ما درد احساس کړی
زه یی ګلپوش ته پورته کړم او روان یی کړم  تر ګلپوشه مې پلار زه له متې نیولې وم د خپل نوی کور په لور هلته هم واده جوړ وو ساز او سورد یی زما تر غوږ کیده ورسیدو خپل نوی ټاټوبې ته زه یی له ګلپوش ښکته کړم او زما نوی کور ته یی ننویستم د خلکو په منځ کې ناسته وم ټولو زما مخ ته نڅاوې او خوشحالې کولې

مولا راغی تر څو.زما له خولې هم دهو ځواب یوسی د نکاح مراسم مهر ټاکل هر څه خلاص شول له څه ساعت وروسته یی فرید او راننویسته او زما څنګ ته وو ودراوه د کیک خوړلو مراسم هم ختم شوو فرید زما په څنګ کې ناست وو خو بیخې یی خبرې نه کولې نه پوهیدم ولې زما نه خفه وو که څه بلا بیخې غږ یی هم نه راوت شیبه وروسته زما لخوانه جیګ شوو روان شوو فکر کوم د سړیانو محفل ته ورغی د فرید د کار بیخې زما طبیعت ډکوډ کړ محفل همداسې په شان او شوک سره روان وو حمیرا زما خواته راغله سورمه یی کالې یی په تن کړې وو ښکلې ښکاریده

حمیرا : مبارک دی شه آیت الله دی تل همداسې خوشحاله ساته ژوند دی له برکت ډګ شه

آیت : آمین تاسره

حمیرا : ته خو ماشاءالله سمه ښاپیرۍ ښکار صبر چې نظره نشې ګرانې

حمیرا غږ کړ

حمیرا : هلی! زمونږ ښایسته ناوی ته خو سپلنۍ راوړې هسې کومې وړې سترګې پرې ولړی او نظره یی راته کړې!!!!

زما خواښې راغله سره سپلنیو راته یی دود کړ او بیا یی زه په دواړو مخونو ښکل کړم او دعا ګانې راته د ښه ژوند وکړې
خلاصه شپه شوه خلک هم کم کم خپلو کورونو ته لاړل خو نیژدې خپلوان یی پاتې وو زه یی خپلې کوټې ته بوتلم ډیره ښکلې کوټه یی راته تیاره کړی وه
زه هم ناسته وم پیغلې رانه چاپیره وه خبرې او خندا وی یی کولې شور ما شور یی جوړ کړی وو
څه ساعت وروسته فرید کوټی ته راغې او پیغلو هم ژر کوټه خالې کړه او ووتې فرید بغیر له دی چې ماته ګورې لاړ او د کړکۍ خواته کیناسته لږ لږ یی دی کارونو حیرانولم چې ولې راسره داسې کوی

خاموشي خپره وه نه ما خبرې کولې او نه هغې
له څه ساعت وروسته هغه وویل

فرید : ته خبره یې زه درنه څومره خفه یم

په حیرت سره مې ورته وویل

آیت : مګم ما څه کړي دي

فرید : ستا هغه ورځ په یاده چې زه ستاسو کورته ته درغلې وم او تا ماته منفې ځوابونه راکول زه دي له ژوند ستومانه کړم تاته دي د پلار غیرت اړین وو نه زما دومره ډیره مینه چې له تاسره یې کوم زه دي دومره له ژوند بې زاره کړم چې حتا دا هم راته اړینه نه وه چې زه دي له حمیرا سره واده وکړم خو د هغې د کور ودان وي چې انکار یې وکړ کنه تر اوسه خو به زه مړ وم

آیت : زه مجبوره وم

فرید : پوهیږم خو ماته به دي حداقل دومره ویلي وو چې کوښښ وکړه شاید ستا شم ما تاسره وعده او قسم کړي وو چې تر هغه مې چې خپله کړي نه یې په کراره به نه کینم اوس وګوره د الله مهربانې شوه او ته می خپله شوی

آیت : بښنه غواړم

فرید : بس !...... ما تاته نه وو ویلي چې د خپلو نه نه څوک مننه کوي او ترې بښنه غواړې

په ژړا او ډک ستونې می ورته وویل

آیت : ته به ټول عمر ماسره داسې چلند کوې
کله چې فرید زما ژړا ولیده له ځای نه پورته شوو او زما خواته راغې په څنک کې

مې کیناست او زما زنه یی ونیوله وویل

فرید : ماتاسره ددی لپاره واده نه دی کړې چې وژاړې او دا خبرې می ستا د ځورولو لپاره نه دی کړې ګرانې زه زما آیت زه له تاسره مینه لرم دومره مینه چې حتا ته پوهیږم اندازه یی څومره ده زه به ټول عمر تا خوشحاله ساتم خو ته هم راسره وعده وکړه نوره به نه ژاړې سمه ده

آیت : زه د الله ﷻ شکر ادا کوم چې ستا په شان خاوند یی زما په نصیب کړی دی او زه وعده کوم نه به ژاړم

بیا مې وویل زه له تانه یوه ګیله لرم
فرید : ووایه آورم

آیت : ته ولی زما لیدو ته نه راتلې هاا په دی پنځو میاشتو کې ؟

فرید : دا چې مونږ ته ویل شوی وو فرهاد د احتیاط په خاطر تاته طلاق درکړی وو او واده پنځه میاشتې د احتیاط په خاطر ځنډیلې وو نو زما درتک هم همداسې وو دا چې ته د فرهاد په نکاح کی وی نه می غوښتل تا ووینم ما غوښتل چې ته زما شی بیا دی ووینم

آیت : ښااا ماویل لکچې یا خفه یی یا راته غصه یی
فرید په خندا وویل

فرید : راځه چې لمونځ وکړو او د الله شکر ادا کړو او د خپل راتلونکې ژوند لپاره دعا وکړو
زه لاړم د اودس لپاره می اوبه برابرې کړې او په لمانځه ودریدو لمونځ نه وروسته مو د خپل ژوند لپاره د خوشحالې لپاره او تل یوازې پاتې کیدو لپاره دعاوی وکړې زه د تل لپاره د فرید او فرید زما شوو ..

....... فرید .......

وروسته له دی چې آیت زما شوه فکر می کتوه چې همدې میاشت کې به واده برابریږی خو چې د آیت پلار وینا می واوریده نو خوشحاله هم شوم او دا پریکړه یی واقعاً هم ښه وه ډیر سخت وخت تیرول خو تیر شوو د نګریزو د شپی لپاره آیت تللی وا آرایشګری ته په لاره کې می ولیدله غوښتل مې خواته یی ورشم خوو یو دم مې ځان سره وویل راځه لږ یی پعذاب که خُلاصه ما او آیت د تل لپاره د یو بل شوو ما هم قسم وکړه چې آیت به د تل لپاره خوشحاله ساتم او د نړۍ دهر ډول خفګان نه به یی لرې ساتم .......

....... حمیرا .......

آیت او فرید سره یو ځای شول ما هم ژوند ته تمه پیدا شوه ګواکې زه او فرهاد هم یوازې شوو ډیر سوالونه به می الله ته کول د آیت په واده کی خلکو فکر کاوه زه خفه یم او ډاډګیری به یی راکاوه آیت او فرید د یو بل سره ډیر ښه ښکاریدل مور می راته وویل چې واده ته مه ځه ماویل ولې به نه ځم زه په آیت او فرید کې خپل راتلونکې وینم ......

...... فرهاد .....

دومره مې په درسونو کې ځان مصروفه کړ چې ما غوښتل آیت له ذهن نه وباسم یوه دقیقه به می هم ځان نه اوزګاراوه دا ویره وه هسې نه آیت می په زړه شې کامیابه هم شوم لږ لږ مې آیت له زړه نه لرې شوه
درسونه مې خلاص شول په دی څو میاشتو کې کورته مور به می تل رانه ویل ته انجلې را وښایه هماغه به درته وغواړو خو زما ځواب به تل نه وو کلي ته هم نه وم تللې زما د فراغت ورځ را ورسیده زه په دویمه درجه کامیابه شوی وم اول نمره زمونږ یوه همصنفې وه چې نوم یی فرشته وو فرشته زمونږ د صنف ښکلې انجلې وه

له  ما سره به یی تل د درس مشورې او ځینې نور درسی کارونه کول کله کله به می غوښتل همدې سره واده وکړه نن مې غوښتل ورته ووایم چې واده راسره وکړه ور مخته شوم

فرهاد : مبارک مو شه آغلې

فرشته : ستا دی هم مبارک وی مننه

فرهاد : هغه ما تاسو ته یو خبره کوله

فرشته : مهربانې

ما چې فرشتې ته د خبرو کولو لپاره خوله جوړه وله یو دم مې حمیرا یاد ته راغله د هغې مینه او محبت راته مخی ته ودریده په پریکړه مې پښیمانه شوم فریشتې راباندې غږ کړ

فرشته : تاسو کوم څه ویل ولې غلي شوی

فرهاد : نه ما کوم څه نه ویل

د هغې له خوانه را روان شوم د فراغت له مراسمو وروسته کلې ته ورځیدم کورنۍ راته ډیره خوشحاله شوه مورته می وویل

فرهاد : مورې یوه انجلې می په نظر کې نیولې هغه راته وغواړه

مور : مور دی درنه ځار شي زویه کومه انجلې ته یی راته وښایه زه یی سر له سبا درته وغواړم

فرهاد : حمیرا د یوسف لور هماغه راته وغواړه

مور : هغه خوو ...

فرهاد : خو مو نه لرې مورې زه هماغه غوارم ماته یی ووغواړه

مور مې راسره خبره ومنله او سباته لاړل او حمیرا راته وغوښته هغوی هم حمیرا ماته راکړه کور یی ودان
ما ورته وویل چې واده نیټه معلومه کړې واده نیټه هم معلومه شوه ما او حمیرا واده وکړ هغه ډیره خوشحاله وه تل به یی رانه مننه کوله ددی اړیکې لپاره حمیرا ما ته دومره مینه راکوله چې آیت فکر تو سوچ یی رانه هیر کړه زما حمیرا ډیره خوښه شوه ځکه هغې زما لپاره خپل غرور مات کړی وو هر څه یی پریښې وو زما لپاره ځومره له حمیرا نه مننديه یم چې زما د ژوند ملګرې شوی ډیر شکر ګازره یم له رب نه مې چې ماته یی دومره خوشحالې راکړی حیمرا ماته دومره مینه راکوله چې آیت رانه هیره کړه خو چونکي ما له هغې سره مینه وه بیا هم کله کله به را په زړه شوه خو زما ژوند له حمیرا سره بیخې خوښ او خوشحاله روان دې .........

....... شپږ کاله وروسته ......

....... آیت .......

آیت : مقدس .... مقدس راشه پلار ته دی دا چای یوسه چې ناوخته کیږی روغتون ته به هم ځې مقدس اوو دا انجلې بیا چیرته ورکه ده

کتل مې چې بیا د دروازې سره ولاړه ده

آیت : لورې ما درته نه دې ویلې چې دلته مه دریږه هسې نه څوک دی ځان سره یوسې دا ښار څه کلی نه دی چې هڅوک په چا کار ونه لرې

فرید : زما ګرانې میرمنې تاسو ولې غصه یاست

آیت : فریده ته دا انجلې پوهه که زما نه منې که کوم څوک یی له ځان سره یوسې زه به څه کوم زه خو به مړه ش.....

خبره می لا نه وه پوره چې. فرید وویل

فرید : دا چې ته په خبره نه پوهیږې نو له دی خوارکۍ ولې ګیله کوی زر ځله مې درته ویلی چې دا د مرګ او مړه کیدو خبرې مه کوه

ما خپل غوږونه ونیول

آیت : وبښه ګرانه

فرید : ما دا درته ویلې چې د خپلو نه څوک بښنه نه غواړې

آیت : ښه بیا نه کوم

فرید : آفرین مسیس فرید او پاتې شوه زمونږ د خوږې لورکۍ خبره

مقدس ته یی وکتل او په مینه یی ورته وویل

فرید : زما لورې ته ولې هر وخت دلته دریږی مونږ. وریږو په څه ونه شې

مقدس لاړه د فرید خواته او هغه هم په غیږ کې ونیوله

مقدس : پاپا زما زړه تنک وی ځکه

فرید : وای زما خوږې همدوره

مقدس : پاپا زه نن تاسره ځم روغتون ته

فرید : هلته څه کوې لورې

مقدس : بس زه ځم نی نی

فرید :  ښه داسې کار به وکړو مور به دی هم له مونږ سره لاړه شي

فرید ماته وویل

فرید : ځان تیاره کړه نن به زه تاسو ته د روغتون چکر درکړم

آیت : سمه ده  فرید جی !!!

له واده وروسته فرید مونږ ښار ته راوستو  کله چې کابل ته راغلو فرید په سر کار روغتون کې کار کاوه د وخت په تیردو سره فرید خپل روغتون جوړ کړ  زمونږ لور پیدا شوه مقدس نوم پرې فرید کیښوده ویل یی چې زمونږ مینه مقدسه او پاکه وه دا زمونږ د مینې پاکه نښه ده زمونږ ژوند ډیرر په سکون وو فرید به ماته ډیره مینه راکوله هیڅ غم او خفګان ته به یی نه پریښودم ما ډیرر دردونه تیر کړل هر چا پیغورونه مې واوریدل هو پایله یی ډیره خوږه واه خبر شوو چې حمیرا او فرهاد واده کړې ډیره خوشحاله وم ورته  د صبر میوه خوږه وی ریښتیا هم د صبر میوه خوږه وی ما دا هم زده کړل چې باید هیڅکله هم د ژوند په پریکړو کې پیړه ونه کړو کنه نو ژوند به مو عذاب شي زه ژوند ډیره هوښیاره کړم ډیر څه مې پکې زده کړل زه او فرید آخر هم د یو بل شو هغه زما او زه د هغه شوم زما ژوند ډیر ښکلې شوو له فرید سره دا زما د مینې وفادارۍ کیسه شوه فرید ماته ډیر وفا داره پاتې شوی وو اوس هر وخت دعا کوم د ښه ژوند او ښه راتلونکې لپاره ♡ ....

پای

دا چې تیروم ژوند ډک له خفګانه
همدا زه یم د سکوت هینداره

***__له درد سره مینه ناول پای__***

**لیکواله : دسکوت هینداره**

**نشرکونکی : خواجه زی.**